

Ketabton.com

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پیژندنه:

||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||

د کتاب نوم : تالنده

لیکوال : محمد حجازي

ژباړن : صالح محمد صالح

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د خپرندوی یادونه

په کندهار کې د کتابونو د چاپ لپاره کوم ځانګړی ارګان نه شته، له دې کبله زیات لیکوالان چې غواړي خپل اثار چاپ کړي، نو کوټې، لاهور یا پېښور ته ځي، هلته په زیات لګښت او ستونزو سره خپل کتابونه چاپوي.

نارنج خپرندویه اداره ویاړي چې په لومړي ځل په کندهار کې د کتابونو د چاپ او خپراوي لپاره یو اقدام کوي او په دې سیمه کې د داسې یوه غوره بهیر د پیلېدا ویاړ یې ترلاسه کړ.

موږ به تر خپله وسه کوښښ کوو، خپلې ټولنې، کلتور، ادب او هېواد ته داسې اثار وړاندې کړو، چې وکړای شي تېر زیانونه جبران او د بیارغونې او سمونې لپاره لاره اواره کړي. د ټولنې هیله دا ده چې ملي ګټو ته په پام سره کتابونه وټاکي او بیا یې په ښه معیار سره چاپ کړي.

تالنده هم لومړی کتاب دی، چې د نارنج خپرندویې ټولنې له خوا چاپېږي او هیله ده چې موږ د نورو کتابونو د چاپ او خپراوي لپاره نور هم ګړندي شو.

لوستونکي د دغه ناول لوستلو ته رابولو او دعا کوو، چې پاك خدای دې په هېواد کې د ملي یووالي روحیه غښتلې کړي.

په ګران هېواد کې د بشپړ امن په هیله

نارنج خپرندویه ټولنه

کندهار- 1382ل کال

برېښنالیك:

د ګرځنده ټلیفون شمېره: 3- 070

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پسرلی و، زه لا ځوان وم، د بڼ تر څنګ د چایو او خوږو لوښي برېښېدل، ګلونو مادلن خپرولې او پاڼې یې یوه- یوه پر موږ رالوېدلې.

هغه ورځ سهاره مریم زموږ مېلمنه وه، تر ډېره وخته چې مو څومره زړه کېده ومو ویل، وامو ورېدل او وموخندل. هغه بیا هم راته وړه ښګکارېده، له ماشومتوبه مو په ګډه لوبې کولې، بله مانا یې هم نه درلوده. یو ګل د هغې پر سګر راولوېد او په وېښتو کې یې بند شو، زړه مې ودرزېد، د نرۍ رنګ راته بدل شو. مریم، بله بڼه او بېله مانا خپله کړه. د هغه ژړ ګل له کبله مې په ذهن کې یو بڼ ګلونه راوټوکېدل.

تردې وروسته چې هر وخت ژړ ګلونه وینم، هغه بڼ مې رایادېګږي، هغه شپبه مې په زړه کې د مینې، خواشینۍ او د یادګار څپې راژوندۍ کوي، زه یې نه شم ستایلای. تر هېګواده لیرې بیا هم د وطن په یاد کې یم.

کله چې امریکایي ختیځګپوه "ډاکټر ریچرداتینګ" په واشنګټن کې راسره په پارسي ژبه د تهران او د فیشراباد غره په باره کې خبرې وکړې، تا به ویل چې د مریم په وېښتو کې هغه بند شوی ګل یې په سترګو کې وینم او د یوه عمر خاطرې، مینه، رنځ او خوند د ایران له تاریخ سره یو ځای د ده له خولې اورم.

هغه نه پوهېده، خو ماته د امریکا تر ښایستو ډېر ګران و، ډېر وخت به مې له هغه سره تېراوه. امریکا د عظمت هېګواد دی، خو هغه څه چې زیات زما زړه ورکاږي، د خلکو مینه یې ده. هلته د هر ملت او توکم (نژاد) خلك د مینې په مزي سره ترل شوي دي. پلازمېنه (پایتخت) یې زیاتې ښېګڼې لري. د دغه ښار سمسورتیا او زرغونوالی مې ډېر خوښېګږي. دغه ځای یو ښایسته بڼ دی چې د پراخو ځنګلونو او لویو رودونو تر منځ پروت دی. پر دې دومره ښېګڼو سربېره که د هغه امریکایي سړي خبرې او راشه درشه نه وای، نو دغه سمسور بڼ او مهربانه خلك به بیا هم راباندې غمېدل.

یوه ورځ یې د غرمې ډوډۍ لپاره وبللم، په بازار کې یوځه وګرځېدو، د یوه هوټل په لوحه کې مې یو ارمنی توری ولوست. ودرېدم، ومې ویل:

"ښه نه ده چې ډوډۍ همدلته وخورو؟."

هغه وویل:

"ښه هوټل هم دی، همدلته به تم شو ."

خو ما ونه ویل چې هغه هوټل مې د ارمني توري لپاره ولې وټاکه. دغه هوټل ځکه راته غوره وبرېښېد چې د شرق یا د ایران یاد په کې ولټوم. همداسې هم وو:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له وربه ( دروازه ځارونکي ) څخه مې پوښتنې- ګروېږنې وکړې، راته څرګنده شوه چې د هوټل د خاوند پلار ايرانی و او د ده هم ځو پارسي توري په ياد وو.

مېز ته کښېناستو او په خوړلو مو پيل وکړ. سر مې اوچت کړ: سپينه سپوږمۍ راختلې وه، زموږ پرمخامخ يوه بل مېز ته يې سپينه رڼا راپاشله. مخامخ مېز ته د ناست سړي يوازې شا ښکارېده او بس!

د امريکا ښکلي زيات نوم لري، خو يوې ښکلې هم زما زړه او سترګې ځان ته نه وې ورکاږلي. نه يې ښکلې جامې وې، نه په زړه پورې سينګار او نه هم اوبدل شوې زلفې، ما يوازې دوی ليدلې، چې د بربنډو پرښتو په شان له زينت او سينګار پرته ښکلې وې. دوی نه يوازې په ساختګي سرو او سپينو پوډرونو، رنګارنګ جامو او ځلاندو ګاڼو ځانونه ښکلي او زړه راکښګونکي کړي نه وو، بلکې د سترګو، وروزو، خولې، لاسونو او غاړو هغه حرکتونه يې هم نه لرل، چې هم سړی ځان ته راوبولي، هم وشړي، هم يو سړی په غوسه کړي، هم ورسره سوله وکړي.

ښکلې مېرمنې په عمومي ځايونو کې په نيم نظر د کتونکي سترګې تر ښکار لاندې نيسي، کله چې خپلې ښېګڼې ننداريې ته وړاندې کړي، په ناز او نخرې سره خپل خاوند در ښيي، که شتمنه وي نو د حال په ژبه وايي:

"وګورئ پر څومره قېمتي ګاډي سپره يم "!

خو که نېستمنه وي، د سترګو او وروزو په اشارو ژاړي:

"وګورئ چې زړونه مو زموږ پر حال وسوځي، آيا د سپرېدو لپاره دغه ماته وسيله زما وړ ګڼئ؟."

خو؛ موږ ته نژدې، د هغې ناستې مېرمنې سترګې بل لوري ته نه اوښتې، يوازې يې خپل خاوند ته کتل، لکه يوه مور چې خپل ماشوم ته خواړه ورکوي، يوه ګوله به يې خوړله او د خپل خاوند دوو ګولو ته به يې په ځير سره کتل. د هغه پياله به يې ډکوله او له لوی لوښي څخه به يې ورته خواړه اچول. بيا به يې وچه ډوډۍ ورته ورنژدې کړه، څېرې ته به يې ځير شوه چې خواړه يې خوښ دي که نه؟ خبرې به يې ورسره کولې، له خندا څخه يې اټکل کېده چې خوندورې خبرې کوي. کله ـــ کله به ناڅاپه د هغې ښځې سترګې او صورت د ډېرې غوندې بې حرکته پاتېده. هر ځل به مې چې د هغې پرښتې په څېره کې د غم او حيرانۍ دغه څپه تر سترګو شوه، زړه به مې کترې ـــ کترې توی شو. زما ملګري ډاکټر وويل:

"ګورم چې هغه مېز ستا نظر او فکر غلا کړی."

ومې ويل:

"ځکه چې په هېڅ کې مې هم دومره ښکلا، ساده ګي او مهرباني نه وه ليدلې."

ډاکټر زياته کړه:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"خو که د دې مهربانۍ لامل، د دې مینې او ښکلا کیسه واورې، حیراني به دې سل برابره زیاته شي". د هوټل کارکوونکی راغی او زموږ په خبرو کې راولوېد، ملګري مې پیسې ورکړې، نور نو را اوچت شولو، ځکه نور کسان هم زموږ له کبله ولاړ پاتي وو او په موږ کې يې سترګې ګګنډلې وې. کله چې ډاکټر ورته پيسې شمېرلې، زه يو ځل بيا را تاو شوم او د هغې مېرمنې د خاوند ښېرې ته ځير شوم، چي وګورم د دې ښکار، ښکاري ښنګه زمری دی؟.

سر يې کښته و او ډوډۍ يې خوړله، ما نور نه شوای کولای ورته زيات وګورم، ځکه د هغې مېرمنې په سترګو کې د غوسې یوه ځلا را ښکاره شوه، که مې مخ نه وای را ګرځولای، ښايي ښکنځلې به يې هم راته کولای .

له هوټل څخه را ووتو. ډاکټر وويل:

"د دې مېرمنې او خاوند کيسه دېره په زړه پورې ده، هېڅوك يې هم په ښه توګه نه شي بيانولای ."

ما ور زياته کړه:

"ايا امکان لري چې دغه کيسه د هغوی په خپله ژبه واورم؟"

"ــهو! کېدی شي ."

غلی شوم، ځکه په تمه وم چې دی به راته وايي: "يو دوست مې له دې کورنۍ سره اشنا دی، له هغه څخه به وغواړم چې ستا د ليدوــ کتو تياری وکړي."

خو هېڅ يې هم ونه ويل؛ روان وو، اّخر يوه کتابتون ته ورسېدو، زه يې هم دننه بوتلم.

زه د کتابونو په ننداره بوخت شوم. ډاکټر يو کتاب را ونيوه او راغی. کله چې له کتابتون څخه راووتو، رانيول شوی کتاب يې ماته راکړ او ويې ويل:

"د دې ښځې او خاوند د ژوند کيسه، د هغوی په خپل قلم ليکل شوې ، په ليکنه کې يې دواړو ونډه اخيستې، ويې لوله او ورته حيران شه."

☒☒☒

ما او ډاکټر ژمنه کړې وه، چې هغه شپه به سينما ته هم ځو، خو ما عذر وغوښت، ډاکټر هم راسره ومنله، ځکه ويې ليدل چې د هغه کتاب له لوستلو سره څومره زياته مينه لرم .

که په عادي حالت کې وای، نو هغه کتاب به مې په هوسايۍ سره لوستلای او د نورو کتابونو په شان به مې هېرولای، خو د هغه مهربانه خاوند او مېرمنې له ليدو سره سم، په دې معما باندې پوهېدو ته زيات ناکرار وم، د کتاب توري به مې ژرــ ژر لوستل، اّن ځينې جملې به مې نه لوستلې او راڅخه تېرېدې به، له دې کبله د کتاب لوستلو يو-

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا دوه ساعته وخت ونیو، هغه څه چې له یوه کال او له نن څخه وروسته تاسو ته لیکم، هغه نه هېرېدونکې خاطرې او مطالب دي، چې په هغه کیسه کې راته لاسته راغلل.

دغه کیسه دوې برخې لري، لومړۍ برخه یې لږه مفصله ده چې خاوند لیکلې، پاتې نوره یې چې لږه ده، د مېرمنې له خوا لیکل شوې ده:

## دا هم لومړۍ برخه:

هر څوك له خپل ماشومتوب څخه یوه خاطره لري، هغه لومړنی نقش چې له ماشومتوبه زما په زړه کې پاتې دی، د هغې ورځې یادګار دی چې انۍ (انا) به مې د کورنۍ او ګاونډیو ماشومان را ټولول او د ښکلا سیالي به یې پیلوله .

د کورنۍ پر نورو غړو سربېره به په هغه مجلس کې څو نورې مېرمنې او نارینه هم وو، چې تر هغه ورځ به مو نه وو لیدلي، خو اوس ترې په عذاب وو.

یوه سرې اوږده ږیره درلوده، زه ډېر ترېنه وېرېدم، هغه یوه خوږه ډوډۍ راته ونیوله او راته وې خندل. هغې بېځایه خندا او تورې- اوږدې ږیرې ته ډېر حیران شوم، نه پوهېدم چې هغې خندا او مهربانۍ ته تسلیم شم او که له اوږدې ږیرې څخه ووېرېږم.

نه پوهېدم چې دوی کوم مراسم ترسره کړل او څه یې وویل، خو ناڅاپه ټول ما ته متوجه شول، راته خندل یې، هر چا به په خپل وار پر زنګانه کښېنولم او ښکلولم به یې. په هغه ورځ ونه پوهېدم چې دا د ښکلا سیالي وه او زه ګټونکی شوی یم.

څو ورځې وروسته مې، که څه هم د نورو په وینا ځان ترټولو ماشومانو ښکلی ګاڼه، خو بیا هم په مقصد نه پوهېدم.

خو؛ له بده مرغه هغه ورځ هم را ورسېده چې د هغه مجلس او هغې سیالۍ په مقصد پوه شوم او د ځان په ښایست هم خبر شوم. کاشکې تل د ماشومتوب په ناپوهۍ او ابهام کې پاتېدای، یا هم ناڅاپه د بوډاتوب عقل او پوهه را په برخه کېدای، چې د ناپوهۍ په مانا پوهېدای. افسوس کوم، په ځوانۍ کې ښایست هغه توره ده چې دوه تېره لوري ولري او د لېوني په لاس کې وي.

د هرې ورځې په تېرېدو سره به د ځان ښایست ته ډاډه او مغروره کېدم، که کومه ورځ به مې په دې اړه فکر نه کاوه، نورو به را یادول: خپل انځور به مې په ذوق لرونکو سترګو کې لیده. لیدل به مې د هنداري د عکس په پرتله زیات ښایسته او زړه راکښونکی یم. د ځان په حق کې مې دا د نورو دنده ګڼله، چې ستاینه او مننه مې وکړي او له ټولو مې باج غوښت.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهېدم چې مور و پلار مې د خپلو نورو اولادونو په پرتله له ما سره ډېره مينه کوي، خپلوان او دوستان يې راته کښېنول، نازولم به يې؛ زما د زېږېدنې په ورځ به هم ډېګرې تحفې او د لوبو سامانونه رارسېدل.

په ښوونځي کې د ټولو هلکانو بد اېسېدم، تر خپله وسه يې ځورولم او ويل به يې:

"ته غوړه مال، ځانغوښتونکی او کبرجن يې، موږ درسره لوبې نه کوو."

ښايي دوی به رښتيا ويله، زه پر خپل ښايست ډېر مغرور وم، خو د دوی دغه دښمني د حسادت له مخې هم وه، نو نجونو ولې د هغوی پر خبرو ری نه واهه؟

يوه ورځ يې په ښوونځي کې د نڅا او موسيقۍ پر وخت، هلکان او نجونې دوه کتاره ودرول او ويې ويل چې نن به انتخاب د نجونو وي، هره نجلۍ بايد د نڅا لپاره ځان ته يو هلك وټاکي .

"هلن" چې تر ټولو ښکلې نجلۍ وه راغله او ماته مخامخ ودرېده.

د ټولګي ټولو هلکانو ورسره مينه لرله او زړونه يې له هغې سره نڅا، لوبې او خبرې اترې غوښتې، خو دغه هلکان له خپلو دوو مشرانو ټولګيوالو څخه وېرېدل، له وېرې د هلن خوا ته نه ورنژدې کېدل، زموږ چاره او د غچ اخيستنې وسيله دا وه، هر وخت چې مو زړونو غوښت د هغو دوو رقيبانو شاوخوا راټول شو، دوی به په سوکانو يو او بل سره وهل، تر خولو او پزو به يې وينې راتلې. د دغو دوو رقيبانو د جګړې له کبله به يوازې هلن خواشينې کېده، ژړل به يې. نور به نو ټولو هلکانو خوشحالي کوله او خندل به يې .

يقين مې درلود چې هلن ته به په دغو دوو رقيبانو کې يو ډېر ګران وي، خپله مينه به يې په خوله څکه نه يادوله چې د دوی تر منځ جګړه ونه نښلي. خو کله چې ما ته مخامخ ودرېده او زه يې وټاکلم، پوه شوم چې له بل هېچا سره هم مينه نه لري، ټولو لاسونه وپړکول او خوشحاله شول، نورو ټولګيوالو په کړس ــ کړس او زوروري خندا سره له هغو دوو رقيبانو خپل غچ واخيست.

که څه هم د کم جرئتۍ يا هم ځانغوښتنې له کبله، هېڅوخت هلن ته ورنژدې شوی نه وم او د مينې يا غوړه مالۍ يوه خبره مې هم ورسره نه وه کړې، خو يوازېنۍ نجلۍ چې د ځان د ښکلا په مقابل کې راته وړ وبرېګښېده، همدغه هلن وه.

د نڅا به بهير کې به هلکانو راته سترګه وهله، يا به يې خندل، هغه نعمت ته به يې اشاره کوله، چې زما په برخه شوی و، زما سره دومره تلوسه نه وه، داسې مې احساسول، لکه خپل حق چې رارسېدلی وي، يا به هم دا د دښمنۍ او له هغو دوو زورورو رقيبانو سره د جګړې وېره وه، چې نه يې پرېښودم خوشحاله واوسم. هر ځل به چې هغه دوه تنه رانژدې کېدل، د سر او سترګو په اشارو به يې راته ګواښ کاوه، زړه به مې په درزېدو شو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلن وویل:

"کاشکې مې ته نه ټاکلای."

یوه شوم چې څه وایي، خو ځان مې غلی کړ او ومې پوښتل:

"ولې؟"

"ـ ځکه چې ټولې ښځینې په یوه وجود کې نه سره راغونډېږي، ښایسته کسان بېرندوکي وي، د دې لپاره چې صورت یې خراب نه شي، له جګړې څخه وېرېږي."

ورباندي په غوسه شوم:

"دا څه اپلتې وایې! ما نه پېژنې؟ که وخت یې راشي، وبه ګورې چې په غیرت او مېړانه کې هم کوم کمی نه لرم."

تا به ویل چې ټوله فضا په دې لاپو او باټو ډکه شوه او د حریفانو غوږونو ته ورسېده،د هغوی په سترګو کې تونده غوسه او ګواښونه لیدل کېدل، ولړزېدم.

کله چې نڅا پایته ورسېده، په خولو لوند خیشت وم. ځان مې لیده چې څو دقیقې وروسته به د حریف په دوو ـ درېیو سوکانو پر ځمکه راغورځم او ټول هلکان به راباندې ملنډې وهي. هلن په بېزارۍ سره راڅخه تښتي او په موسکي نظر فاتح حریف ته افرین وایي.

د دې لپاره چې څوك مې ونه ګوري، حاضر به یم چې له هر سوري څخه وتښتم، بیا به ښوونځي ته نه ستنېږم .

خو د تفریح زنګ ووهل شو، پرته له دې چې له نورو سره یو ځای انګړ ته ووځم او له قوي حریف سره مخ شم، بله چاره نه وه. کله ـ کله وېره هم د زړورتیا کار ورکوي: په مېړانه او زړورتیا سره وړاندې لاړم او نېغ مې شاوخوا ته کتل چې د هغو دوو رقیبانو سترګې وګورم او ورته ښه ځیر شم.

تا به ویل چې دوی له یوه کشر سره په جګړه شرمېږي یا هم زما پر وحشیانه نظرونو حیران شوي او وېرېدلي دي .

یو تن یې را څخه تېر شو خو هېڅ یې هم راته ونه ویل. ورپسې شوم او په لوړ آواز مې وویل:

"له هغو توندو نظرونو او سر ښورولو څخه دې مقصد څه و."!

مخ یې ر واړاوه او دومره دروند سوك یې راکړ، که مې پر مخ لګېدلای، پر ځمکه به لوېدم.

زما تر اوسه سوك وهل نه وو زده، خو دغه لوبه مې زیاته لیدلې وه او له فنونو سره یې څه ناڅه اشنا وم. ښایي ما هم کوم فن وکاراوه، یا دا چې د وېرې له وجې ټیټ شوم، ځان مې له سوك څخه بچ کړ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د حريف (فيليپ) لوړوالي او زما د قد لنډوالي هم راسره مرسته وکړه، هغه شپاړس کلن و، خو؛ زه څوارلس کلن. زموږ ترمنځ دوه کاله توپير و، دغه توپير زموږ په قد او قوت کې هم څرګند و.

هغو کسانو چې زموږ ننداره یې کوله، افرینونه راکړل. پر فیلیپ یې وخندل. د هلکانو هڅونو او پوزخند، دواړه لېوني کړل، سره لاس او ګرېوان یې کړلو.

د افرینونو او د دې لپاره چې هلن مې وګوري، څنګه د زمري زوی مې ټاکلی، پر ځان مې هر ډول زخم، درد او رنځ ومانه او پر دښمن مې برید وکړ، فیلیپ په زوره پر پښه په لغته ووهلم، زه راوڅرخېدم، خو په خپل ټول قوت مې ځان له لوېدو وساته، کله چې مې مخ راواړاوه، لکه خوب چې وینم، فیلیپ پرمخې پروت و او راجګېدی نه شو!

لاړم تر لاس مې ونیو چې را اوچت یې کړم او دغه شخړه په مېړانه سره پایته ورسوم، هڅه یې وکړه رااوچت شي، خو کینه پښه یې ژوبله وه او تګ یې نه شوای کولای، ټولو ورسره مرسته وکړه او د ښوونځي د رئیس دفتر ته مو بوت، لکه چې د پښې بجلکه یې بېځایه شوې وه. فیلیپ یې ډاکټر ته ورساوه، هلکانو زه انګړ ته وایستم، له خوښۍ څخه یې چغې وهلې او پورته ــ پورته غورځېدل.

په هغه ساعت کې د حیرانۍ او خوښۍ له کبله ګنګس او مست وم، نه پوهېدم چې څه فکرونه مې په ذهن کې راګرځېدل، وروسته مې چې هر څومره په پر له پسې ډول سوچ کاوه، لا حیرانېدم.

هلکان خو ړانده نه وو، دوی اصلاً ونه لیدل چې فیلیپ د زور یا خطا له کبله په زوره پر ځمکه ولوېد، دا یوازې یوه حیرانوونکې پېښه وه، نه زما مېړانه یا زړورتیا! هلکانو ولې هغه یوازې پرېښود او زه یې په لاسونو اوچت کړم؟

ډېر کلونه وروسته مې سترګې خلاصې شوې او ومې لیدل چې خلك هغه کسان په لاسونو پورته کوي، چې بخت او تقدیر غوره کړي، ګڼې تر هغو زورور حریفان هم شته.

هلکانو هره ورځ دا باور خپلاوه چې زه زورور یم. هغو کسانو هم دا خبره کوله، چې زما بې هنري یې لیدلې وه. هلکانو د مینې، تاریخ جوړونې او هم یې له دې وجې چې یو زورور حریف ته مې ماتې ورکړې وه په خپل خیال او تصور سره داسې کیسې جوړولې او سینګارولې به یې، چې زه به هم په شك کې شوم، کرار ــ کرار باوري شوم چې د رقیب په پرتله زیات زورور یم !

له دې وېرې چې فیلیپ به بیا روغ او بیا به له ما سره په جنګ شي، ځورېدم، ځکه چې شهرت ته به مې هم زیان رسېده. د غوسې او خواشینۍ له کبله مې ستونی له ژړا ډکېده او سترګو ته به مې اوښکې راتلې.

له نېکه مرغه چې فیلیپ راغی، لکه څنګه چې ما تمه درلوده، په سترګو کې یې هغه قهر نه لیدل کېده، ته وا عمومي درواغو پر هغه هم اغېز کړی! د مېړو په دود، خو په حقیقت کې د احتمالي ماتې له وېرې مې وړاندې ګام

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښېښود . لاس مې ورکړ، روغه مو سره وکړه، کله چې د هلن خبره راغله، نو ومې ليدل چې دی يې ډېر مينه وال دی، لکه څنګه چې څوك خپل دوست ته يو ګل ډالۍ کوي، ورته ومې ويل:

"هلن تا ته در سپارم."

ښايي دا ډالۍ به له دې کبله وه چې ځان د فيليپ له دښمنۍ څخه وساتم، خو يوازې دا خبره علت نه شوه کېدی، ځکه د هغه په څېره او حرکاتو کې مې د وېرې کومه نخښه نه ليدله. عمده علت هغه ډاډ و، چې ما پر خپل ښايست درلود، د پهلوانۍ صفت ما ته دومره ځلاند نوم را بخښلی و، چې نجونې به د پتنګانو غوندې را نه تاوېدې؛ ما باور درلود، ما که فيليپ ته يو ګل وړاندې کړ، د ژوندانه د باغ ټول ګلونه به مې په واك کې وي. ما غوښتل پر خپلو ښېګڼو د ځوانمردۍ صفت هم ورزيات او ښکلي لا ځان ته را ماتې کړم.

هغه کړاوونه مو چې ګاللي، هغه که خيالي دي يا رښتيني، هره ذره يې زموږ په نظر د غره غوندې ښکاري! هېڅکله هم نه هېرېږي، خو هغه دردونه مو چې نورو ته ور په برخه کړي، لکه وربځ چې په اسمان کې روانه وي، ټول مو هېر شوي. هغه ورځ مې چې خپل ګل فيليپ ته وړاندې کړ، د هلن په رپېدونکو شونډو او الوتي رنګ هېڅ ونه پوهېدم، چې د کوم پټ درد کيسه يې راته کوله، ومې ويل:

"زه لاړم"

هلن مې د بېحسې مجسمې غوندې پر ځای پرېښوده...

غواړم د ځان په اړه ډېر څه وليکم، څه ظلمونه مې چې کړي پر ټولو اعتراف وکړم او هغه زخمونه مې چې د نورو خلکو پر زړونو کرلي، د قلم په څوکه انځور کړم، چې هغه توپې شوې وينې هم د لوستونکو په سترګو کې منعکسې کړم.

افسوس، چې قاتل نه پوهېږي، پر مقتول څه تېرېږي، ګنې نور خلك به يې نه وژل. قاتل هغه وخت دا درك کولای شي، چې خپله د جلاد تر تېغ لاندې راشي، خو هغه وخت يې بيا هېڅ هم له لاسه پوره نه وي.

که هغه وخت "نن" وای، ما به ځان قرباني کړی وای، خو هلن به مې نه ځوروله، خو څه ګټه لري، اوس راڅخه وخت تېر دی او تېر شوی وخت بېرته نه شو راګرځولای.

کلونه تېر شول، موږ سره ونه ليدل. يوه ورځ مې په يوه ورځپاڼه کې د يوې مېرمنې انځور وليد، چې راته اشنا وبرېښېده. ورځپاڼه مې رانيوله، تر انځور لاندې مې ژر ــ ژر څو کرښې ولوستې، ځرګنده شوه، چې د انځور خاوند يو کتاب ليکلی، موضوع يې د پېغلو نجونو ښځايه او خامې مينې دي. عکس ته ښه ځير شوم، ومې ليدل چې د هلن دی. هغه ناکامه نجلۍ چې تر اوسه زما له ظلمه چغې وهي. ته وا د څو کلنې خوارۍ او هڅو له کبله ليکواله شوې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده، چې وکړای شي او په خپله سینه کې هغه پټه شوې چغه راپورته کړي، چې له ماشومتوبه ې ساتلې ده. تېروتنه مې نه وه کړې، ځکه وروسته وپوهېدم چې د داستان مهم کسان هماغه هلن، فیلیپ او ویلیام (زه) وم.

لکه یو پښېمانه محکوم چې د خپلې ګناه شرحه د قاضي له خولې څخه اوري او هیله کوي دغه شکنجه ژر پایته ورسېږي او د اعدام وخت راشي، ما هم په ورځپاڼه کې هره ورځ هغه لړۍ لوستله او لیدل مې چې زما د ګناه په سبب هلن ته څومره بدمرغۍ او کړاوونه ورپېښ شوي دي. دا د هغه لومړني غم اغېز دی چې د توري پردې په شان مې د هغې پر ژوند اوار کړی، د هغې توري پردې تر شا یې چې هر څه لیدلي، ټول ورته تور، بدرنګه او ځوروونکي ښکاره شوي دي.

لاړم چې زړه او ځان مې د هغې پښو ته وغورځوم.

⊠⊠

ما وبخښئ، که چیرې تکړه لیکوال وای، باید د هلن د برخلیك په اړه مې څه نه لیکلای، ځکه تر دې وړاندې نورې پېښې پرتې دي، چې باید تاسو ته یې ووایم.

هغه وخت چې ما په ورځپاڼه کې هغه لړۍ تعقیبوله او د پښېمانۍ اوښکي مې تویولې، د یوې پېښې په زنځیر کې ټینګ تړل شوی وم، چې د خلاصون قدرت او توان مې نه درلود.

هو! زه باید هغه پېښې تاسو ته ولیکم، چې زه څنګه شی یم او زما د خاطر ساز کومې نغمې غږوي، له کومو ناخوالو یې چغې وهلي او روزګار څه را باندې راوستلي دي. بیا به هغه وخت پوه شئ چې زما په عجیب او پېچلي برخلیك کې هلن څومره ونډه درلوده.

د دې لپاره چې له هلن څخه زما د بېلتون خبره ګونګه پاتې نه شي، نو د ماشومتوب نړۍ ته به سر ورښکاره کړو او د هغه په اړه څه ووایو:

هلن مې له لاسه ورکړه، خو د بېلتون پر درد مې د کبر، غرور او پښېمانۍ خوند ور زیات کړ، دغه خوند ډېر ژر د رقابت او پښېمانۍ په ترخو ولړل شو، که هغې دوې درې ورځې وفا کولای، صبر به مې پایته رسېده او تلم به، بخښنه به مې ترې غوښته، خو ډېر ژر راڅخه نهیلې شوه او له فیلیپ سره مله شوه، ما یې یوازې په لړزانده زړه ننداره وکړه .

په زړه کې مې د حسادت اور بل شو، ټول بدن یې راته وسوځاوه، ناڅاپه له ټولو نجونو بېزاره شوم، که څه هم زما د پهلوانۍ جلال او بېنیازې جذبې پر هغوی جادو کړی و، ټولو هیله درلوده چې زما لېوالې وي، خو څومره چې ما ته را نژدې کېدې، هومره به د هلن ښایسته- خواشینې صورت، آرام او زړه راکښونکې چلند زما سترګو ته درېده، زما زړه به یې ځان ته راکښه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر ځله مې نيت وکړ چې له رقيب سره په شخړه شم او خپل ګل ښېرته ترېنه واخلم، خو وېرېدم، چې بخت به مې بيا ياري راسره ونه کړي، کېدی شي دا ځل حريف د خپلې خطا له کبله پر ځمکه ګوزار نه شي، زه به د پهلوانۍ شهرت له لاسه ورکړم او هلن به ښېرته زما شي. دوست مې تر خپل نوم او شهرت ځار کړ، له دې نه وم خبر، چې د دوست په پيداکولو کې نوم او شهرت ګټل ښه دي.

دا لومړنی زخم و چې زما په زړه کې يې ځای ونيو، خو افسوس چې د زړه زخم نه رغېږي، ځکه هره ورځ نوی نېښ پرې لګېږي.

په ظاهره به مې له هلن سره سوړ چلند کاوه او ځان به مې بې پروا ښوده، خو هر ځل به مې په دې ناوړه چلند زړه او ذهن ځورېده. په کور کې به مې بده وضعه کوله، يا به غلی او خواشينی ناست وم. مور به مې، زما په بدلون انديښنه څرګندوله، زما نبض به يې ليده او هر ګړی به يې زما د حال پوښتنه کوله :

"که څه غواړې، يا کوم غم لرې، ما ته يې ووايه."

کله چې مې پلار پوه شو، کومه ناروغي نه لرم، سور او شين واوښت، په امرانه نظر يې زما مور، زما له مهربانۍ څخه منع کړه.

يوه شپه مې ډېر وژړل، په ژړا کې ويده شوم، په خوب کې مې وليدل چې له فيليپ سره غېږ نيسم او نژدې دی چې پر ځمکه ګوزار شم، يوه غيبي لاس تکيه کړم، هغه لاس د هلن و، غوښتل مې دغه لاس مچ کړم، خو لاړه، په تګ-تګ کې يې وويل:

"ستا سره روغه نه کوم."

کله مې چې سترګې روښې کړې، مور، پلار او ډاکټر مې وليدل چې سر ته مې ناست وو، پوه شوم چې ناروغ يم .

ما ته يې بېځايه دوا راکوله، همدغه ناروغي زما ښه دوا وه، ځکه چې مور به مې د خوب په خونه کې ډېر ساعتونه سر ته ناسته وه، زما لاس به يې په لاس کې نيوه، اوښکې به يې راوڅولې او په مينه ناك اواز به يې ويل:

"مه ښوره، ډېرې خبرې هم مه کوه، هسې نه چې تبه دې نوره هم زياته شي."

يو مازيګر چې د خوب او ويښتابه تر منځ حالت کې وم، لنډې ــ لنډې خبرې مې کولې. مادلن ورېدل چې راته ويل يې:

"ووايه، بيا يې ووايه"...

زما بدن يې راته موږه، ما د يوه کوچني ابشار په شان چې زمزمه کوي، په زګېرويو کې د ځان، هلن او فيليپ په باب داستانونه جوړول، چې پای يې نه درلود.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه مې یاد دي چې ومې ویل:

"هلن ستا په شان ښکلې ده. د هغې ګل پلورونکې نجلۍ په شانه ده، چې زما د پلار پر مېز په هغه تابلو کې انځور شوې ده. هغه تابلو دلته راوړه او ما ته یې مخامخ پر دېوال وځړوه، خو چې پلار مې پوه نه شي. پلار مې تر فیلیپ ډېر زورور دی...

ناروغي مې یو څه اوږده شوه، کله چې روغ شوم، ښوونځی تړل شوی و. په رخصتۍ کې مې مور و پلار زما د ناروغۍ، د فیلیپ او هلن په باب هېڅ خبره ونه کړه، که ما به په دې اړه کومه خبره کوله، دوی به ځانونه ناګاره اچول .

څومره چې به رخصتي پای ته نژدې کېده، زما اندېښنه په زیاتېده. کله به له دې کبله ځورېدم، چې بیا به ښوونځي ته ځم، هلن او فیلیپ به ګورم، ډېر به مې افسوس کاوه چې ولې مې درملنه وشوه؟

څو ځلې مې هڅه وکړه چې مور ته مې ورشم، له لاسه یې ونیسم، زارۍ ورته وکړم چې ما دومره ډېرو خواشینیو ته پرې نه ږدي، داسي کار دې وکړي چې د هلن او فیلیپ د لیدلو له کبله ونه ځورېږم .

یادېږي مې چې مور به مې په ماشومتوب کې د بېرندوکو (وېرېدونکو) ماشومانو کیسې کولې، خندل به یې ورباندې. له دې کبله به ما هم شکایت نه کاوه، د زړه د غوښتنې خلاف به مې سینه ډبوله، خپل سوك به مې مور ته ورښوده او ویل به مې:

"په خدای! که په ښوونځي کې مې څوك وځوروي، خوله به یې ور ماته کړم."

خو ارمان چې زړه مې غوښتل مور مې پوه شي، چې هغه ټولې خبرې دروغ دي. له نېکه مرغه چې پوهېدله، ځکه، کله چې رخصتي پایته ورسېده، زه یې بل ښوونځي ته بوتلم او هلته یې شامل کړم، نه هغې وویل چې ولې، نه ما هم په دې اړه پوښتنه وکړه.

د هلن او فیلیپ د لیدو وېرې او تلوسې مې په زړه کې یو نرم سوز را پیدا کړ، چې تر اوسه نه دی غلی شوی.

* * *

پلار مې انجنیر و، په خپل فن کې یې ځانګړی شهرت درلود، خو د صفت خاوند که د خپلو افکارو او هنر لېوال وي، بې له شکه چې له مادي لاسته راوړنو څخه بې برخې پاتېږي. کله چې به مې پلار، له دسترخوانه پاڅېده او د کار خونې ته روانېده، مور، خاله او عمه به مې چې په میاشت کې یو وار زموږ مېلمنې وې، خبرو ته کښېناستلې، ډېر به مې اورېدل چې زما د پلار د کار او ذوق ستاینه به یې کوله، خو د هغه د کوټه بخت له کبله به یې افسوس کاوه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپاړس کلن وم چې پلار مې د اخرت په سفر لاړ، خو زه يې بو نه تلم. د هغه تر مړينې وروسته مې مور د دې لپاره چې په ژوند کې د تنګسې او نېستۍ احساس ونه کړم، د کور په وضعه کې بدلون رانه وست، بلکې تر حد زياته مهربانه شوه. هر څه چې به مې ترې غوښتل، راته تيارول به يې. ما د پلار پرځاى په کور کې مشرتوب کاوه :

د هغې ګل پلورونکې تابلو مې خپلې خونې ته يووړه او خپل کټ ته مې پر مخامخ دېوال وځړوله، د يوې بربنډې مېرمنې هغه مجسمه مې چې، د پلار په خونه کې مې پر مېز پرته وه، د خپلې کوټې پر مېز کښېښوده.

هغه خوند چې د ښکلو شيانو له کبله رارسېده، زما د پلار مړينه يې لامل وه. ټولو دوستانو او اشنايانو به د هغه د مړينې له کبله خواشيني ښکاروله. هر چا که به هغه دنګه ونه، درنه څېره، هغه تور او سپين وېښتان او باادبه چلند يو ځل ليده، نو مينه به يې ورباندې پيدا شوه. دومره ښه جامه به يې اغوستله، چې خلکو به د درزي د دکان پته ځنې اخيسته. هغه د رضايت او خوښۍ د څرګندونې لپاره يو نرۍ موسکا درلوده، چې تر زړو مننو او مهربانيو ښکلې وه. کله چې به خپه و، هېڅ يې هم نه ويل، سر به يې کښته نيولی و. هر وخت يې مناسبه خبره او کاته درلود، تا به ويل له پخوا څخه يې تيار کړي. د هغه لوړ غږ او غالمغال مې تر اوسه نه دی اورېدلی، نه مې يادېږي چې هغه دې زما له مور سره کومه جګړه کړې وي.

د پلار تر مړينې يو کال وروسته، د دې لپاره چې د کتابتون کتابونه مې ښه په واك کې وي، د هغه د کار مېز ته به کښېناستلم، کله چې به مې مور ليدلم، يوه شېبه به راته ولاړه وه، يا به راته مخامخه کښېناسته او که به کوم کتاب زما په لاس کې و، د هغه له لوړې برخې به يې زما ننداره کوله، زما درس ويلو ته به ځير وه. پوهېدم چې په ما کې، زما پلار لټوي. ځکه هره ورځ به مې څېره پلار ته ورته کېده. سره له دې چې د اندام په نارکۍ، دنګه ونه او د څېرې په کرښو کې پلار ته ورته وم، د هرې ورځې په تېرېدو سره مې حرکات هم د هغه غوندې کېدل.

يوه ورځ چې ښاغلی توماس له خپلې لور مادلن سره زموږ کره راغی، زما مور ته يې وويل:

"که د ويليام (ياني زما) پر سر، که لږ سپين پوډر وپاشئ کټ مټ به د خپل پلار غوندې شي."

مور مې سوړ اسوېلی وکېښ، له ترخې موسکا سره يې وويل:

"پر خدای (⊠)ګرانه يم، که خاوند يې راڅخه واخيست، ويليام يې راکړ، د خپل پلار په شان ښه او زړه سواندی دی، کټ مګټ د هغه غوندې پر ښکلا مين دی، خو افسوس"...

د کينې يو غبار يې پر څېره خپور شو، چې د صورت ګل يې ور مړاوی کړ .

پرېشانه شوم، ومې ويل:

"ووايه مورې! ولې افسوس؟ زه به هره ستونزه اواره کړم."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د مور او توماس ( د مادلن د پلار) تر منځ د سترګو ځانګړي نظرونه وغزېدل، خو چا زما د پوښتنې ځواب رانه کړ.

توماس مې پېژانده، څو ځلې زموږ کره راغلی و او زما د پلا ر څو انځورونه او نور ځينې نور هنري کارونه يې پلورلي وو. تود او خوږ غږېده، خوږې کيسې ورسره زياتې وې .

پلار به مې ويل :

"د ده په شان مې بل هنرمند نه دی ليدلی، چې د هنر په پېژندنه کې دې دومره لاسبری وي."

زما د پلار تر مړينې وروسته زموږ کره نه و راغلی، دا په خپله په زبات رسوله، چې زموږ د کورنۍ دوست نه دی. بلکې د کومې تابلو يا بل قيمتي څيز د رانيولو لپاره راغلی دی.

ما ګومان وکړ د مور سره ساه به مې کېدی شي، له دې کبله وه، چې نه شي کولای له توماس څخه نوي څيزونه رانيسي او زموږ د ښکلا په ګنجينه کې زياتونه وکړي، اوس چې ښايي توماس نهيلی ستون شي، خواشينې ده.

ومې ويل:

"مور جانې! په کور کې دومره ډېر هنري اثار لرو، ګومان کوم نورو اثارو ته هېڅ ضرورت نه لرو ."

سر يې کښته واچاوه او هېڅ يې هم ونه ويل، توماس پر مېز باندې خپلې ګوتې وخوځولې، مادلن په يوه ځغلنده نظر، زما خاطر له شوق او حسرت څخه ډك كړ. شوق مې له دې کبله و، چې تر دې مهاله مې دومره ښکلې سترګې نه وې ليدلې او حسرت مې له دې کبله، چې هغه دوې زړه راکښونکې سترګې په هغسې ښکلي او نازنين صورت کې نه وې ځای شوې!

توماس وويل:

"زما هغه تابلو هېره ده، بايد يو ځل بيا يې وګورم."

مور مې د پلار د کار خونې ته روانه شوه، موږ هم ورپسې شوو، کله چې ننوتو، مادلن او پلار يې (توماس) د خونې پر شمالي ديوال د راځوړندې تابلو ته په ننداره بوخت شول، مادلن د هغې تابلو په ليدو سره، لکه له خوبه چې راويښه شوې وي، له هغه سرېښت او چوپتيا څخه رابهر شوه. دوه ــ درې وارې وړاندې وروسته شوه، په شوق او لېوالتيا سره يې وويل:

"دغه تابلو د "الفرد" نومي انځورګر کار دی، دی لکه يو فاتح چې شاړه ځمکه په زور سره ابادوي، لکه يو پوه ناصح چې په جادويي خبرو د يوه زړه دوزخ په جنت بدلوي، دغه انځورګر هم له هرې کنډوالې څخه ګنج راباسي او هر مړه زړه ته ساه وربخښي. په يوه انځور کې يوه دنيا ځايوي، ياني په يوه تابلو کې خپل نندارچي له هر ليدو وړ څيز

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښخه مړوي. که غور شئ: د دغه شپونکي له شپېلۍ ښخه، د ټولې نړۍ د مینې کیسه اورئ، د دنیا موخه معنویت په کې وینئ، چې د اسمان د وربښمین شال له شا ښخه دغه تابلو تاسې ځان ته را کاږي، ته وا ونو وزرونه شنه کړي او غواړي والوزي، ته وا سیندونه له خوښۍ ښخه رېږدي.

د دغه هنرمند په سترګو، جماد او نبات هر څه ساه او اروا لري، په دې تابلو کې ټول ځای شوي توکي، د یوې سندرې سندرغاړي دي، د مینې او ښکلا د سندرې؛ د دغه شپانه مهربانه زړه او سوځنده مینه د هغه له څېرې ښخه ښرګندېږي؛ د پسونو همدردي او خواخوږي یې، د هغو په سترګو کې ښکاري، د وږمو همغږي د پاشلو وربځو او د نڅاګرو پاڼو په شور کې اورئ، ته وا دغه شپونکی، ځمکه، اسمان، ونه، اوبه او پسونه ټول د یوه وجود نه بېلېدونکي غړي وي. د دوی تر منځ داسې حد او پوله نه ښکاري، چې دوی سره بېل کړي، ټول سره تړلي او همراز دي.

واه! لکه ښنګه چې دغه انځورګر موږ ته راښيي، نړۍ ښومره ښايسته او د ژوند لپاره مناسب ځای دی. ښکلا، ښه والی او نېکمرغي، د یوه تږي مسافر ستونې ته داسې ښڅوي، لکه رڼې اوبه. دا انځور نه، بلکې ژوند بخښونکی ساز او خبرې دي." ...

مادلن خبرې کولې، خو ما لیدل چې د انځور تابلو لویه شوه او هغه یې په ځان کې ورکه کړه، د طبیعت څه ښکلاوې او جمال چې و، پر هغې خپور شو او قد یې دومره دنګ شو چې تا به ویل د ناز ونه ده. هغې خبرې کولې خو ما ته په غوږ کې د موسیقۍ پاروونکې نغمه راتله، داسې ښکارېدله لکه هغه شپونکی، پسونه او دښته چې د خپلو زړونو له خبرو ما ته سندرې جوړوي، تر اوسه مې د یوې نجلۍ له خولې هم دومره ښکلی اواز نه و اورېدلی.

یوه ناوړه غږ دغه عیش او حالت خراب کړ او زه یې په خود کړم: توماس خپلې لور (مادلن) ته غوسه وکړه چې ولې دومره ډېرې خبرې کوې:

"الفرد، ښه انځورګر دی، دغه انځو یې هغه وخت کړی. چې لا ځوان و. د انځورګرۍ هنر ښه او بد لري، که دغه انځور یې له بې هنرو او خرابو ښخه نه وي، منځنی کار یې دی. ما دغه تابلو په دوه سوه او پنځوسو ډالرو رانیولې وه، د لسو ډالرو په ګټه مې د ویلیام پر ارواښاد پلار وپلورله. اوس یې هم په هماغه بیه راتیسم."

مور لاسونه سره وموږل او له ځان سره یې وویل:

"دوه سوه او شپېته ډالره"!

په حیرانتیا او خپګان سره مې ترې پوښتنه وکړه:

"غواړې دغه تابلو وپلورې؟."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"افسوس چې بله چاره نه لرو."

په غوسه شوم او زیاته مې کړه:

"زه سر له سبا نه ښوونځي ته نه ځم، کار کوم"...

خو توماس تم نه شو، سملاسي یې تابلو له دېوال څخه کښته کړه.

وامې ورېدل چې تابلو په خوشحالۍ سره ویل :

"زما د مادلن سترګې خوښېږي، چې زما ښکلاوې وګوري، نه ستا ړندې سترګې."...

☒☒☒

پلار و لور، په خوښۍ سره تابلو یووړه، زه خپلې خونې ته لاړم، لکه یو صندوق چې له هرې خوا یې ګوزارونه لیدلي وي، ټول اندامونه او مغزونه مې مات شوي او کوټل شوي وو.

ډېر حیران وم، چې ولې د ژوند د ستونزو له کبله د کور د سامانونو پلورلو ته اړ شوي یو، وېرېدمه هم، ځکه اول ځل و، چې د محتاجۍ بلا مې ځان ته مخامخه لیده. ناڅاپه مې د مور برخلیك د یوه اورني سیخ غوندې په زړه کې ژوندی شو، هغه مور چې زما د پلار تر مړینې وروسته یې تر دې ځایه د ژوند بار په اوږو وړی و او اوس د مجبورۍ له کبله په زنګنو شوې وه.

زما له ضمیر څخه چغه پورته شوه چې ولې دې په دې مورد کې یو ځل هم سوچ ونه کړ، د حیوان غوندې بې پروا او بېفکره وې!

له سوځوونکو غوسو او غمونکو سوچونو سره مې یو ځای د مادلن د خبرو نغمې په غوږ کې ازانګې خپرولې: هغه نغمه چې د اسمان له سریندې څخه مې غوښتله، هغه وروستی ټکی مې هم موندلی و، چې په ښکلا کې مې لټاوه. یوه شېبه به ځان راته د مادلن مینه وال او مین وبرېښېد، خو لا به مې د زړه پر اور اوبه نه وې پاشلې، چې د خوښۍ چینه به مې د افسوس او حسرت په ایرو ونړېده :

افسوس به مې کاوه چې هغه نازك زړه، هغه ځواکمن او لطیف ذوق، هغه بېساري پوهه او هغه مینه زېږوونکې سترګې ولې په یوه ناوړه اندام کې ځای شوې دي؟

چغې به مې کړې:

"ای خدایه! په قهرېږې خو نه، که دغه لطیفه اروا او ښایسته جسم سره بېل کړې؟ د صورت جمال یوه ته ورکړې، د اروا کمال بل ته.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دغه دواړه یوه انسان ته ورکړې، کېدی شي په هغه کې ستا د لویوالي پرستش وکړو؟."

☒☒☒

د ماښام زنګ ووهل شو، له پرېشانو خیالونو وتښتېدم، ډوډۍ ته راکښته شوم، خو هغه خیالونه تر ما مخکې راغلي وو او زما مخې ته ناست وو. که مې غوښتل کومه خبره وکړم، د خیال په څرخ کې به تاوېدله او ژبې ته به مې نه راتله. مور مې هم غلې وه، مور دواړو سرونه کښته نیولي وو، چې د یو بل مخ ته ونه ګورو.

اخر مې مور سر رااوچت کړ او ویې ویل:

"ولې دومره سوچونه کوې"!

غږ یې دومره زیات بدل شوی و، چې زه ورته ډېر حیران او ځیر شوم، ومې لیدل چې سترګو او قوارې یې هم زیات بدلون موندلی. د هغې خلاصې تندې او مورنۍ خندا تر شا یې هڅه کوله، د غم او وېرې دېو زما له نظره په بند کې پټ وساتي.

ومې ویل:

"په دې موده کې دې ولې په خپلو غمونو درشریك نه کړم، ولې دې د ژوند له ستونزو ناخبره ساتلم؟."

هیڅ ځواب یې را نه کړ، یو ځل بیا دواړه غلي شولو. ماښام مهال لاړه او ما ته یې یوه پیاله قهوه راوړله .

ویې ویل:

"که وتوانېدې، نن شپه کتاب مه لوله، خبرې به وکړو."

ومې ویل:

"په دې شرط چې ما د مشورې وړ او د خپل راز محرم وګڼې."

" _دا چې تر اوسه مې د ژوند په ستونزو کې نه یې را ګډ کړی، دا مانا نه لري، چې ته د همفکرۍ وړتیا نه لرې. بلکې ما نه غوښتل له ښوونځي او درسونو څخه دې فکر بلې خوا ته واوړي.

تر اوسه مې هر څه زغملي او دغه دروند بار مې یوازې ولېږداوه، خو له نن شپې اړ یمه، له تا سره یو تریخ او وېروونکی حقیقت شریك کړم، د ژوندانه ور دې پر مخ پرانیزم، ستا څخه هم تمه لرم چې له هېڅ سختۍ او ستونزې ونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وېرېږي او د نارينه غونډي د ژوند د جګړې لپاره تياری ونيسې. که څه هم ما غوښتل د هغې تابلو له پلورنې بېخبره پاتې شې، ځکه زړه مې نه غوښتل دومره ژر دې دغې صحنې ته را وکاږم... خو ....

په سترګو کې يې اوښکې ډنډ او په ستوني کې يې ژړا راغوټه شوه، د دې لپاره چې ځان غلی کړي، اوچته شوه او ما ته يې يوه منډه راوړله. ما هم کرار ــ کرار ځان، د منې په سپينولو بوخت کړ، هغه له خپګان څخه بهر شوه، راغله او ما ته نژدې کښېناستله، تر لږ ځنډ وروسته يې وويل:

"ګرانه زويه! ستا د پلار غونډي مې بل خواريکښ او لايق کس نه و ليدلی، خو هغه يو عيب درلود، چې دغه ټول غوره صفات به يې اغېزمنول، هغه عيب يې له قمار سره مينه وه."

له ځايه لږ اوچت شوم او چغې مې کړې:

"زما پلار او قمار"!

په حسرت سره يې سر وښوراوه او ويې ويل:

"هو! قمار، خو هغه قمار نه چې په ورقو(قطعو) يې کوي، د هغه قمار تازه کارونه وو، د شرکت بازۍ قمار، کله چې به يې د تېر وخت د ماتې سمونه کوله او څه پيسې به لاسته ورغلې، هغه اهريمن او تور شيطان چې دنده يې زموږ د کور ورانول وو، نوي فکرونه ورکول، تر هغه وخته يې چې په دغه فکرونه نه عملي کول، کرارېده به نه. هغه ستا پلار برباد کړ.

که کومه ورځ دې غوښتل او وخت دې درلود، کولای شې د کارخانې هغه اسناد چې په الماری کې دي، ولولې او زموږ د ننني نېستۍ او فقر له سببه خبر شې.

که ستا پلار دغه عيب نه لرلای، يا د هغه په وينا: که بخت ورسره ياري کولای، ما به نن نه غوښتل چې ستا ساده زړه په دې ځوروونکو رازونو وځوروم.

خو خدای (ﷻ) دې وکړي د دې خبرتياوو له کبله کومه اشتباه ونه کړې او په خپل خيال کې دې پلار ګناهکاره ونه ګڼې: که نورو ستا د پلار د دنګې ونې، متناسب اندام، زړه راکښونکي مخ او ښايست صفتونه کول، زه يې پر رښتينولۍ، پاك زړه او نورو انساني ښېګڼو مينه ومه، سره له دې چې زياتې سختۍ به مو ليدلې، خو د ده پاکبازۍ، مېړانې او زغم ته به مې چې ليدل، ما به هم د تسليم سر ټېټاوه. هر څه به مې په سړه سينه زغمل.

له نېکه مرغه ستا د پلار ښېګڼې په تا کې شته، خو وېره لرم، د هغه هغه صفات هم په تا کې نه وي چې د ځور او کړاو سبب يې کېده. د ساري په توګه، هغه له هنري اثارو سره دومره مينه درلوده ، چې کله به يې کوم انځور يا مجسمه ليدله او ده به يې د رانيولو توان نه درلود، نو ناست به و او غوسه به يې کوله.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه وينم چې ته هم د خپل پلار په شان له ښکلا سره بې حده مينه لرې "...

ومې ويل:

"كه پلار مې ښكلاپرست نه واى. دومره ښكلې او لطيفه مور به مې نه وه."

له نرۍ موسكا سره يې وويل:

"خداى (ﷻ)ښه پوهېږي، چې زه د خپلو كميو او نيمگړتياوو له كبله زياته ځورېدلم او پوهېدم به چې د پلار لطيف ذوق دې زما له ښايست څخه راضي نه دى."

زياته مې كړه:

"ستا د ښكلا نه خوښول بې انصافي ده".

" ــما ستا له پلاره داسې خبره نه ده اورېدلې، چې ما وځوروي. خو د زړه پر حال، هيلو او غوښتنو يې تر هغه زياته پوهېدمه، ته د خپل پلار ژوندۍ بېلگه يې. زه گورم چې د هرې نجلۍ څومره ډېر عيبونه يادوې."!

" ــهو رښتيا موري! داسې انگېرم چې نن شپه كومه وركه مومم، پر نجونو چې مې گوتنيونه كوله، خيالي نه وه، يوازې به مې د هغوى پر بڼې او شكلونو نيوكه نه كوله، بلكې ما هغه نيمگړتياوې هم راسپړلې، چې د هغوى په ارواوو، ذوق او زړونو كې به وې."

ويې خندل او ويې ويل:

"كله چې مادلن خبرې كولې، ما وليدل چې يوې نجلۍ هم ځان ته دومره نه وې راكښلى."

تندى مې تود شو، چغې مې كړې:

"دا څه وايې! زه پر دې دومره بدرنگې نجلۍ زړه بايلم! ايا دا كېدى شي؟."!

خوله يې له خندا ټوله شوه او زياته يې كړه:

"ښايي دا لومړنى دروغ وي، چې له تا يې اورم."

دواړه غلي شوو، نه پوهېږم وجه يې پر مادلن د زړه بايلنې خپگان و او كه له د دروغ ويلو شرم؟!

خوله مې گنډلې وه. تر ډېره غلى وم، اوښكې مې له سترگو راورغړېدې او د مور پر لمن مې توې شوې، د هغې لاس مې مچ كړ او بخښنه مې وغوښتله.

ويې ويل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"هیڅ خبره هم راځخه مه پټوه. هره خبره چې وي ماته يې وايه، هغه ستونزه چې له دوستانو سره شريکه شي اوارېږي. پلار به دې هم که کوم خپګان درلود، له ما سره به يې شريکاوه او ويل به يې چې: زه وخت نه لرم، خپګان مې ته واخله. ډېرې لويې ستونزې به مو په ګډه غوڅې کړې، کله چې به لويو ستونزو مور يوموټي او همفکره ليدلو، له مور ځخه تښتېدلې."

ومې ويل:

"مور جانې! ښه دې وويل، يوې نجلۍ هم د مادلن په څېر له ما ځخه زړه نه و وړی، يانې ما په يوې نجلۍ کې هم دومره ښايسته اروا او هنري ذوق نه و ليدلی."

ويې ويل:

"ته د خپل پلار يانې زما د خاوند په شان راته ګران يې، ځکه چې د هغه ټول صفات په تا کې پټ دي. له صورت او مانا سره دومره بې کچه مينه له پلاره در پاتې ده. ما ته به يې ډېر ويل :

که تا ظريفه طبعه، حساس زړه او روانه ژبه نه درلودای، د ښکلا په برخه کې مې دې نېمګړتياوې نه بخښلې، که تر دې ښکلې وای، دومره ښايسته اروا به دې نه درلودای، زما زړه به نه غوښتلې.

هو! پلار دې هم ستا په شان له ستونزو سره مينه لرله، په سلګونو نجونو وربانديې ميناني وې، هغه يوه هم نه خوښوله، خو يوه ورځ مور د رېلګاډې په سفر کې سره وليدل، زمور ميندو سره خبرې وکړې او آشنا شوې، مور هم يو بل ته مخامخ ناست وو او خبرې مو کولې، ما ډېر ــ ډېر له کړکۍ ځخه بهر ته کتل .

پلار دې وپوښتلم :

"څه ته ګورې؟"

ما وويل:

"زه غواړم د ليدو وړ ټول شيان وګورم، خو ګاډی ډېر ګړندی روان دی."

ښه مې په ياد دي، تر څو شېبو چوپتيا وروسته مې يو فکر ذهن ته راغی.

ومې ويل :

"دا نړۍ يو لوی موزيم دی. څوک چې له هر څه سره مينه لري، په کې موندل کېږي، دا ټول شيان داسې ښکاري، لکه مور چې په رېلګاډې کې سپاره يو، له ليدو وړ شيانو ځخه دومره ګړندي تېرېږو، چې له دغو ټولو ښګڼو او نعمتونو ځخه خوند نه شو اخيستلای."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما دغه کوچنی فکر، د کبنیوونکو د چنګك په شان ستا د پلار په زړه کې ګېر شو، خو موږ واده سره وکړ او تر وروستۍ ورځې پورې مو له مهربانۍ او خوښیو ډك ژوند درلود."

ومې ویل:

"که د مادلن دوی کره په مرکه لاړه شې، څه به وشي؟"

ویې ویل:

"دغه د ښکلا خوښونې حس دې له پلاره درته په میراث پاتې دی، زه دربانديې وېرېږم، ځکه چې پلار دې زه یوازې د دې لپاره خوښه نه کړم، چې ظریفه طبعه او روانه ژبه مې درلوده، بلکې ښایسته هم ومه، خو مادلن دومره ښکلې نه ده. وېره لرم چې په دې تاکنه پښېمانه نه شې. خو که بیا دې هم خپله ټاکنه کړې او له خپلې خبرې څخه نه اوړې، زه څه ویل نه لرم. له بده مرغه نن شپه چې غواړم کوم مطلب درسره شریك کړم له مینې او خوښۍ څخه ډېره فاصله لري... دا ګنا زما او ستا د پلار وه، چې مخکې له مخکې مو اټکل نه و کړی، ګنې نن به مې ولې کومه ستونزه لرلای او ته به مې ولې په زوره په دې ستونزو کې راښکېلولای"...

غلې شوه او په چورتونو کې لاړه. داسې ښکارېدل لکه شرمېږي چې.

ومې ویل:

"د انځور له پلورنې پوه شوم او ته هم غواړې خبره شې چې سر له سبا څخه کار کولو ته چمتو یم، که هر څومره ستونزمن کار هم وي، تر سره کوم یې."

سوړ اسوېلی یې وکړ او ویې ویل:

"که زده کړې دې پایته رسېدلې وای، اوس به مې څه نه ویل، خو تا تر اوسه لوړې زده کړې نه دي کړې او هېڅ کسب دې نه دی زده. پلار دې نه غوښتل ته انجنیر شې، ګومان یې کاوه چې د هغه بد قسمت به تا هم تعقیب کړي. حق یې و، ځکه ته د لوړ فکر او سخاوت له مخې شتمن یې، هغه اټکل کاوه چې همدغه صفات به دې د بدمرغۍ لامل ګرځي. نو ځکه یې وغوښتل چې ته باید په طب کې زده کړې وکړې. زه وینم چې ته به هم د خپل پلا ر په شان، په دې مسلك کې له رنځ او کړاو پرته بله لاسته راوړنه ونه لرې، ځکه د خپل پلار ټول صفات لرې. هغه به چې کوم سخت ناروغ لیده، خوب به نه ورته، که ناروغ به مړکېده، لکه دی چې مسول وي، خوابدی کېده به، که په کور کې به مو چرګ حلالاوه، ده به یې غوښه نه خوړله. ستا په شان به ځیر و چې کوم مېړی یې تر پښو لاندې نه شي. نه یوازې یې له نېستمنو کسانو څخه پیسې نه اخیستې، بلکې یو څه به ده هم ورکولې، ځکه یې د مړینې په وخت کې موږ ته هېڅ هم نه وو پاتې .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له نېکه مرغه زه نجلۍ وم، کله چې مو واده وشو، هغه څه چې مې راټول کړي وو، زما د مور لپاره بس وو. خو ته لا هلك يې او بله دا چې زده کړې دې بشپړې شوې نه دي. زه چې فکر کوم، ستا په شان د نرم زړه خاوند د طب او ډاکټرۍ په درد نه خوري. ته په دې ملکوتي طبعه او خوی بايد ليکوال، شاعر يا موسيقيپوه وای. که مور ستا لپاره ښه مور و پلار وای، ستا لپاره به مو د ژوند ټولې اسانتياوې برابرولای، چې په خپله خوښه د خپل زړه ارمانونه پوره کړې. ځکه ته په دې حساسيت سره آن نه شې کولای له هنر څخه هم ګټه پورته کړې، هنر بايد تا ته يوازې د بوختيا او تفريح وسيله وي.

زه نوره نه پوهېږم، ته په خپله بايد پوه شې چې له کوم مسلك سره مينه لرې."

ومې ويل:

"هغه څه چې تا له ما څخه راضي کوي، هغه شعر او موسيقي ده. اجازه راکړه چې سر له سبا څخه کار پيل کړم، که د ورځپاڼو پلورل هم وي، لوړې زده کړې نه غواړم، زړونه بايد خوشحاله وساتو، د نېکمرغۍ وسيله د مغزو او هوښ سينګارول نه دي."

مورنى نظر يې راباندې واچاوه او زياته يې کړه:

"ما خو تکل کړی، ته بايد درس ووايې او برياله شې، خو د زده کړې لپاره د څانګې يا رشتې ټاکل ستا کار دی. په دې څلورو کلونو کې دې چې پلار مړ شوی، ټولې پيسې مصرف شوې، له راتلونکې اونۍ بايد په يوه خياطۍ کې کار وکړم، څرنګه چې ماهره خياطه نه يم، نو ما ته به پيسې هم لږې راکوي، ښه دی، يو څو انځورونه، مجسمې او هنري اثار لرو، هغه به خرڅوو، چې ستا زده کړې بشپړې شي. خپګان مې ځکه زيات دی چې ته هم د خپل پلار په شان پر ښکلا او هنر مين يې او له دغو اثارو سره زياته مينه لرې، وېره لرم چې د هغو په نشت کې رنځور نه شې."

ومې ويل:

"ته پرښته صفته مور راته تر هنر ښکلې يې، ستا ننداره کوم، له هر ډول شهکار څخه به موړ يم."

ستونی يې د مينې له شوقه ډك ــ ډك او سترګې يې د اوښکو پيالې شوې. اوچت شوم او د هر وخت په پرتله مې توده مچه ترې واخيستله او خپلې خونې ته لاړم.

☒☒☒

لاړم چې بيده شم او د دغه ناڅاپي غم دروندوالی پر بالښت کښېږدم. سترګې مې پټې کړې، چې د مور له مخ څخه مې ونه شرمېږم، غوږونه مې پټ کړل چې د مادلن خبرې وانه ورم، خو څومره چې مې خوب ته پناه وړله،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هومره به ویښ او خوابدی کېدم. د ماشومتوب د وخت خطاوو، ګناهونو، هر زړه چې مې د ناپوهۍ او ځانغوښتنې له کبله ټپي کړی و، د هلن هغه کاته، چې د ګلود ګېډۍ غوندې مې بل ته وسپارله، د مور د خواریو له کبله خواشینیو، دې ویر چې مادلن ولې ښکلې نه ده، یا دا چې زما مینه والې نجونې ولې د مادلن غوندې اروا نه لري، دغو ټولو اندېښنو زما ګرېوان ته لاس راوغزاوه او ځورولم یې.

دا لومړی ځل و چې د غمونو ډلیو را باندې برید کړی و، دا لومړنۍ شکنجه وه چې د شپې په زړه کې د روزګار له خوا رارسېده. لاړم چې مور مې را ویښه کړم او په لمن کې یې ځان واچوم. خو وایي: څوك چې مور نه لري، له نړۍ څخه نه وېرېږي.

له کړکۍ څخه مې سپوږمۍ ولیده، ورته ودرېدم، داسې راته برېښېدل، لکه زما مور چې ما ته په اندېښنه کې وي. د مور د لاس زړه راکښونکې ورمې اوښکې راوچولې، د ونو پاڼې او څانګې د یوه داسې ګلبوټي غوندې ښکارېدې چې زما د مور په لمن کې وې، تا به ویل زما مرستې ته راځي .

ومې ویل:

"ای مورې! د طبیعت په نظر کې ښکلا او بدرنګي یوه ده؟ ښکلې هم باید وځورېږي! ته په دې ښایسته حُسن او زه په دې جمال او ښېګڼې سره ولې خواشیني واوسو! له نورو سره مو توپیر څه دی؟ مورې! ما وبخښه، د مادلن د خبرو نغمو دومره بوخت کړی یم، چې ستا فکر ته مې نه پرېږدي. ایا ته کولای شې ما، د ښکلاپالنې له ناروغۍ څخه وژغورې او مادلن راته ښکلې وښیې؟ " ...

ااا

تر هغه وخته چې سپوږمۍ په اسمان کې وه، له مور سره مې همداسې د زړه خواله کوله، سندره به مې ویله، یا به مې ژړل. سهار چې له خوبه پاڅېدم، حیران شوم، ځکه چې د تیرې شپې په شان پرېشان او رنځور نه وم، هغو غمونکو فکرونو نه ځورولم! لکه هغه غمونه چې نېښ لرونکي حیوانات وو او له رڼا څخه تښتېدلي وي.

ځان مې تیار کړ او هنداري ته مخامخ ودرېدم، د مادلن معما راته حل شوه. ومې ویل :

"دومره ښایسته او مناسب اندام، باید د یوې بدرنګې نجلۍ فکر ځانته پرېنږدي، که په هوښیارۍ او خوږو خبرو کې د سقراط شاګرده هم وي."

د ژوند ستونزې راته اسانې وبرېښېدې. له ځان سره مې وویل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"د انځورونو هغه تابلوګانې او هنري اثار به بيا تر لاسه کوم، کله چې مې زده کړې بشپړې شوې، د مور د خوارۍ او زيار جبران به کوم. لکه څنګه چې يې خوښه وي، د ټولې نړۍ د سفر او تفريح لپاره به ورته زمينه برابروم، ښار ته به نژدې ورته يوه وړه کرونده رانيسم، چې په خپله خوښه په کې ګلونه او واښه وکري.

په دې خبرو مې ځان ارام کړ، ښوونځي ته تر تګ مخکې يووار د پلار خونې ته ننوتم، چې يو کتاب راواخلم، د شپانه د تابلو تش ځای مې سترګو ته نېغ ودرېد. ښواکه ودرېدم او د مادلن هغه ستاينې مې واورېدې، پام مې شو چې ګرانبيه جواهر او يا جنتي بڼ مو له لاسه ورکړی !

په چورتونو کې لاړم، چې ما تر اوسه په هغې تابلو کې ولې د دومره صفت وړ شيان نه وو ليدلې، په ذهن کې مې راګرځېدل، چې کاشکې مادلن راسره د ګلونو، ځنګلونو، رودونو، غرونو او په طبيعت، ښارونو او موزيمونو کې چې څه د ليدو وړ شيان دي، د هغو په وړاندې ودرېږي او د ښکلا په ليدو مې د زړه سترګې رونې کړي.

ښوونځي ته لاړم، د درس ويلو حوصله مې نه درلوده، په تمه وم چې ورځ ژر پايته ورسيږي او د لوبې وخت راشي، موخه مې لوبه نه وه، بلکې غوښتل مې له "اليس" سره د خبرو وخت پيداکړم، د ليليې په نجونو کې هغه تر ټولو ښکلې وه، که څه هم د نورو ښکلو زلميانو په وړاندې به يې ناز او نخرې کولې، خو له ما سره يې ډېره مينه وه.

په اليس کې بشپړه ښکلا پرته وه، چې ما په کې د ګوتنيونې ځای نه ليده. شوخه، موسکۍ او ښه مجلسي وه، د تنيس په لوبه کې يې ډېر مهارت درلود، خو پر دې سر بېره يې زه د ځان اسير کړی نه وم .

کله چې مې د مادلن له خولې څخه د هغې تابلو صفتونه واورېدل، نو پوه شوم چې غواړم اليس هم هماغسې نازکه او حساسه اروا ولري، چې ځان ورتسليم کړم.

هغه ورځ مې غوښتل اليس په خبرو راولم او د هغې موسيقۍ د پای برخه، چې پيل مې يې له مادلن څخه مې اورېدلی و، د هغې له خولې واورم. تر نيم ساعت لوبې وروسته مې وويل:

"نن ستړی يم، راځه کښېنو او خبرې وکړو."

ويې ويل:

"نو بيا پرېږده چې له بل چا سره لوبه وکړم."

هر څنګه چې وو، راضي مې کړه، د شنه رود څنګ ته لاړو، تر ونې لاندې پر څوکۍ کښېناستو.

ويې ويل:

"ولې خبرې نه کوې؟."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



" ــ په اوبو کې مې د ورېځو، ونو او ګلونو رپېدونکي عکس ته کتل."

" ــ شعر دې پایته ونه رسېد، نور څه وینې؟."

" ــ لکه چې دا ټول ستا په سترګو کې وینم."

تر یوې اوږدې خندا وروسته یې تندی ګونځې کړ او وېې ویل:

"دا چې شاعر او خیال خوښوونکی یې، زړه مې دربانديږ وسو، ځکه زما زړه هغو کسانو ته زیات بدېږي چې د غوره کارونو پر ځای په بېځایه او خیالي شیانو زړونه تړي، ما ته ناروغان ښکاري، خو زړونه یې نه غواړې چې درملنه یې وشي."

ومې ویل:

"ته داسې فکر وکړه چې دغه سیند یو انځور دی، ته په کې څه وینې؟."

" ــ زه وینم چې دا انځور نه دی، بلکې د اسمان او بڼ عکس دی چې په اوبو کې ښکاري."

په زړه کې مې وویل:

"زه هم تا وینم چې یوه ښکلې خو بې اروا مجسمه یې، په دې توپیر چې مجسمه خبرې نه کوي او نندارچي نه خوابدی کوي."

تر لږې چوپتیا وروسته یې وپوښتلم:

"له پلاره څه درته میراث پاتې شول؟."

ومې ویل:

"هیڅ."!

وېې خندل او په خندا کې یې وویل:

"خبره ومه، خو څه وکړو، خدای ټول شیان په یوه وار انسان ته نه ورکوي، عقل، پوهه او ښکلا نه شي سره اوسېدای، درځه چې لوبه وکړو."

هغه لاړه، خو پرځای یې د مادلن خیال راغی او د هغې تش ځای یې ډک کړ، سترګې مې لږې تنګې شوې، ټول غوړ ــ غوړ شوم، اورېدل مې چې مادلن د سیند ستاینه کوي، لکه یو ښکلی ساز چې په هره جمله کې یوه منظره انځوروي، دومره ښکلاګانې یې را برسېره کړې، چې زما ذهن یې له خوندي کولو او راټولولو عاجز دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



■■■

د ډوډۍ په وخت کې مې له مور سره خبرې کولې. ومې ویل:

"ما تکل کړی چې د پلار دنده مې تعقیب کړم او انجنیري ولولم، هغه ته چې کومو خویونو او صفاتو زیان رساوه، زه له هغو صفاتو څخه لیرې تښتم، په کارونو او د ژوند په چارو کې باید د بخت ونډه هم له پامه ونه غورځوو، که پر ژوند مو د بخت یو مینه ناك نظر پرېوتلای، نو نن به مې د پلار مېړانه او اوچت نظر ناچاري نه ګڼل کېده. ګوندې بخت راسره یارې وکړې، بیا هم معلومه نه ده چې زما له پلار څخه یې هغه کینه په زړه کې پاتې ده او که نه."

ویې ویل:

"زه هم له دې تصمیم څخه راضي یم، ستا د هوساینې لپاره باید ووایم، چې زه او پلار دې د بخت له کینې او غوسې څخه نه وېرېدلو، بلکې د هرې ماتې له کبله به مو ډېر سعادت او نېکمرغي پیدا کوله، ځکه یو بل ته به لا نژدې او مهربانه کېدو، که پلار دې پر ښکلا مین نه وای او هنري اثار یې زیات نه خوښولای، زما به هېڅ غم نه و. کله به یې چې کومه ښکلې مجسمه یا انځور لیده، نو زړه به یې وربانډې بایله، خو د رانیولو وس به یې نه درلود، ځکه به زه ډېره ځورېدمه."

ومې ویل:

"ستا په شتون کې به مې د پلار په زړه کې هره هیله پیدا کېده، ژر به یې هېروله ځکه هغه تر ټولو ښه شهکار درلود، چې ته وې."

"_افسوس چې ښکلاپرست زړه ژر نه شو قانع کولای."

" _که زه کومه ښځه پیدا کړم چې ستا اروا او ښکلا په کې وي، د دنیا ټول هنرونه او صفتونه نورو خلکو ته پرېږدم."

موسکۍ شوه او ویې ویل:

"پوهېږم چې څه وایې، له پرون راهیسې دې چې مادلن په هغه متفکره او درنه څېره کې ولیده او د هغې له ښو احساساتو څخه راوتلې ستاینه دې ترې واورېده، زړه دې غواړي چې الیس هم باید هغه راڼه احساسات ولري، یا د مادلن ښکلا."

ومې ویل:

"که مادلن د الیس غوندې وای، بیا یې هم ګټه نه درلوده، ځکه چې زه نه یم وربانډې ګران."...

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا مې د سیند پر غاړه د الیس د خبرو تفصیل ورته ووایه. په ژورو سوچونو کې لاړه. کله چې یې خپلې سترګې زما په سترګو کې وګنډلې ومې لیدل چې د غم یوه نرۍ څپه یې پر څېره را خوره ده.

ویې ویل:

"که شتمن وای، تا باید په شاعرۍ یا موسیقۍ لاس پورې کولای، یا به هم نابغه کېدای، ځکه چې د برلاسو هنرمندانو غوندې له خپل زړه سره یوازې ژوند کوې، هر څه چې وینې، اورې، یا مادي طبیعت چې هر څه درڅخه غواړي، ټول د زړه نګارخانې ته وړې او شعر ترې جوړوې، د هنرمندۍ لوی شرط همدغه دی. دا ګناه باید زه او ستا پلار پر غاړه واخلو، یا ستا په وینا د بخت پر غاړه یې واچوو، چې انسان د هغه د خوښې خلاف کار ته هڅوي."

ومې ویل:

"غم مه کوه، د ارادې د قوت په مرسته به له نړۍ څخه غچ اخلم او ستا ناکامۍ به جبرانوم."

ویې ویل:

"که زما منې، سندرې ووایه او د موسیقۍ په برخه کې کار وکړه. ستا ښکلی غږ باید غلی نه شي، بله دا چې اواز د تسلې ذریعه هم ده، دا هغه چغه ده چې حساس زړه یې په ښکلاګانو او هیلو پسې راباسي او ځان ارامومي."

ومې ویل:

"ته هیله منه یې چې ستا په خبر به په صورت و سیرت ښکلې نجلۍ ومومم."!

"ــ کېدی شي ویې مومې، خو مینه هغه قمار دی چې هېڅوک یې هم پر بري باندې زړه نه شي تړلای."

ووېرېدم، ومې پوښتل:

"واده باید قمار وي! د ژوند دغه مرحله چې تر ټولو مهمه ده ولې باید له قاعدې څخه بهر وګڼو او د هوس لاس ته یې وسپارو! نه د راکړې ورکړې لاس ته.

دواړې پلې باید برابرې وي؟ که د ځان په شان ښایسته، مهربانه او وفالرونکې ملګرې پیداکړم، زیاتی به مې نه وي کړی."

اسوېلی یې وکېښ او زیاته یې کړه:

"برابر او یو ډول جوړۍ هم موندل کېږي، خو نه پوهېږم، یو تن یې څنګه د طبیعت په لاس د دنیا په بل کونج کې اچول کېږي، چې په اسانۍ سره یو بل نه شي موندلای. زه هر سهار او ماښام له خدایه غواړم چې تا خپلو ارمانونو ته ورسوي."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غرور موسکا مې پر شونډو راوټوکېده، ومې ویل:

"بېغمه اوسه! زه به خپل ارمان تر ګوتو کړم."

خپلې کوټې ته پاس ختلم، چې د زينو په منځ کې چورتونو يووړم، ځای پر ځای ودرېدم، د مور هغو خبرو مې د وحشتناکو چغو غوندې په غوږونو کې ازانګې کولې چې:

"مینه قمار ده... جوړې په اسانۍ سره یو بل نه شي موندلای."...

په ډېرو ستونزو مخکې لاړم.

ومې ویل:

"مور مې يا اشتباه کوي، يا هم نه غواړي ما مغروره کړي. کنه وينې چې زما پر شا وخوا څومره ښکلې نجونې د پتنګانو غوندې راڅرخي. کله چې ورسره چکر يا سينما ته ځم، وينې چې نجونې د سترګو تر کونجونو راته ګوري، ځينې دومره حيرانېږي چې د مور مټ يې له لاسه خطا کېږي."

له ځانه سره مې وويل:

"هغه خدای (ج)چې الیس ته دومره جمال او مادلن ته دومره ښکلې اروا ورکولای شي، کولای شي داسې یو موجود هم پیداکړي، چې دغه جمال او کمال ولري، که داسې نه وای، نو د داسې موجود هیله به یې زما په زړه کې نه ټوکولای، باید په زغم او صبر سره پلټنه وکړم چې د خدای (ج)دغه ښکلی موجود ومومم"...

په همدې چورتونو کې وم چې خوب راباندې راغی... سهار ښوونځي ته تر تګ مخکې د مطالعې لپاره کتابتون ته ننوتم، یو وار بیا مې سترګې، د شپانه د هغه انځور پر تش ځای ولګېدې، داسې راته ښکارېدل لکه هغه انځور چې وينم او د هغه شپانه د شپېلۍ غږ اورم، د شپېلۍ له نغمې سره د مادلن خبرې هم ګډېږي او کښته پورته اوړي رااوړي. له هرې جملې څخه يې په زرګونو صورتونه، غږي، زړه راکښونکي انځورونه او رنګونه اوري.

د لومړي ځل لپاره مې پر زړه باندې د احتیاج نېښ ښخ شو، له دې نه چې هغه انځور مو په پيسو پلورلې وه، وسوځېدم او ایره شوم، ډېر افسوس مې وکړ، چې ولې مې هغه انځور ته په زړه او ذهن کې ځای نه و ورکړی، چې اوس يې هر وخت په خيال کې وګورم!

کله چې ښوونځي ته د تګ وخت شو، لکه له چا سره چې مې قول کړی وي، د مادلن د کور خوا ته روان شوم، لاړم چې د شپانه هغه انځور ته په سترګو او ذهن کې ځای ورکړم، لکه څنګه چې مې د حافظې د قوي کولو په اړه لوستلي وو، درې واره به په غور سره انځور ته ګورم او هر ځل به د څو ثانيو لپاره سترګې پټوم، چې په حافظه کې مې نقش

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي. خو ښايي حقيقت به دا و چې غوښتل مې مادلن خبرو ته وهڅوم او اواز يې واورم. د اروا په ګلورين بڼ کې يې خوښي ولټوم...

د توماس (د مادلن د پلار) کور ته ورسېدم، په لړزانده لاس مې زنګ وواهه، د دروازې د سر کړکۍ خلاصه شوه او يو سر ترې را بهر شو. پرته له دې چې څه ووايي، بېرته ننوت او کړکۍ هم وتړل شوه. مادلن وه، خو ولې يې خبرې ونه کړې او کړکۍ يې وتړله؟

له ځان سره مې وويل :

"د دې لپاره چې راته ووايي بښوخته راغلی يې، يا د دې لپاره چې دا رانه شي او پلار يې راشي، دروازه راته خلاصه کړي. خو حيران شوم چې ايا امکان لري د مادلن ښکلا پرستې سترګې دې زما حُسن نه وي ليدلی! نو بيا يې ولې ونه ليدم، ولې يې را ته ونه خندل او په شوق او بيړې سره يې راته ونه ويل :

"مهرباني وکړئ "!

د خيال په دې لانجو کې اخته وم چې د دالېز له لورې مې د پښوښکالو تر غوږو شوه، ښکالو کراره او منظمه وه، خو سنګينه نه وه، ما هم دا ګومان ونه کړ، چې د هغې پلار دې ور پرانيزي، پوه شوم چې مادلن ده، خو بيړه ا تلوسه يې نه درلوده! له ځان سره مې وويل:

"کاشکې نه راتلای، کاشکې بېرته ستون شم"...

ور پرانيستل شو، دوو ښکلو سترګو پر خپل ځای ټينګ ودرولم، که هغه زړه راکښونکې سترګې نه وای، نو ښايي هغې سړې څېرې به راته ويلای چې :

"څه غواړې؟ ولې له خبر پرته زما ليدو ته راغلې...؟"

ګومان مې وکړ زه به وکړای شم، د هغې د زړه حال، د هغې په څېره کې وګورم، خو وروسته پوه شوم چې څوك له دغو دريڅو څخه د هغې د خاطر جنت ته په اسانۍ سره لار نه شي موندلای. پوه شوم چې خوښي او غم، مينه او کرکه، هيله او نهيلي، هېڅ يو هم د هغې د ضمير له خونې څخه د راوتلو جرئت نه لري.

سلام مې وکړ، حيران وم چې څه ووايم، ځکه هغې پلمې چې د دوی کور ته يې راوستلی وم راته ډېرې ساده وبرېښېدې. زما تر لږې چوپتيا وروسته يې وويل:

"که له پلار سره مې کوم کار لرې، په کور کې نه شته."

په توړ توړې ژبه مې وويل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ل....ه هغه سګ.... سره کار نه لرم، راغګ.....غلم چې هغه انځور" ...

" _غواړې، هغه بیرته واخلې؟ حق لرې، زه به خپل پلار راضي کړم چې دا معامله له یاده وباسي."

ومې ویل:

"نه! غواړم هغه تابلو یو ځل بیا وګورم "...

سترګې یې لړې پټې، بیا خلاصې شوې، په هغه یوه شېبه کې یو کتاب فکر او سوچ پټ و، خو ما یې لا د لوستلو لپاره سواد نه درلود.

ویې ویل:

"راځه مهرباني وکړه."

له دې سره روان شوو، یوې خونې ته ننوتلو، ټول شیان سره خواره واره پراته وو، ډېرې مجسمې او هنري اثار هم تر سترګو کېدل.

یو څه وګرځېده، بیا یې د شپانه تابلو چې پر ځمکه پرته وه، د یوې بلې تابلو له شا څخه راوایستله او ما ته یې مخامخ ونیوله، د هغې دواړې ښکلې سترګې د تابلو له شا څخه راته ښکارېدې.

مننه مې وکړه او په ننداره بوخت شوم، هغه څه چې راته نه ښکارېدل. انځور( تابلو ) وه. لکه هغه دوو ډېوو چې د دوو څراغونو غوندې زما سترګې له کاره اچولې وې، د شرم او خجالت له کبله دومره تر ځور او کړاو لاندې وم، چې کوټه راباندې څرخېده.

ومې ویل:

"بس ده."

انځور یې یووړ، چې پر خپل ځای یې کښېږدي، زه ودرېدم، ستونی مې له ژړا ډك و، نه مې شول کولای یوه خبره هم وکړم.

مادلن راغله ما ته نژدې ودرېده، تر لږې چوپتیا وروسته چې یې ولیدل، چې نه ځم او هېڅ خبره هم نه کوم، نو ویې ویل:

"زه دې له زړه راځم. حق دې هم دی، هنري اثار دې تر هر څه زیات ځان ته راکاږي، خو درد او کړاو لري، خو که هنر درد او سوز نه لرلای، ژوند به هم خوند نه درلود. حیوانات تر موږ ډېر هوسا دي او ښه ژوند لري، ځکه چې تر موږ د مادي ژوند په قواعدو ښه پوه دي، پوهېږي چې څه وخوري او څه وڅښي، خپل دوست او دښمن پېژني، د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند په مبارزه کې هم خطا نه کوي، زموږ په شان د جهل او ناپوهۍ په لانجو او لالهانديو کې کړاوونه نه ګالي. خو زموږ شه والی دا دی چې د هنر لپاره ځورېږو، چې ځناور ترې بې خبره دي، هو! ښکلا زموږ د خوندورو کړاوونو او ځورېدنو سر چينه ده.

موږ د ويالې له زمزمې، د وږمو له ساز او د ځانګو له نڅا څخه هم غمونکی خوند اخلو، د سپينې سپوږمۍ له ننداري څخه هم يو رنځور خوند اخلو، د يوه هنري شهکار په وړاندې مو سينه د ذوق او خواشينۍ د فشار له کبله له غمونو ډکېږي .

تا ته حق درکوم چې د دې انځور له کبله خواشينی واوسې، ما ته ستا په دې خوابدۍ رخه راځي.

▯▯▯

مننه مې وکړه، لاس مې ورکړ او لاړم. رښتيا چې زيات خوابدی وم، خوابدي مې له دې کبله وه چې د مادلن سترګې ولې دومره ښکلې دي، ولې دومره حساسې دي، خو دا په خپله ولې ښايسته نه ده...!

مور مې ماښام د ډوډۍ په وخت کې راڅخه وپوښتل:

"ولې خبرې نه کوې؟ ولې په سوچ کې ډوب يې؟"

" ـــ زړه مې هغه انځور ته خپه و، کاشکې مو کوم بل شی پلورلای"...

پرې يې نه ښودم چې خبره مې تمامه کړم. ويې ويل:

"زه پوهېدم چې ته به هم د خپل پلار غوندې د هنر مينه وال شې او د هنري اثارو د نشتوالي په وخت کې به خوابدی کېږې."

غلې شوه او په فکرونو کې لاړه. ومې ويل:

"په څه فکرونو کې ډوبه شوې؟"

له ناڅرګند ځای څخه يې نظر را ټول کړ. ويې ويل:

"زه بايد د شپې له خوا په کور کې کار وکړم او ډېرې پيسې لاسته راوړم، چې بيا د هنري اثارو پلورنې ته نه اړ نه شو."

ومې ويل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"هېڅکله هم نه! هر څه چې لرو ويې پلوره، خو کار مه کوه. ستا روغتيا تر نړۍ ډېر ارزښت لري."

خو ما وليدل چې قهوه يې هېره شوه او په چورتونو کې ډوبه وه. ومې ويل:

"مور جانې! بېځايه غم مه کوه، په هغه انځور پسې زيات خپه نه يم، نن د توماس کور ته تللی وم، زما مقصد د مادلن ليدل وو، نه د هغې تابلو"...

لکه يو دروند بار يې چې له اوږو څخه ليرې کړل شوی وي، سر يې رااوچت کړ، څېره يې هم وغوړېده. ويې ويل :

"ته لاړې چې وګورې مادلن درته ښايسته ښکاري او که نه زړه دې غواړې هېره يې کړې، ته تللی وې چې مادلن او اليس سره پرتله کړې"...

ومې ويل:

"سمه وپوهېدې. ما له دغو حقايقو سره د مخامخېدو زړه نه درلود، ته بايد زما مرسته وکړې او زما پټ فکرونه راوسپړې."

خپل هغه خيالونه مې ورته بيان کړل، چې کله د توماس (د مادلن د پلار) په کور کې راته پيدا شول، کېدی شي د خبرو په وخت کې به زما د زړه حالت هم ځرګندېده او په ژبه مې راته.

تر هغه وروسته چې يې زما ماشومانه خبرو ته غوږ ونيو، د خپل پېغلتوب نړۍ ته لاړه، هغه دنيا يې ګز او مچ کړه، اسوېلی يې وکړ او ويې ويل:

"لکه څنګه چې يو ړوند يوه لارښود ته لاس ورکوي. له لارو څخه په اسانۍ سره تېرېږي. کاشکې ځوانانو هم کولای شوای د خپلو زړونو مشري تجربه کارو خلکو ته وسپاري. که داسې کېدای، ما به خپلې ټولې تجربې په کار اچولای او تا ته به مې هغسې ملګرې ټاکلای، چې ستا لپاره وړ وای، خو هغه څه چې زما عقل يې خوښوي، ستا زړه يې نه خوښوي، نو زما درته دا نصيحت دی چې د مينې په خطرناك كار کې بايد بېړه ونه کړې، ځکه لاډېرځوان يې او ډېر وخت لرې."

خپلې خونې ته لاړم او پر کټ وغزېدم. په دې ګومان چې لا ځوان يم او وخت را سره شته، د دوه زړې او شکونو له پاڼ څخه ليرې شوم، هغو پخوانيو انديښنو او خواښېنيو هم خپل ځای د خيال الوت ته ورکړ:

يو څه موده د مادلن په ننداره بوخت وم، د هغې په کتو او حرکاتو کې مې يو ډول ارامي، غرور او مهرباني وليده، د هغې هوښ او خاطر چې د هغې د فکر په هندار کې ځرګند و، زما ټول وجود ونيو. يوه شېبه مې ځان د مادلن غوندې پوه او ښه احساس کړ، د هغې په سترګو مې د اليس په کتنې پيل وکړ، له ځان سره مې وويل :

"د ځوانۍ نعمت ولې د هغې تر ښکلا قربان نه کړم، پتنګ چې ځان په اور سوځي، دا کومه بېباکي او هوس دی؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



الیس خو سر تر پښو شعر او نازکي ده. زه ولې ترې دا هیله ولرم چې د مادلن غوندې نازکخیاله او شاعره وي! کېدی شي د هغې په نظر به حقیقي شعر: ښکلی کور، ګاڼې او ښه کالي وي، نه د شعر جملې او موسیقي چې د نرې باد غوندې پر موږ لګېږي او تېرېږي. کېدی شي زه هم الیس ونه شم پوهولای چې په ښګکلې کور او زیاتو نعمتونو کې که د غزل مرې سندرې ونه لولي دا داسې مانا لرې لکه له بې اروا معشوق سره چې لاس تر غاړې یم .

په هر حال، د الیس فکر او هیلې به زما ښې هڅوونکې وي، زه به د تېر وخت جبران وکړم، مور به مې د روزګار له ترخو څخه را بهره کړم، د الیس طلایي او ښکلې هوسونه به د ټولو جواهرو او د سرو زرو په قېمت پوره کړم.

خو؛ مادلن مې له ذهن څخه نه وتله، تل به د الیس له فکر سره یو ځای کېدله، د یوې ښکلې سندرې یا زړه راکښونکي شعر غوندې چې سهار مې اورېدلی وي، ټوله ورځ به یې زما په فکرونو او چارو کې لاسوهنه کوله او هر وخت به را سره و، زه یې نه ځورولم، بلکې د هغو عاطفه ناکو سترګو او مغرور ضمیر تر شا د الیس د طبیعت بدرنګی راته لیرې کېدونکې ښکاره شوې.

د راتلونکې په ناپایه اسمان کې مې د امید دومره وزرونه ورپول چې خوب راباندې راغی.

سبا مازیګر مې په بېغمه زړه او خوشحاله خاطر له الیس سره د تینس لوبه کوله. ویې ویل:

"نن د نورو ورځو په پرتله ښه لوبه کوې."

ومې ویل:

"ځکه چې نن تر نورو ورځو ډېره ښکلې شوې یې."

یو شېبه یې سر ښکته نیولی و او د پښې په څوکه یې ځمکه ګروله، بیا ویې وویل:

"خو ښېرېږم چې شعر یا کوم پسرلنی باد نه وي."

" _شعر نه دی، غواړم ښه درس ووایم او دومره خواري وکړم چې شتمن شم، ځکه تا پېژنم، ته له شتو او پیسو سره زیاته مینه لرې."

لاس یې راکړ او ویې ویل:

"افرین، دا لومړی ځل دی چې ستا څخه ښه خبره اورم، خو کاشکې یو لاټرې ټکټ زما په نوم راوتلای، ښوونځی به مو پرېښوده او سره خوشحاله به وو."

ومې ویل:

"زه باید ستا له هیلې سره سم زیاتې پیسې وګټم."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا مو په لوبې پیل وکړ، یو ساعت مو ښه توده لوبه وکړه، په پای کې چې سره بېلېدو، ما د خپلې زېږېدنې محفل ته بلنه ورکړه.

د ډوډۍ په وخت کې مې له مور سره د راتلونکي په هکله خبرې کولې او خوشحاله وو.

ومې ویل:

"خیال مې دی چې دوه ټولګي په یوه کال کې ولولم، چې خپله مور ژر د هغې هیلو ته ورسوم."

ویې ویل:

"زما هیله دا ده چې د عمر د پای په شپېو کې ښار ته نژدې د یوې کروندې تر څنګ ژوند وکړم، شپې به خرڅوم. باور لرم چې د څو کاریګرو په مرسته شل غواوې ساتلای شم. که مو وکولای شول چې د کروندې درېیمه برخه هم وکرلای شو، پاتې برخه به یې په لږ وخت کې کرو او دا به ستا لپاره ښه پانګه وي، ځکه چې دغه کار به زیاتې پیسې وګټي."

ومې ویل:

"ستا په هوښ، پوهه او تجربه کې کوم شك نه لرم، خو نه پوهېږم چې زما له پلار سره دې ولې دغه نظریه شریکه نه کړه."

"_ستا پلار برعکس له کلیوال ژوند څخه په تېښته و."

"_خو زه پر سارا او طبیعت مین یم، هغه ورځ چې ته مالداري پیل کړې، زه هر ګټور کار پرېږدم او راځم چې د هغه یوه کاریګر پر ځای دې مرسته وکړم."

په چورتونو کې لاهو شوم. ویې پوښتلم:

"په کومو فکرونو کې لاړې؟."

ومې ویل:

"وېرېږم چې مېرمن به مې له کلیوال ژوند سره رضایت ونه لري، کېدی شي الیس یوازې دوې ورځې د واټونو، پلورنځیو او د ښار د نورو برخو له ننداري څخه لاس واخلي، هغه پې نور زغم نه لري."

" _که له تا سره مینه ولري، هر ځای به درسره خوشحاله او راضي وي."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومې ویل:

"هېڅ وخت مې په دې باب سوچ نه وکړی، چې کېدی شي یوه نجلۍ راسره مینه ونه لري، د دې شرط په اورېدو مې ټکان وخوړ چې:

"که ستا معشوقه در سره مینه ولري، هر ځای به درسره خوشحاله او راضي وي."

له ځان سره مې وویل :

"که د دوستۍ شرط همدا وي، الیس به یې ونه مني، نو په دې صورت کې زما سره مینه نه لري."

زړه ته مې حېرانۍ او وېرې لاره وموندہ، مور مې د هغې خیالي کروندې په ننداره دومره بوخته وه، چې زما پر پرېشانه حال یې ری نه واهه، ویې ویل:

"د دغو کرنیزو ماشینونو او برېښنایي سامانونو په مرسته به وکولای شم د ورځې یو څو ساعته د شلو غواوو خدمت وکړم، په اوونۍ کې به یوه شپه ستا راتګ ته لار څارم، په همدې تمه به کتابونه لولم او پیانو به غږوم. خو ارمان چې پلار به دې له موږ سره نه وي"...

هغې خبرې کولې او زه د خیال په پېچومو کې ورك وم:

لیدل مې چې الیس اّن نه غواړي په اوونۍ کې یو ځل هم کروندې ته راسره راشي. زه به یوازې راځم او له مور سره به له غمونو ډکه شپه تېروم، هغه به هم راسره خوابدې وي. په دې وخت کې مې فکر وکړ که الیس مې له مور سره یو څه وخت واوسي، کېدی شي د مینې او دوستۍ په مانا پوه شي .

ومې ویل:

"مور جانې! ستا له لوري الیس او پلار یې د خپلې زېږېدنې جشن ته رابولم، غواړم تر دې وروسته یې ته وروزې."

لکه یوه حیرانوونکې خبره یې چې اورېدلې وي، په غور یې راته وکتل او ویې ویل:

"ته نه پوهېدې؟ اوه! دا زما ګناه ده چې له خپل تصمیم څخه مې خبر کړی نه یې، زما زړه دی چې سږکال ستا د زېږېدنې جشن ته څوك راونه بولو، ته به یې او زه، ځکه سږکال مو جېبونه تش دي او د لګښت توان نه لرو."

په زړه کې مې چغې کړې:

"داسې مه وایه! الیس ته به خړ یم، ته نه پوهېږې چې هغه شتو ته څومره ارزښت ورکوي! که وپوهېږې چې موږ د مېلمستیا وس نه لرو، په سترګو کې به یې هغه څه ولولم، چې زړه به مې ټوك ــ ټوك کړي."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم دا خبرې مې په خوله ونه کړې، خو هغې د مورنۍ مينې له مخې زما چغه واورېده.

ويې ويل:

"اوس چې دې بلنه ورکړې، بله چاره نه لرو، خو تر دې وروسته دې بايد په ياد وي چې په دغسې کارونو کې راسره مشوره وکړې."

وشرمېدم، بخښنه مې وغوښته، ومې ويل:

"سږکال راباندې بار ګران دی، ځکه غواړم دوه ټولګي په يوه کال کې ولولم، په راروانه رخصتي کې به کار وکړم. چې لږ تر لږه د دغه جشن لګښت خو برابر کړم."

ويې ويل:

"څومره چې کار وکړې، زه هومره خوشحالېږم."

خو زما دغه وينا نه د عقل، نه د زړه په خوښه وه، مور مې سر ښکته ونيو، د مېز پر مخ د لوښو په ټولولو بوخته شوه. کله چې يې سر رااوچت کړ، د هغې په سترګو کې مې ولوستل چې زما وينا يې هسې بابېزه ګڼله .

ويې ويل:

"خو له ډېر لوی جشن سره نه يمه جوړه، نه غواړم چې زياته خواري درباندې راشي، کېدی شي کمزوری شې او له زده کړې پاتې شې، چې تر پيسو مهمه ده."

يوه شېبه غلي وو. بيا يې زياته کړه:

"په دغو دوو ورځو کې په يوې پلمې پسې ګرځېدم چې ستا ترور ته ووايم سږ کال مو جشن ونه شو، خو زړه مې نه غوښتل درواغ ووايم، له بلې خوا سخت کار هم و، ستا د ارواښاد پلار خوابدي مې هم نه غوښته، همدغه راز مې نه غوښتل ستا اکا خواشينی شي، ځکه هغه ستا له پلار سره سيالي درلوده.

مور د ژوند په اولو کلونو کې شتمن وو، خو ستا اکا نېستمن. ستا پلار د خپلې مهربانۍ له مخې ورته نصيحت وکړ، خو هغه په دې خبره ستا له پلار سره په زړه کې کينه واخيسته، تر دې چې حالات بدل شول، هغوی شته لاسته راوړل، خو موږ نېستمن شوو. يوه ورځ راغی او په تونده لهجه يې ستا پلار ته هغه نصيحتونه تکرار کړل، يو څه يې د خپلو پيسو او شتو باتې هم ووهلې. پلار دې د هغې پېښې په اړه ما ته هېڅ هم ونه ويل، خو تل يې هڅه کوله زموږ له ستونزو يې ورور خبر نه شي.

اوس چې تا اليس ته بلنه وکړې، نو بله چاره نه لرو، بايد جشن ونيسو .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې مې احساس کړل، لکه يو دروند بار مې چې له اوږو ليرې شي، ځکه درواغ ويلو ته مجبور نه شولو، همدا نن به مې اکا، د هغه کورنۍ او نورو دوستانو ته بلنه ورکړم."

ومې ويل:

"ستا له خبرو پوه شوم چې د اکا زوی مې مېچل، ځانښودنه او لاپې له خپل پلار څخه زده کړي. زه يې څو وارې گرانبيه هوټلونو ته بللی يم، خو ما يې بلنه نه ده منلې، ما ورته لومړی ځل وويل: زه ستا د مېلمستيا په بدل کې بله مېلمستيا نه شم درکولای، نو بلنه دې نه منم، خو هغه به راباندې ټينگار کاوه، يوه ورځ يې راته وويل چې هر کس بايد د خپلو پيسو په اندازه دعوه ولري، زه شتمن يم، کولای شم تا ته دا خبره په زبات ورسوم، ته که ما مېلمه نه کړې خير دی، پروا نه لري."

خو ما وويل:

"زه نه غواړم خپل دريځ خراب کړم، هر څه چې مې اکا لري، هغه واخلم او ستا غوندې ټيټ سړی شم" ...

لکه په صفا اسمان کې چې توره وريځ راښکاره شي او د لمر مخ پټ کړي، د مور په تندي کې مې گونځې راښکاره شوې، زه هم خپه شوم .

ويې ويل:

"که لاپې وهل درته بد کار ښکاري، د خپل اندام او ښکلي صورت ستاينه هم هومره بد کار دی. ته بايد د مېچل له ناوړه عادت څخه پند واخلې، ته بايد خپل لوړ قد ته اشاره ونه کړې، چې خلك په زړه کې درباندې ونه خاندي او درڅخه بېزاره نه شي. ستا خپل ښايست ته پام نه دی او ما هم وخت لټاوه چې درته ووايم، ښکلا د بدمرغۍ مايه مه جوړوه او پوه شه چې خدای (ج)مورِ ته ښکلا او جمال د نسل د ښه والي او د کتونکو د احساساتو د صيقل لپاره راکوي. هغه څوك چې له روزگار څخه د ښکلا باج وغواړي، بدمرغه دی، روزگار به اخر ترېنه سل برابره جريمه او خراج غواړي".

د مور په نصيحت ونه پوهېدم او په خپل خيال پسې رهي شوم، ومې پوښتل:

"نجونې شتو ته زيات ارزښت ورکوي، که ښکلا ته؟."

غوښتل مې پوه شم د خپل اکا له زوی (مېچل) سره په رقابت کې، هغه مينې او نېکمرغۍ ته رسېږي که زه؟

ويې ويل:

"بې تجربه پېغلې او زلمي ته ښکلا يا شته دواړه يو دي او دوی تېر باسي، که څوك پوه وي چې نېکمرغي تر هر نعمت زياته ارزښتمنه ده، نو مينه ناك او نېك انسان ترېنه جوړېږي."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومې ويل:

"زه څه وکړم چې نه له ښکلا څخه سترګې اړولی شم، نه له زړه او نېکۍ څخه؟"

ويې ويل:

"څه معلومه ده چې د خدای (ج)له ځانګړو بنده ګانو څخه ونه اوسې، خدای (ج)درته نه موندونکې تحفه چې هم ښه وي، هم ښکلې درته پيداکړې نه وي."

※※※

د دغه راز په موندنې بوخت وو، چې د ټليفون زنګ اوچت شو، غوږۍ مې اوچته کړه، حيران شوم. مېرمن ګوستاو وه، هغه مېرمن چې کله به زه او مور مې په کور کې نه وو، راتله به او خونې به يې پاکولې، لوښي به يې مينځل او ډوډۍ به يې تياروله.

ومې پوښتله:

"په دې شپه کې دې څه کار و؟"

ويې ويل:

"په کتابتون کې دې هغه تابلو وليده؟"

"_نه."!

"مادلن بېرته راوړله او پر خپل ځای يې ځوړنده کړه، تا نن يا سبا ليدله او زما ټليفون ته هم حاجت نه و، ما د دې لپاره درته زنګ وواهه چې مادلن تا ته يو کاغذ هم راوړی، زه د دې پرځای چې هغه د ډوډۍ پر مېز درته کښېږدم، د مېلمستون پر مېز به مې ايښی وي، هېر مې دی، زيات وبخښه."

غوږۍ مې کښېښوده، پر خپل ځای وچ پاتې شوم، نه پوهېدم چې لومړی مې مور خبره کړم، که لاړ شم، هغه تابلو وګورم، که هغه ليك پيداکړم؟

مور مې وپوښتلم:

"څوك و؟"

ومې ويل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"اوس راځم درته وبه یې وایم."

په ځغاسته مې د مادلن کاغذ له مېلمستون څخه راوړ او مور ته مې کیسه تېره کړه. زما په سترګو کې یې زارۍ ولوستې، چې غوښتل مې هغه کاغذ یوازې ولولم، ویې ویل:

"دا لیك ستا لپاره دی، کله چې خپلې کوټې ته لاړې، ویې لوله."

لاړم او په کتابتون کې مې راځوړنده تابلو ولیده، بېواکه مې د مور په وړاندې کاغذ پرانیست او په لوړ اواز مې ولوست .

ومې نه غوښتل له مور څخه مې څه پټ کړم. لیکلې یې وو :

"ښاغلی ویلیامه! دغه ځانغوښتنه ما ته راکړه. و مې نه شوای کولای، د دغې تابلو د نشتوالي اندېښنه درسره ملګرې پرېږدم، زه ګومان کوم د هنر په مینه کې د ذوق تر اور چې مورِ سوځې بل ښه خوند نه شته؛ اوس ستا پر ځای زه خوند اخلم."

مادلن

د مور سترګو ته ځیر شوم، چې څه به وایي. خومره به عقل ته اجازه ورکړم چې په مادلن پسې لاړ شي، تر کومه حده به زړه پرېږدم چې د رنځ په کیفیت کې اوبه شي.

سر یې کښته ونیو او ځان یې پر مېز باندې د پرتو لوښو په راټولولو بوخت کړ.

ومې ویل:

"مورې! تا واورېدل چې مادلن څه لیکلي وو؟"

پر بشقاب باندې مې د هغې د یوه ځاځکي اوښکې له غږ څخه ځواب واورېد، غلی شوم، غلی یې څنګ ته ورغلم، مچ مې کړه، بیا خپلې خونې ته وختم.

□□□

وروسته تر دې چې یو ګړی د خیال په توپان کې حیران ولاړ وم، نه پوهېدم د څه په اړه فکر کوم، اوښکې مې روانې شوې، زړه مې ډك و ډېر مې وژړل، تر هغه توپان او سېل وروسته مې د زړه اسمان تك شین شو، وتوانېدم خپل هغه فکرونه وګورم، چې ځینې یې په هوا کې ګرځېدل، ځینې یې کښته پورته کېدل، یو ګړی به سره جوړېدل، وروسته به بېرته ورانېدل.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



و مې ليدل چې د مادلن دغه ډالۍ هغه څراغ دی چې زموږ د نېستۍ او ضرورت پر اسمان بل شوی، دغه زما نېکي، قصاص او لنډفکري د ښکلا غوره ګڼل وو، په خواشينۍ او حيرانۍ سره مې وليدل چې مادلن تر ما ډېره پوهه او پر هنر مينه ده.

کرار، چې مور مې ويښه نه شي، کتابتون ته لاړم، د شپانه تابلو ته مخامخ ودرېدم. نه پوهېږم، څومره وخت تېر شو او ما د کومو عالمونو سفر وکړ، چې مادلن د تابلو له منځه را څرګنده شوه، د شپانه شپېلۍ په غږېدو شوه، مرغانو له شوقه وزرونه رپول، ونو يو د بل پر اوږو سرونه ايښوول او مستي يې کوله، پرښتو د ورېځو پرده ليرې کړه، سپوږمۍ چې څومره ښکلا درلوده، تر مادلن يې قربان کړه، وږمو يې د زلفو څپې په لاس کې اخيستې وې، څومره چې يې غزولې، نه تمامېدې. اورېدل مې چې مادلن کرار-کرار خبرې کوي او ليدل مې چې د مادلن د خبرو په جادو، د طبيعت ناسپړلې غوټې راته پرانيستل کېږي او د نه باور وړ ښکلاګانې راڅرګندېږي.

کرار ــ کرار مې د مادلن وجود دخيال او سترګو ټوله فضا ونيوله، خو د حيرانۍ خبره دا ده چې مادلن د اليس په بڼه وه، هر څه چې به مې هـڅه کوله، هغه مانا او صورت مې سره نه شو بېلولای. هغه شپه مې تر سهاره په خوب او ويښه کې مادلن او اليس ليدلې، دوی په ګډه رانه هغه معشوق جوړ کړی و، چې د تقدير لاس زما د هيلو پر ډېرليک کښلی و، خو افسوس چې د تل لپاره په خوب او خيال کې نه شو پاتې کېدی.

د سهار د ډوډۍ په وخت کې مې د مور له الوتي رنګ څخه وپوهېدم چې هغې هم شپه په ناکرارۍ سره تېره کړې. سترګې مو سره وجنګېدې، په يوه نظر کې مو د يو بل پر خپګان- اقرار وکړ .

ومې ويل:

"مورې! تا د مادلن له پلار (توماس) څخه د هغې تابلو پيسې نه وې اخيستې؟"

ويې ويل:

"ولې؟"

" ــنو دا د مادلن ډالۍ ده چې ماته يې رالېږلې ده؟ زه خو څه نه لرم چې په بدل کې يې ورکړم، دغه تابلو به بېرته ور ولېږم؟"

يوه ترخه موسکا يې پر شونډو وغزېده او زياته يې کړه:

"ته دومره کلك زړه نه لرې چې مادلن خوابدې کړې. هڅه وکړه د دغې ډالۍ ځواب بل وخت ورکړې."

د دې جملې مانا مې له مور څخه په سترګو کې وغوښته، د هغې په سترګو کې مې ولوستل چې د دې ډالۍ بدل يوازې مينه او نېکي ده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومې ويل:

"څه وکړم، څکه څومره چې د مادلن پر هوښ، ذوق او ښېګڼو مې مينه راځي، اليس مې هومره زياته په نظر کې ژوندۍ کېږي. که ته زما پر ځای وای، څه به دې کول؟"

تر لږ فکر وروسته يې وويل:

"خدای (؟)دې نه کړي، چې زه دې ستا د زړه په چارو کې لاسوهنه وکړم، ازادي او اختيار زموږ ستر نعمتونه دي، خو د زړه ازادي تر هر اختيار اوچته ده، زه يوازې دومره پوهېږم چې د جمال دغه پانګه يوه بله شمعه ده چې طبيعت ستا په لاس کې درکړې، پام دې وي، که ته سوځې، نور خلك له ځانه سره ونه سوځې"...

؟؟؟

تمامه ورځ دوه زړی وم چې د مادلن دوی کره لاړ شم، که له اليس سره د تينس لوبه وکړم؟ په دې وخت کې د اليس يو يادښت را ورسېد چې ليکلي يې وو: "زه نن کار لرم، نه شم کولای درسره لوبه وکړم."

د شك له منګولو څخه خلاص شوم، د مادلن ليدو ته لاړم. کله چې مې د وره زنګ وواهه د وره پر سر کړکۍ پرانيستل شوه، د هغې ورځې غونډې نه وه، موسکۍ شوه، له هغو دوو سترګو څخه د مينې وړانګې راباندې خورې شوې. ور يې پرانيست او ويې ويل:

"راځئ، مهرباني وکړئ."

کله چې مېلمستون ته ننوتو، د هغې ورځې غونډې نه وه چې د ناستې ست يې هم و نه کړ، څوکۍ ته يې اشاره وکړه او ويې ويل:

"کښېنئ."!

راياد مې شول چې يوه پوه ويلي يې وو: له هر چا سره چې مينه کوو، هغه بند دی چې د مقابل کس په زړه کې يې اچوو .

له ځان سره مې وويل :

"دا مهرباني هم د هغې مينې تړون دی چې ما ته يې راکړې ده، څکه لومړی ځل يې ولې دومره په ښه سترګه نه راته کتل."!

له ځان سره مې وويل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"هغه مینه هم زموږ د لحاظ له کبله وه، ګنې مادلن راسره مینه نه درلوده."

په ګستاخۍ سره مې وپوښتل:

"پر موږ د هغې تابلو د خرڅونې له کبله ستا پلا څومره ګټه غواړي؟"

یو څه غلې شوه، ویې ویل:

"د هغې تابلو خپله بیه درڅخه غواړو، خو اوس نه، زه به انتظار وکړم، کله چې دې زده کړې بشپړې شوې او ښې نومرې واخلې، که مو بیا ښې پیسې تر ګوتو کړې، چې د دې تابلو پیسې راکړای شئ، هغه وخت بیا ما ته خپلې روپۍ راکړئ."

ومې ویل:

"ښه به شي که د خپلې مهربانۍ په وجه مې پوه کړئ، دا مهرباني له دې کبله ده چې موږ غریب یو؟"

رنګ یې د الوبالو غوندې سور واوښت، په یوه لنډ نظر یې داسې راز راته ووایه، چې ما وانه وربد، خو زما زړه پوه شو او وایې وربد. په خیال کې رااوچت شوم، د هغې لاس مې ونیو او مچ مې کړ، وروسته تر دې چې دواړه غلي وو، ویې ویل:

"ته د هرې ښځې په وجود کې له مورنۍ مینې څخه لږ خبر یې."!

پرته له دې چې زما ځواب ته منتظره وي، همدغه راز د دې لپاره چې خپله پټه خواشینې پټه وساتي، اوچته شوه او ویې ویل:

"اجازه راکړئ چې تاسو ته پیانو وغږوم."

د سندرو د مجموعې د پاڼو په اړولو بوخته شوه، له نبکه مرغه زما د خوښې هنرمند( شوپن ) یې وټاکه او هغه سندره یې وغږوله چې ما ته تر نورو زیاته ګرانه وه. ما دغه ټوټه تر سلو ځلو هم زیاته اورېدلې وه، خو هېڅ وخت مې په کې دومره سوز او درد نه و حس کړی. زه نه شم ویلای چې مادلن به استاده وه، یا به یې قدرت او مهارت درلود، خو که ووایم چې په مهربانۍ سره یې ساز غږاوه، نو داسې توري مې کارولي چې بېځایه به نه وي.

خو هغې نه یوازې په مهربانۍ سره ساز غږاوه، بلکې په مهربانۍ سره پر لارې تله، په مهربانۍ سره کښېناسته او اوچتېده. کتل، غږ او حرکات یې ټول مهربان وو.

ما په هغه وخت کې دومره خپګان درلود، که بل چا لرلای، غږ به یې زیات ښایسته کېده: هغه سندره مې دومره په سوز او شور سره وویله چې ما یې تصور هم نه شو کولای، مادلن دوه وارې ساز بند کړ او ویې ویل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"افرین."!

خو نه پوهېږم ولې داسې ښکارېدل لکه الیس هم چې زما غږ اوري او افرین راته وایي.

نورې سندرې مو هم وغږولې، ومو ویلې، د شوق او ذوق په نشه دومره مست وو چې بېخوده وو، وخت مو هېر و، د یوه ټوخي په غږ په خود شوو: د مادلن پلار کوټې ته راننوت او زموږ شا ته ودرېد. تر سلام او روغبړ وروسته یې پوښتنه وکړه:

"د هغې ځوانۍ لپاره افسوس چې په ساز او آواز کې تېره شي، د هغو پیسو لپاره افسوس چې په بېځایه خیالونو ولګول شي، تاسې پوهېږئ، مادلن د هغه شپانه تابلو چې بېرته یې تاسو ته درلېږلې، زما څخه په څو روپیو رانیوله؟"

ګونګ او حیران پاتې وم.

ویې ویل:

"یو سل او پنځوس ډالره مې ترې ګټه واخیسته، له پنځوسو ډالرو څخه تېر شوم، ځکه چې بل چا دوه سوه ډالره ګټه راکوله. تاسې له دې نجلۍ څخه وپوښتئ چې د څه لپاره یې خپلې ذخیرې ته دومره ګټه ورسوله!! که مینه شوې وي، باید له دغه مرض څخه کار واخلي او له خپل کوژدن څخه ډالۍ تر لاسه کړي، نه دا چې یوازې دا ډالۍ ګانې ورکړي"...

مادلن په خبرو کې ورولوېده:

"پلار جانه! بس کړه."!

پلار یې وویل:

"ولې رښتیا وایم؟ نه مې پرېږدې چې خبرې وکړم."!

په خندا_ خندا له کوټې څخه دباندې ووت. ستونی مې له ژړا او د غیرت په چغو ډک و، په دې نیت مې د خدای په اماني لاس اوچت کړ، چې لاړ شم او هغه تابلو بېرته را ولېږم. خو مادلن په الوتي رنګ له زارۍ او بخښنې څخه په ډک نظر وویل:

"هیله کوم کښېنئ، زه درته کیسه وکړم."

وروسته تر دې چې یې د موسیقۍ کتاب کرار کت کړ او د پیانو تخته یې راکښته کړه، راغله ما ته نژدې کښېناسته، ویې ویل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"پلار مې ښه سړی دی، خو يوازې هڅه کوي چې بايد هوښيار وي، ماده پرستي وکړي، حال دا چې پوخ عقل او زياتې تجربې لري، که ماديات يې د زړه په درد ونه خوري، د بې ارزښتې ډېرې غوندې يې ليرې غورځوي، ټو ل عمر يې د خپل زړه په وژنه کې تېر کړی، خو زه پوهېږم چې زړه يې څنګه ژوندی دی، ډېر لږ کسان پيداکيږي چې د ده غوندې هنر وپېژني او د هنر نازکيو ته يې پام شي. دا څنګه امکان لري چې هنر پوه عقل دې له هنرپاله زړه سره تړاو ونه لري!

موږ د هنر او ادب ځينې استادان وينو چې عقلونه يې زړونو ته لاره نه لري، هغه څه چې يې له ادب او هنر څخه زده کړي، د ځانښودنې همدغه راز، مقام او مال ته د رسېدو لپاره يې په کار اچوي، لکه دا ټول نصيحتونه، پندونه، حکمت او ماناګانې چې تشې وسلې وي او دوی يې په خپله جګړه کې کاروي.

موږ بايد په ظاهر ونه غولېږو، ځکه چې بيا همدغه هوښيار او مادي خلك له نازکبينيو، هيلو، خوښيو، د زړونو له غمونو، يانې انساني ژوند (نه چې مادي ژوند) څخه بې برخې نه دي. دوی د فطرت غوندې خپل زړونه زندان ته اچولي او خپل عقل يې لکه لوی کولپ د دغه زندان پر دروازه راځوړند کړی دی. بايد د زړه درد يې دوا کړو، ځکه چې د ظالم عقل له لاسه ډېرې خوارۍ ګالي.

پلار مې د ساز او آواز ډېر مينه وال دی، خو ده ته ارمان درېږي او وايي: هغه وخت چې د مادياتو په تر لاسه کولو کې لګېدی شي، موږ يې ولې په موسيقۍ کې تېر کړو، د ماده پرستۍ د مسلك له مخې وايي:

شعر، ګل، ساز او هنر زموږ دردونه، نه دوا کوي. زموږ هدف او هڅه بايد دا وي چې ښه وخورو، ښه واغوندو. خو زه باور لرم چې ځان تېر باسي،په زړه کې ښه پوهېږي چې ماده پرستي يوازې يو خيال دی، ځکه د ژوند مايه خو يوازې يوه ګوله وچه ډوډۍ او پلاستيکي خېمه هم کېدی شي. نور نو که هر څه غواړو ټول وهم او خيال دی. خو د ماده پرستانو خيال يو بې اروا جسم دی، خو د فکر د خاوندانو زړونه د اراواو غوندې دي. هغه څه چې يوه ورځ بايد د بشر ماشومان د نېکمرغۍ او ودې پړاو ته ورسوي اروا او مانا ده، نه بې اروا جسم"...

يو څه نوره هم وغږېده، دا چې خپل کورني رازونه يې راته ويل، موخه يې دا وه چې ما په خپله دوستي او همرازي ومني.

د ادب غوښتنه داسې وه، چې بايد ما هم خپل رازونه ورته ويلای او د دوستۍ يوه نخښه مې ورسپارلای، هر څه چې مې فکر وکړ، له تېستۍ پرته، چې هغه هم مادلن ته څرګنده وه، په خپل کور کې مې بل راز ونه موند. د مادلن د پلار (توماس) د چلند په ليدو مې د اليس خوی او عادت په ذهن کې را ژوندی شو، ومې ويل:

"د نارينه وو ماده پرستي دومره حيرانوونکې نه ده، بلکې د ښځو ناوړه ده".

يوه شېبه چوپ پاتې شوم، ښايي پښېمانه به وم، چې ولې غواړم د اليس غيبت کوم. مادلن وويل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ځکه چې ښځه نرم زړه لري او خدای (ج)د دې لپاره پیداکړې چې د نارینه د ډېرو زړونو تر منځ یو دېوال وي، که نه دنیا ورانېږي."

ومې ویل:

"الیس هغه نجلۍ ده چې هڅه کوي دغه نرم زړه د ډبرې غوندې کلك کړي، چې شعر، ساز او نور شفاف احساسات په کې لاره ونه مومي. که څه هم تاسو د خپل پلار په اړه وویل: زه هم ګومان کوم الیس لکه څنګه چې ده، داسې به نه وي."

غلی شوم. مادلن وپوهېده، چې څه حالت لرم، خو زه هغه وخت د ناپامۍ له کبله ونه پوهېدم چې مادلن مې په راز وپوهېده. ویې ویل:

"که ښځه مادي او ماده پرسته وي، هغه ګل ده چې ځان په اغزي پورې نښلوي، تاسې کولای شئ د ګل له وجود څخه هغه اغزي لیرې کړئ."

د دې راز په ویلو سره مې د زړه غوټه وسپړېده، د الیس د وجود له بڼ څخه مې اغزي، کرکه او تعصب لیرې کړل او ځان ته مې یو ښکلی جنت جوړ کړ. پر خپل بري زیات مغرور شوم، ځان مې له مادلن څخه موړ ولید. په ګستاخۍ سره مې وویل:

"په پلانۍ ورځ چې زما د زېږېدنې جشن ته راځئ، وبه ګورئ چې الیس څومره ښکلې نجلۍ ده، څومره ښې خبرې کوي او خاندي"...

مرموزه موسکا یې وکړه او ویې ویل:

"هغه نجلۍ چې تاسو غوره کړې، کېدی شي ستاسو لپاره بېسارې وي."

مادلن راته یوه ښوونکې او لارښوده وبرېښېده، چې ما ته د نېکمرغۍ لار راښیي، کله چې دې له ښوونکي څخه مننه وکړه، خپل مسئولیت دې تر سره کړ. ډېره مننه مې ترې وکړه او کور ته ستون شوم.

* * *

د ډوډۍ په وخت کې مې د ورځې ټولې پېښې مور ته وویلې. زه منتظر وم، چې هغه به د الیس په برخه کې د مادلن غوندې لارښوونه راته وکړي، خو هېڅ یې ونه ویل، یوه شېبه یې د هغو سندرو په باب راسره خبرې وکړې، چې د مادلن دوی کره مو ویلې وې، دا چې مادلن ولې دومره ښکلی ساز وهي، دې نتیجې ته ورسېده چې:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"هنري توكي د هنرمند د اروا استازي دي، غړوونكي يا سندرغاړي په ډېر قوت او لاسبري سره، لکه څنګه چې له هنر څخه تمه کېږي، په موږ کې شور او ځوږ را پاروي. که څوك دغه پارونه نه شي کولای، هغه مهربانه او کړېدلی زړه نه لري"...

خبره مې بلې خواته کش کړه او ومې ويل:

"دا امکان لري چې د چا خوی او خټه بدله کړو؟ ايا کېدی شي چې د مادلن له وينا سره سم د اليس له ګل وجود څخه د ماده پرستۍ اغزي ليرې کړو؟"

يوه څه چوپه پاتې شوه ويې ويل:

"مادلن ښه نجلۍ ده، دومره ښه، چې ته يې اوس نه شې درك کولای."

ومې ويل:

"اليس ولې د مادلن غوندې نه شي کېدی؟"

ويې ويل:

"افسوس چې خوی او طبيعت زموږ له واکه بهر دی، کنه هر چا به کولای شوای خپل ذات او فطرت له نيمګړتياوو او عيبونو څخه پاك کړي، هغه خلك چې کينه ګر او بېرحم دي، پوهېږي چې دا ټول کارونه يې عيبونه دي، نو ځکه له نورو څخه خپل عيب پټوي، نورو ته د پرهېزګارۍ درس ورکوي، خو څه ګټه لري؟ ځکه چې دوی د خپل جابر طبيعت په وړاندې هيڅ نه شي کولای، يوازې سن او تجربه طبيعت ته تر يوه حده بدلون ورکوي، په دې شرط چې له خدای (ج)څخه وغواړو موږ ته ښه او غوره لارښوونه وکړي."

ومې ويل:

"مينه، د سن او تجربې کار کوي، زه باور لرم د اليس طبيعت ساده او ښه دی، زما په خاطر به له هوسونو او ماده پرستۍ څخه لاس واخلي."

له دې وېرې چې بل ځواب وانه ورم او د لړزانده اميد دغه ودانۍ مې ونه نړېږي، اوچت شوم، د مور تندی مې ښکل کړ او خپلې کوټې ته لاړم.

* * *

هغه شپه او نورې شپې، په خوب او ويښه کې د مادلن هغه ملکوتي غږ او خبرې چې:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ښځه ګل ده، مورې په نرمۍ سره کولای شو له هغوی څخه اغزي ليرې کړو"، زموږ له هغو ويل شويو سندرو سره يو ځای کېدې او زه به يې له دې نړۍ څخه بلې خوا ته بېولم، په دې نوې نړۍ کې به مې چې هر څه ليدل د عيش او خوښۍ ځايونه به وو.

سبا مازيګر د بري په هيله شپه ځای (ليليې) ته لاړم، چې له اليس سره لوبه وکړم، خو هغه نه وه راغلې، له يوه او بل څخه مې د هغې پوښتنه وکړه، چې پرون او نن ولې اليس نه ده راغلې، ويې ويل :

"دا دواړې ورځې له "هانري" سره لاړه."

هانري نه شتمن و، نه ښايسته، چې زما د خپګان سبب شي، طب يې لوست، يوازېنۍ ښېګڼه يې دا وه چې په ټولګي کې به اولنومره و، ډاډ مې درلود چې دی په دې فضيلت سره د اليس زړه نه شي خپلولای. خو بيا هم اندېښمن شوم چې اليس ولې له هانري سره په چکر وتلې او له ما سره تر لوبې يې، هغه ته ترجيح ورکړې ده؟.!

له هغه ځايه راووتم، کله چې مې غوښتل په خپل موټر کې سپور شم، نه پوهېدم چېرې لاړ شم، د اليس شين موټر مې وليد چې د سړك پر غاړه ولاړ و. په دې ګومان چې اوس به يې درولی وي او دا به له دکان څخه څه رانيسي. خپل موټر مې هم د هغې د موټر څنګ ته ودراوه او منتظر شوم.

څه شېبه وروسته د هانري موټر هم راورسېد او د ليليې وره ته يې نژدې ودراوه،اليس راووته او ليليې ته ننوته. هانري راسره روغبړ وکړ او لاړ.

زه هم په اليس پسې ننوتم، لکه هېڅ کومه پېښه چې نه وي شوې، روغبړ مو سره وکړ او په لوبه بوخت شوو. د دې لپاره چې ځان ته مې ارامي وربخښلې وي، د مادلن نصيحت مې ياداوه: "ښځه ګل ده".يا به مې هغه سندره زمزمه کوله، چې د مادلن خوښېده. خو اليس راته غوږ نه نيوه، نه يې هم ستاينه کوله، کله چې مو دوې لوبې وکړې، لاړو او پر څوکۍ کښېناستو، ويې ويل:

"ما له ليرې وليدې چې زما د موټر څنګ ته ودرېدې، تا هم وليدم چې له هانري سره راغلمه، پوهېدلی به يې چې پرون هم ورسره تللې ومه، ولې دې ډك زړه نه تشوې او څه نه وايې؟ زه خو دې په څېره کې لولم، چې څومره بد حال لرې!

ومې ويل:

"زه به دې هکله ځکه خبرې نه کوم چې ستا پر بدن باندې به دغه راټول شوي اغزي زه په خپل لاس ليرې کوم"...

يوه زوروره- ترخه خندا يې وکړه او زياته يې کړه:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ځومره به ښه وای چې ته د خیال او خوب له دغې نړۍ څخه بهر راوتلای او ژوند ته دې په غور کتلای او پوهېدای چې ښځه په څه خوشحاله او راضي کولای شو. زه اقرار کوم چې ستا پر ښایست مینه یم، خو له نېکه مرغه چې په دې مینه کې مې خپل عقل له لاسه نه دی ورکړی او پوهېږم چې له ښکلا سره خوشحاله ژوند نه شو کولای؛ ښایست ژر له منځه ځي، مینه او هوس له ژونده بېل دي. ته روښانه راتلونکی نه لرې، ځکه تل په ساز، اواز، شعر، انځورګرۍ او نورو شیانو پسې فکر کوې، چې د نورو د خوښۍ، خو د هنرمند د بدمرغۍ سبب ګرځي.

سمه ده چې انجنیري به لولې، خو باور وکړه چې ته به دې شاعرانه طبعې سره کوم مقام ته نه شې رسېدای، شته به لاسته رانه وړې. هانري ښکلی نه دی، خو ښه درس وایي او پر طب مین دی، ټول خلك وايي چې یوه ورځ به یو لوی ډاکټر شي. زما عقل، د هغه بد رنګي ستا تر ښایست غوره ګڼي."

لکه تر ټول تریخ حقیقت چې اورم، ګنګس او وچ پاتې وم، د مادلن نصیحت او تسلي ته مې تکیه کړې وه، چې ونه لوېږم، دواړه غلي او په چورتونو کې لاهو وو، تر دې چې د الیس ژړا په خود کړم، تر لاس مې ونیوه او ومې ویل:

"ووایه ګرانې! ولې ژاړې؟"

ویې ویل:

"نه پوهېږم، څه وکړم. د عقل او زړه تر منځ راځوړنده یمه، وېرېږمه چې اخر د تېروتنې په توره کنده کې ونه لوېږمه، هیڅ نه پوهېږمه چې ښکلا راباندې ګرانه ده که شته؟"

ومې ویل:

"ته ځان ما ته راوسپاره، نېکمرغي له ما څخه وغواړه. قول درکوم چې له هره اړخه به دې خوشحاله او راضي ساتم."

یو څه فکر یې وکړ، ویې ویل:

"باور نه لرم"!...

اوچت شولو او په لوبې مو پیل وکړ.

☒☒☒

د شپې مې ټوله کیسه مور ته وکړه او دا مې هم ترې وپوښتل چې د مادلن لاربښوونه څنګه پر الیس عملي کولای شم، یانې څه وکړم چې له دې ګل څخه دغه اغزي لیرې کړم؟

مور مې په شونډو کې موسکۍ شوه او ویې ویل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"زه نه پوهېږمه؛ ښه به دا وي چې له مادلن څخه وپوښتې."

موخه يې دا وه چې مادلن له ياده ونه باسم، د هغو دواړو نجونو صفات سره پرتله او يوه په کې غوره کړم. دا لاربښوونه مې ومنله، خو پايله دا شوه چې دواړه داسې راته وبرېښېدې، لکه په يوه مخ کې دوې سترګې، هېڅ توپير مې نه شواى کولاى. يوه مې تر بلې غوره نه شوه ګڼلاى .

اليس جسم وه، مادلن يې اروا. کله چې مې له اليس سره لوبه کوله، د مادلن غږ به مې اورېده، د هغې پخې او مهرباني خبرې مې اورېدې، کله چې به بيا مادلن پيانو غږوله او زه به يې شا ته ولاړ وم، سندره مې زمزمه کوله، د اليس اوږدې زلفې به مې ليدې چې پر اوږو به يې خورې وې، په خيال کې به مې د وېښته هر تار مچاوه او د زلفو هر ول ته مې په خپل اواز او سندره کې يوه چغه او يوه کړيکه ځايوله .

اليس داسې نه وه چې زه دې خپل زړه ورته تش کړم، زموږ خبرې اور او اوبه وې. کله چې به وخت ګوتو ته راغی، هغې ته مې د مينې، شعراو هنر خبرې کولې او د ازادۍ د جنت په ژبه به مې د شتو او بډايۍ ځراغ ورته لګاوه.

په دې شوق چې دا ځل راسره ملګرې شوې، نو ټول به وسوځېدم، خو هغې به ناځاپه د پوزخند او ملنډو سرې اوبه راباندې شيندلې، زه به يې مړ کړم. که يوه ورځ به راسره جوړه وه، بله ورځ به راسره ډېره ورانه وه، تر هغه وخته چې به مې د ماده پرستۍ زنځير ته غاړه نه ور نژدې کوله او ورتسليمېدم به نه، روغه به يې نه راسره کوله.

بيا يې هم راسره مينه درلوده، له هانري او له نورو مينانو څخه يې لاس اخيستی و. ما به هم د مادلن په باره کې هېڅ هم نه ورته ويل، ځکه راته ځرګنده وه چې څومره ځانپرسته او حسوده ده، آن زه به چې د خپلې مور په اړه غږېدم، په غوسه کېدله به .

خو مادلن داسې وه لکه خدای (ج)چې خپله يوه ملايکه زما د همرازۍ لپاره رالېږلې وي، زړه به مې ورته ټول تش کړ، زما او د اليس تر منځ چې به هر څه پېښ شوي وو، ټول به مې ورته ويل، له هغې څخه مې چاره غوښته، د هغې په سترګو کې مې د بېځايه غرور او ځانغوښتنې څرك نه ليده، ما به چې د هغې پرسينه دا تېره خنجر ښخاوه، خوارکۍ به دردونه ګالل، خو هيڅ يې هم نه ويل.

که د مادلن ښېګڼه او پراخ زړه نه وای، اليس نه شوای کولای ما دومره وځوروي، ځکه هر ځل به چې د اليس په لاس ټپي کېدم، د مادلن په لاس به رغېدم، کله چې به د اليس له مينې څخه نهيلی کېدم، مادلن ته به تلم، د هغې له خلاصې ټنډې او صفا اروا څخه به مې د مينې، زغم او صبر درس اخيست، لا به هيله من کېدم چې کېدی شي يوه ورځ زما د صبر او زغم له کبله اليس د مادلن غوندې ښه او مينه ناکه شي.

اليس او مادلن، دواړو زده کړې ته هڅولم. دواړو غوښتل چې په ټولګي کې اولنومره شم، کله چې ښوونځی او پوهنځی پايته ورسوم يوه ښه دنده ولرم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما به هم ډېره هڅه کوله؛ ځکه لومړنۍ موخه مې دا وه چې مور مې د کارونو له جنجاله بېغمه کړم او یوه کرونده ورته رانیسم، په دې توګه به یې د زړه ارمان پوره شي .

یوه ورځ مې مادلن ته د خپل بد قسمت او د پلار د ماتې کیسه کوله، ویې ویل:

"مور مې د دې لپاره چې ما په کار او کورنۍ سپما اموخته کړي، له شپږکلنۍ څخه به یې د کور کارونو ته هڅولم، هره ورځ به یې پیسې راکولې، ما به هغه پیسې راټولولې، اوس ډېرې شوي، له هغه وخته چې اوسنۍ دنده مې پیل کړې، نیمایي معاش مې پلار ته ورکوم او نوره یې ذخیره کوم، اوس مې ښایسته ډېرې پیسې سپمولې دي، که هر څومره دې په کار وي زه یې په پور درکوم، کله چې شتمن شوې، بیا یې راکړه."

ومې ویل:

"خدای (ج)دې نه کړي، چې ستا دا قرباني ومنم، د هغې تابلو له کبله دې هم راباندې ډېر احسان پروت دی."

"_خو که زه ستا پر ځای وای، د خپلې مور په معاش به مې ګوزاره کوله، هغه بېساري هنري اثار به مې نه پلورل، که تاسې سختۍ وزغمئ، باور لرم چې مور به مو څه درته ونه وایي، ځکه ښه ښځه خپل کور په لږو پیسو هم چلوي، ستاسو مور ډېره ښه ښځه ده."

د مادلن نصیحت مې خپلې مور ته ووایه. خوښ یې شو، ویې خندل، سبا ته یې زموږ خدمتګاره مېرمن "ګوستاو" ته ځواب ورکړ، د کور کارونه مو خپل تر منځ ووېشل، ساده ډوډۍ به مو خوړله او غیرضروري شیان مو نه کارول. زما د کلیزې لپاره مو چې کومه طرحه جوړه کړې وه، نوره هم وړه کړله، ومو ویل: که پر چا ګران یو، په دغه کوچني محفل به هم قناعت وکړي.

د جشن ورځ راورسېده، په الیس پسې لاړم، هغه او د هغې پلار مې راوستل، ومې لیدل چې د الیس په لیدو مې د اکا د زوی "مېچل" سترګې وبرېښېدې او په سپین سترګۍ سره ورنژدې شو، زه هم وړاندې شوم او بېواکه مې الیس د خپلې کوژدنې په توګه معرفي کړه، خو الیس راڅخه سترګې بلې خوا ته واړولې، خو ما ونه لیدل چې دغه اعلان مې پر هغې څه اغېز وکړ، په دې وخت کې مادلن او پلار یې (توماس) راننوتل، نور مېلمانه هم راغلل .

مور مې وویل:

"زموږ سږنی جشن ډېر ساده او کوچنی دی، خو په بدل کې یې مادلن لرو، چې تاسو ته به پیانو غږوي او ویلیام به تاسو ته سندرې وایي."

ټولو په خوښۍ سره لاسونه وپړکول، ما او مادلن په ساز او سندرو پیل وکړ، له الیس او مېچل پرته چې په یوه کونج کې سره غږېدل، نورو خلکو راچاپېر کړي وو، افرینونه یې راته ویل. کله چې به سندره خلاصېده، بله سندره به یې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښته. کله چې ټول پر خپلو ځايونو کښېناستو، يو څو دقيقې خو زما د اواز او د مادلن د پيانو غږولو صفتونه روان وو. مور مې وويل:

"که د مادلن په خاطر کې هغه پټ او ښکلي سازونه واورئ، نوره به هم درته ګرانه شي."

له مور څخه مې تردې روښان نظر او نصيحت غوښتلای شو؟

خو زما د سر سترګې، د اليس پر ښکلا دومره مينې وې، چې نه يې پرېښودم د زړه په سترګو د مادلن د اروا جمال وګورم.

هغه شپه اليس، له مېچل سره زياته نڅېده. زه د لومړي ځل لپاره د حسادت له درد سره اشنا شوم، ځکه چې هغې زيات مينه وال درلودل، خو تر اوسه داسې رقيب نه و پيدا شوی، چې د هغې زړه خپل کړي.

مېچل د نجونو د زړونو په خپلولو کې له هر چل او وسيلې څخه کار اخيست، ځکه چې په دې کار کې يې تجربه درلوده او د هغوی په غوښتنو ژر پوهېده. د خپلو شتو او بډايۍ په اړه به يې لاپې وهلې، نو ځکه مې باور درلود، چې اليس به يې هم په لومه کې بنده شي، ځکه هغه له ښکلا خوښونې سره_ سره د شتو په وړاندې بېواکه کېږي.

زما لپاره يوازېنی اميد دا و چې بايد د مېچل بېوفايۍ ته يې ځيره کړم او ورته ووايم چې زما د اکا زوی (مېچل) ستا په شان په سلګونو نجونې تېرايستلي او بيا يې خوشې کړې دي.

اټکل مې سم وخوت، سبا چې د لوبې لپاره ليليې ته لاړم، راته ويې ويل:

"په اليس پسې يو ځوان راغی او بويې تله ."

له داسې حالت سره مخ شوم، چې پخوا مې نه وليدلی، ستونی مې دومره له ژړا ډک شو، چې يو غوړپ اوبه مې هم نه شوای تېرولې. سترګې مې له اوښکو ډکې وې، خو يو څاڅکی هم ترې نه څڅېده، خوله مې د يوې ترخې موسکا له کبله خلاصه پاتې وه، هر څه به مې چې کول، نه راټولېده.

غوښتل مې غم مې مور ته ورسوم، خو په خيال کې مې وليدل چې هغې د اليس او مادلن تر منځ ښه توپير او قضاوت کړی، هغه پر حق ده. له دې کاره مې ډېره وکړه. غوښتل مې د مادلن دوی کره لاړ شم، داسې راته ښکارېدل لکه د يوه دښمن کره چې ځم !

خپلې کوټې ته لاړم او درس ته کښېناستم، ته وا سواد نه لرم، نه مې شول لوستلای، هر څه به مې چې لوستل، هېرېدل به مې. ډوډۍ ته د سر د درد په پلمه کښته نه شوم. ووېرېدم که له مور سره مخ شوم واك به مې له لاسه ووځي او ټولې خبرې به ورته وکړم، اوښکې به مې روانې شي او سلګۍ به ووهم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



☒☒☒

اليس سبا، بل سبا هم لوبې ته رانغله، هر شېبه لا پسې خپه کېدم، درېيمه ورځ چې ليليې ته لاړم، راته وويل شول چې:

"راغلې وه، تا ته يې يو ليك هم ليکلی."

يوه کونج ته لاړم او په لړزانده لاسونو مې ليك پرانيست: ليکلي يې وو :

"ګرانه ويليامه! ګناه ستا وه، هغه شپه دې ولې په خپل سر د خپلې کوژدنې په توګه معرفي کړم! آيا ستا له ناځرګند راتلونکي او زما د شتو خوښونې له مينې سره زموږ واده لېونتوب نه دی! داسې ښکاري لکه ته چې غواړې زما وجود تر خپل هوس قربان کړې، يا لکه زه چې غواړم خپل ژوند تر لنډمهالې ښکلا ځار کړم.

ايا عقل او انصاف دا بېرحمي منلای شي؟ کله چې دې بې له وجې زه خپله کوژدنه وبللم، دومره درته په غوسه شوم، چې نژدې و له کوره ووځم، يا هم چغې کړم او ووايم چې:

"ويليام دروغ وايي."!

ستا د اکا زوی "مېچل" وپوهېد چې په څه حال کې يمه. له حيرانۍ سره يې وپوښتلم چې څومره وخت کېږي تاسو کوژده کړې؟

ما ورته وويل:

"هېڅ وخت نه کېږي"...

بيا يې راته وويل:

"راځه چې سره کښېنو او خبرې وکړو، غواړم حقايق درته څرګند کړم."

غوښتل يې ستاسو د غريبۍ په هکله راته ووايي، خو ما وويل پوهېږمه. د هغه خوله مې ور بنده کړه. بيا يې د خپل ژوند کيسه راواخيسته، ومې ليدل چې رښتيا وايي، ځکه ما يې پلار يوازې په نوم پېژانده. هغه مې د دايه دوست دی، د هغه په اړه مې لږ پخواني معلومات درلودل.

مېچل راته وويل چې زه يې په څو مېلمستياوو کې ليدلې يمه، زړه يې راباندې بايللی او هڅه يې دا وه چې په سم وخت کې مې ځان ته وغواړي.

ته خو ماپېژنې او پوهېږې چې د غريبۍ ژوند راته مرګ دی. نو ځکه مې په هغه مجلس کې مېچل ته د واده خبره ياده کړه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه په حقیقت کې پر تا ورحمېدمه او له خپل وجود څخه مې یو دروند بار لیرې کړ. ته باور لرې چې زه دې د حُسن مینه واله یم او زیات رابانديې ګران یې، کاشکې مې دا مینه او لېوالتیا نه خرابولای، که څه هم زه ښکلاپرسته نه ومه، خو بیا مو هم نه شوای کولای ښه ژوند ولرو، ځکه ته له ښځو څخه زیاتې غوښتنې لرې: نه یوازې غواړې چې مېرمن دې ښکلې وي، بلکې دا تمه هم ترې لرې چې د څپو، د ورمو، زمزمو او مرغانو په نغمو هم وپوهېږي او تا ته یې وژباړي، تر ټولو سخته یې لا دا چې ستا سره د شعر او موسیقۍ په غېږ کې ژوند وکړي !

رښتیا؛ خپل ښایست ولې دومره ګران پلورې! وېره لرم چې دا ګرانه متاع به دې کوم رانیوونکی ونه مومي او همداسې به پاتې شي. ولې دې "مارګرېت" او "والانتین" چې دواړه ستا میناني دي، ونه ټاکلې؟

ښايي زما ښکلا ونه لرې، خو له نېکه مرغه چې یوه هم زما غوندې له بدایتوب سره مینه نه لري او یوازې پر ښکلا میناني دي. که ته تر نورو شیانو شعر او موسیقۍ ته ترجیح ورکوې، ولې مادلن، چې هغه شپه یې ښه پیانو وهله نه خپلوې. ما یې په سترګو کې ولوستل چې تا غواړي .

ګومان کوم ستا په بېلتون کې به یو څه وخت وځورېږم، خو د عقل او ارادې په ځواك به پر دې کړاو لاسبرې شمه، ته هم باید د نارینتوب په قوت ځان خواشینۍ ته ورنه کړې، ځکه معشوقې ته رښتینی مین هغه څوك دی، چې خپله معشوقه بل چا ته وسپارلای شي، خو خپه نه شي. په دنیا کې معشوقې ډېرې دي، خپلې غوښتنې دې لږې کړه، ځان ته یوه داسې معشوقه ولټوه چې د ژوند له کچې سره دې برابره وي .

له بده مرغه، هغه څه چې طبیعت په تا کې زیات پیدا کړي، رانه احساسات او زیاتې هیلې دي او هغه څه چې یې لږ درکړي، منطق او تجمل دی. له ټولو بد یې دا حُسن، صورت، ښکلی اندام او ښایست دی، چې تا نه پرېږدي، خپل ځان وپېژنې.

په هر حال، زه دې نېکمرغي غواړمه. ته اوس نه شې کولای پهلوان شې او د دنیا او تقدیر لارې بدلې او ما خپله کړې، دعا کوم چې دنیا ستا له هیلې سره سمه پر مخ لاړه شي.

د دې لپاره چې یو بل ونه وینو او د یو بل مینه او عادتونه له یاده وباسو، همدغه راز له خپلې خوښې وړ نجلۍ: مارګرېت یا والانتین سره مینه وکړې، زه د لوبې دا ځای د تل لپاره پرېږدم."

ستا دوسته الیس

☒☒☒

په کړس ـ کړس مې وخندل، ومې ویل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"الیس! بېغمه واوسه، زما په شان د ټینګې ارادې خاوندان ستا په شان د معشوقو په تګ نه خوابدي کېږي....!

په بېړه د مادلن کور ته لاړم، خو زنګ مې ونه واهه، یوه شېبه هملته ودرېدم، بېرته خپل کور ته راغلم او د کار مېز ته کښېناستم، لکه څراغ مې چې رڼا ونه لري، کوټه مې دومره تیاره وه چې په سختۍ سره مې ساه کښله.

له هر کتاب څخه مې یو غږ، یوه چغه، یوه خندا او یوه کړیکه اورېده، ټولو په طنز، پېغور او کنایې سره راته ویل:

"ته ښکلی نه یې، ته بدرنګه یې. یوه ښکلې نجلۍ هم درسره مینه نه لري، ګنې الیس به یوازې نه پرېښودې او مېچل ته به نه تله". . . !

اوچت شوم او ځان ته مې په هنداره کې وکتل، ځان ته مې وکتل، چې څومره وېروونکی او بدرنګه یم. دواړې سترګې مې د ړندو غوندې وې، د ماتو شمعو غوندې زما په مخ کې ښخې شوې وې، وېښتان مې د مارانو غوندې سره پېچل شوي وو او زما د وژنې لپاره راکښته ځوړند وو! . . . له هندارې څخه مې سترګې واړولې، چیغې مې کړې:

"دا زه نه یم، بل څوك دی". . . .!

له دې وېرې چې لېونی نه شم، له ورځنیو جامو سره یو ځای پر خپل کټ وغزېدم او برستن مې پر ځان راکش کړه، له ځان سره مې وویل:

"زه باید نارینه واوسم! که یوه الیس ما ونه غواړي، تر هغې سل نورې ښکلې ما غواړي . . الیس یوه ښایسته مجسمه ده، خو اروا نه لري، چې زما سره والوزي، زړه نه لري، چې ذوق او هنر ته یې ورکړي. څومره ښه شول چې مېچل دغه بار راڅخه واخیست، پرېږده چې دوی لاړ شي او ګران بیه شیان رانیسي. که څوك د مادلن غوندې په یوه انځور کې ننداره ونه کړای شي او په هره څنډه کې یې سلګونو حُسنونه ونه ویني، له هر جمال سره ونه وایي او وایې نه وري، د مینې له شرابو څخه مست نه شي، که په خپل کور کې ډېرې ښې تابلوګانې ولري، بیا هم ګټه نه لري. که څوك د مادلن غوندې د سپوږمۍ غلې زارۍ وا نه وري، نه شي کولای، د هغې غوندې پیانو وغږوي. که تر ټولو ښه پیانو هم وي.

څومره ښه شوه چې د الیس دروند بار راڅخه لیرې شو، تر دې وروسته به د بڼکې غوندې د مادلن پر وزر راځړېږم او تل به د خوښیو په آسمان کې یم. . . .

خو دغو خیالونو زما دخاطر توپان غلی نه کړ، په ما کې یوه چغه اوچته شوه:

"یوه نجلۍ هم د الیس غوندې ښکلې نه ده، که هغه دې ونه غواړي، له نورو څه ګیله". . . .

کله چې د ماښام د ډوډۍ غږ وشو، پوه شوم چې ډېره موده کېږي، ژاړم. سترګې مې تکې سرې وې او پر اننګو مې د اوښکو نخښې ښکارېدې. نه مې غوښتل چې مور مې په دې رمز وپوهېږي. ځکه څو ځلې یې راته ویلي وو:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ستا د پلار، له شکایت، ژړا او عجز څخه بد راتلل، ته باید هېڅکله هم ونه ژاړې، ځکه چې اروا دې ځپل کېږي . . . ."

څومره چې مې کولای شول، سترګې مې ومینځلې، له زینو څخه راکښته شوم، خو داسې مې وانګېرله چې مخ مې له ژړا او چغو ډك دی، په ورین تندي سره مې مور ښکل کړه، له دې وېرې چې ژړا رانه شي، د خبرو جرئت مې نه درلود، یوه شېبه یې په غور سره راوکتل، سترګې او خوله یې د حیرانۍ له کبله خلاصې پاتې شوې، خو څه یې ونه ویل او سترګې یې راڅخه واړولې.

هغه یوازېنی کس چې زما پر ټپ یې مرهم اېښودلای شول، ما ته مخامخ ناست و، خو په خپل خیال کې مې خپل پلار لیده چې په ارامې، مغرورانه او درنې څېرې سره مېز ته ناست دی. ماته ګوري چې هسې نه زوی یې د نارینتوب له اصولو سرغړونه وکړي.

په زړه کې مې چغه کړه:

"ای موري! راورسېږه، زه نه پوهېږم څه حال لرم! له نېکه مرغه د ټلیفون زنګ اوچت شو، ګومان مې وکړ، الیس ده، پښېمانه شوې به وي، خپل غرور پر ځان مین کړم، اوچت نه شوم، مور مې اوچته شوه، وامې ورېدل چې ویل یې:

"ښه دی . . . دا څه وایې . . . زه به ترې وپوښتم . . . ډېره مننه". . . .

راغله او کښېناسته، ویې ویل:

"مادلن ستا پوښتنه راڅخه کوله، ویل یې څو ورځې کېږي ستا څخه بې خبره ده، ولې دې د مادلن دوی کره، د نه تګ په اړه نه راته ویل؟"

سر مې کښته نیولی و، حیران وم چې څه ځواب ورکړم.

ویې ویل:

"داسې ښکاري چې خپه یې، کومه خبره خو به نه وي؟ ولې نه غږېږې؟ که پوه شم چې راباندې باور نه لرې، ډېره به خپه شم". . . .

ومې ویل:

"وبخښه، ګومان مې وکړ که یې درته ووایم، ښایي ګومان وکړې کوم نکل درته کوم، الیس پرېښودم او له مېچل سره لاړه". . . .

ټوله کیسه مې ټکي پر ټکي ورته تېره کړه، ومې ویل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



..."اوس ووايه، څه وکړم؟"

سترګې يې له اوښکو ډکې شوې، زياته يې کړه:

"افسوس چې خدای يو کس ته ښکلا او نېکي دواړه په يوه اندازه نه ورکوي، په دې هيله چې يو وجود به دغه دواړه نعمتونه ولري، بايد ارزښتمن عمر ضايع نه کړو، ښه شو چې اليس نور په ځان پسې راونه کښلې او ژر يې ازاد کړې. ټول خلك پوهېږي چې په دې نړۍ کې اصلي هوسايي او نېکمرغي ښه دوست دی، نه ښکلی صورت. زيات خلك تېروځي او خيال کوي، څومره چې ښايسته وي، هومره مهربانه او وفاداره هم دي. يانې سيرت، په صورت کېويني. دوی غلط کار کوي، دوی نه پوهېږي چې تر دغو تېرايستونکو ګلونو لاندې څومره زهرجن اغزي پټ دي، ما خو نه دي ليدلي چې د صورت جمال دې، د سيرت د حُسن ځای ونيسي او د نېکمرغۍ مايه دې وي، ښه خوی او مهربانه زړه د جمال او ښايست ځای نيولای شي".

ومې وپوښتل:

"امکان لري چې مادلن دې وکولای شي، زما په زړه کې د اليس ځای ونيسي؟"

"ــيقين لرم، همدا اوس هم ستا د زړه په سترګو مادلن تر اليس ښکلې ده. هغه څه چې موږ نېکمرغۍ ته ورلنډوي، د زړه سترګې دي، نه د سر سترګې".

اوچت شوم، د ذوق او خوښۍ له کبله مې مور ښکل کړه، ومې ويل:

"نه راته وايې چې بايد مادلن راباندې ګرانه وي؟"

يوه تته موسکا يې وکړه او ويې ويل:

"له خپل زړه څخه وپوښته."!

مادلن ته مې ټليفون وکړ او ومې ويل:

"سبا مازيګر دې ليدو ته درځم."!

¤ ¤ ¤

سره له دې چې ټوله ورځ مې د اليس له وجود څخه د ښکلا او ښېګڼو مهم ټکي راټولول او مادلن ته مې ورکول او د مينې مزي مې ترې غوڅول، بيا به مې هم زړه په زاريوــ زاريو را څخه غوښتل چې مېچل ته يو ليك وليکم او اليس وروسپارم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومې ليکل:

"د اکا زو: مېچله! څرنګه چې تا پېژنم او پوهېږم چې د زړونو مينې هېڅ او لوبه ګڼې، نو باور لرم چې زما په مقابل کې له خپلې ګناه او هغه اور څخه بې خبر يې چې په ما کې دې لګولدی. نيمه ګناه دې دربخښم، له نيمې نورې څخه دې سترګې پټوم. په دې شرط چې زما ګرانه اليس خوشحاله وساتې. ما که نه شوای کولای، ته يې کولای شې .

اليس د هغې هيلو ته ورسوه، د هغې زړه په حسرت او غم کې مه پرېږده، خپله پرېشاني هم په هغه ښکلي صورت کې واچوه، که اليس سره مينه نه لرې، البته چې نه يې لرې، د ښکلاپالنې او هنر په خاطر دغه زړه او هغه صورت سره يو کړه. خو ته ، يوه ګرانبيه مرغلره په يوه ښکلې ګوتمۍ کې ښخوې، يو ښکلی انځور په يوه زرين او ښکلي قاب کې اچوې، دنګې ماڼۍ ته په يوه شنه او سمسور باغ کې ځای ورکوې.

تا د اليس جمال د ستورو په منځ کې د سپوږمۍ په شان، د هغې د هيلو په اسمان کې کښېنوه، ورته وګوره، کله چې يې زړه خوشحاله او صورت يې ورسره هماهنګ شو، څومره ښکلې کېږي، ستا څخه به ډېره خوشحاله واوسم .

ستا د اکا زوی ويليام

ۍۍۍ

د دې لپاره چې د اليس ځای راته خالي ونه برېښي، د لوبې ډګر ته نه لاړم، هر مازيګر به مې له مادلن سره په موسيقۍ يا هنري بحثونو تېراوه. له مېچل سره مې د اليس د کوژدې خبر مادلن ته ورکړ، هېڅ خواشيني مې ونه ښوده، خو هغې د خپلو خبرو په منځ کې ځينې اشارې وکړې، چې کېدی شي زما د زړه له حاله خبره شوې وي. د ساري په توګه ويل به يې :

"په دنيا کې ښکلي زيات دي، د هېچا په کيسه کې هم بايد نه شو."

يا به يې ويل :

"که څوك له خپلې هيلې سره سم د ژوند ملګری ونه مومي، دوه کسان يې بدمرغه کړي دي"....

يوه ورځ يې زما له مور سره په همدې اړه بحث راواخيست، ويې پوښتل :

"دی مازيګر څه کوي او چېرې ځي؟"

مور مې وويل:

"د کور کار کوي، نور نو يوازې وي."

رنګ يې سور واوښت، بيا يې راته وويل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"که خبره وای، نو هېڅکله به مې ته، له خپلې مور څخه نه بېلولای، که ستا مور هم له مورِ سره وي، ښه به نه وي؟"

دا خبره مې مور ته وکړه. تر هغې ورځ وروسته به مادلن په اوونۍ کې دوې ورځې زموږ کره راتله، زیاتره وخت به مو په هنري بحثونو تېرېده. ما د خپلې مور او مادلن له مجلس څخه دومره څه زده کړل، چې له هېڅ ښوونکي یا کتاب څخه مې نه وو زده کړي. لکه دوی چې له دوو خواوو څخه زما د ژوند پر توره ځمکه رڼا خپره کړي، هر خوا راته روښانه او ستونزې راته اسانه شوې. لکه دوې جادوګرې ارواوې چې د خبرو په جادو یو وچ او سوځنده ډاګ په سمسور بڼ بدل کړي، ټوله نړۍ راته بې اغزی ګل ښکارېده، ټول ګناهونه راڅخه تښتېدل او زه ډېر ښه کېدم.

څومره به چې د هغو مجلسونو له کبله، د ځانپالنې او نامهربانۍ له زنځېرونو خلاصېدم، دومره به مې د اروا هنداره صفا کېدله.

د الیس د راوا مرغۍ به مې لیده چې تکه سپینه او ښکلې ده، په اسمان کې الوزي او ښکلې سندرې بولې: وایې زما د شتو خوښونې ګناه وبخښئ، آیا تاسې له هرې ښکلې سره مینه نه کوئ؟ زه هم له هر ښکلي څیز سره مینه کوم .

تاسې وایاست چې محبوب مو اروا لري او ژوندی دی، راشئ زما زړه وپوښتئ، د هر ښکلي شي لپاره زما له بدن څخه وځي، هر ښکلي څیز ته مینه او اروا ورپه برخه کوي....

هر ښکلي څیز به الیس رایادوله، هغې به هم زما پر فکرونو او خیالونو خپل سیوری غوړاوه. مادلن به مې د الیس په بڼه لیدله، د مادلن په غږ کې به مې د الیس ښکلی غږ اورېده، کله چې به له مادلن او مور سره مې په مجلس اخته وم، د الیس څېره به مې سترګو ته ودرېده چې د سپوږمۍ غوندې به راښکاره شوه او پر موږ به یې رڼا کوله، زه به یې ډېر وخت له ځانه سره بوخت کړی وم او له مجلس څخه به بې خبره پاتې کېدم.

☒☒☒

دغه حالت یوه کال ته وغزېد. وېرېدم چې د روزګار بدې سترګې راوانه وړي، د هرې ورځې په تېرېدو سره به الیس راته سپېڅلې او ښکلې ښکارېده، د دې ترڅنګ به د مادلن له عالي او منونکې اروا سره بلدېدم، مور به مې هم، لکه په یوه کتاب چې نه یم پوهېدلی، هر ځل د هغې ملکوتي اخلاق، راته بیانول.

له دې خبرو سره_ سره مې بیا هم له مادلن سره د واده او مینې خبره یاده نه کړه، خو هر ځل به مو چې سترګې سره وجنګېدې، یا به مو کومه سندره ویله، نو هغه به د مینې، دوستۍ، وفا او تړون غزل وه، لکه زموږ زړونه چې زموږ څخه په پټه پخه ژمنه سره کړې وي او سره ویلې یې وي، چې موږ له دې پرته له دنیا څخه عیش، هوسایي او بل څه نه غواړو. په خو په دې وخت کې زموږ د بدمرغۍ لپاره د روزګار لاسونه رااوږده شول:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مادلن پلار "توماس" چې باید له خپل هر ګام او هرې ساه څخه ګټه اوچته کړي، خپله لور یې نه وه هېره کړې، څو ځلې زموږ د ساز او اواز مجلس ته راغی، په تریو تندي کښېناست او ولاړ شو. باور مې درلود چې زه یې د غریبۍ له کبله بد راځم، تر هغه وروسته چې مادلن هغه تابلو بېرته ترېنه رانیوله او زموږ کره یې راوړله، زه یې ډېر بد راتلم .

خو زه د هغه لاروي غوندې وم چې پر خپله لاره توره وربځویني، خو بیا هم خپله لاره وهي. ما به ځان ناګاره اچاوه. یوه ورځ چې د مادلن دوی کره وم، پلار یې یو ځوان راوست، هغه یې مادلن ته د "موریس" په نوم معرفي کړ. ویې ویل:

"دغه ځوان په کم عمر کې خپلې زده کړې د اقتصاد په څانګه کې بشپړې کړي، تر موږ په تجارت کې زیاته تجربه لري."

له دې ستاینې وروسته یې ما ته د پوزخند په انداز راوکتل، داسې ښکارېدل لکه مادلن ته چې وایي:

"دوی سره پرتله کړه، دا چې ما درته ټاکلی غوره دی، که ستا هغه؟"

زړه مې په زوره ودرزېد، ځکه د موریس ستاینه چې مې واورېده هغه تر ما ډېر ځواکمن او لوړ و، کله چې د مادلن پلار "توماس"، د موریس د ځلاندو او ښو کارونو په باره کې خبرې وکړې، هغه یې هم ځان ستاینې ته وهڅاوه، بیا یې خپله لور پیانو وهلو ته وهڅوله، که څه هم تر دې مخکې یې د هغې پیانو وهل نه خوښېدل.

ما چې په خیال کې، د موریس له کبله ماتې خوړلې وه دومره مات او خواشینی وم چې د سندرو شوق مې نه و پاتې، پوهېدم که په هغه حال کې خوله خلاصه کړم، بله ماتې به هم راپه برخه شي. په همدې فکرونو او شکونو کې راښکېل وم، چې موریس اوچت شو، د مادلن شا ته ودرېد او په سندرو ویلو یې پیل وکړ.

غږ یې تر ماډېر قوي او خوږ لګېده، زه یې ګردسره مات کړم، په هغه حال کې چې د موریس له خولې هره جمله راوتله، داسې راته ښکارېده، لکه ما چې ملامتوي، ویل به یې:

"ولې دې دومره انتظار وکړ؟ مادلن دې ولې ځان ته ونه غوښته؛ دومره ځنډ د څه لپاره و؟ ایا ستا دا تمه وه چې مادلن، د الیس غوندې ښکلې شي، یا الیس به بېرته پښېمانه شي او ستا پښو ته به ولوېږي؟ یا دې په دې خاطر صبر وکړ چې زه راشم او مادلن درڅخه واخلم؟ اوس زما غوندې رقیب په وړاندې له ماتې او شرم پرته بله چاره نه لرې."!

مور مې دا دوه درې ځلې کېږي، چې د زیاتو کارونو په پلمه د مادلن دوی کره نه راځي. ګنې هغه ورځ به دومره مات او نه ذلیلېدم.

د موریس تر سندرو ویلو وروسته چې یې هرڅومره راباندې د سندرو ویلو ټینګار وکړ، ما ونه منل، ځکه پوهېدم چې غږ به مې کمزوری او لړزانده وي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله ماته اروا مې کور ته راوړله؛ هغه څه چې مې د موریس له کبله لیدلي وو، مور ته وویل. خو د ځان پر ماتې مې اقرار ونه کړ، هغه تر لږ سوال و ځواب وروسته وپوهېده چې څه حال لرم، ویې ویل:

"که مادلن درځخه بوځي، ستا خوابدي به په څه کې وي؟ تا خو یې صورت او اندام نه خوښاوه".

ومې ویل:

"همداسې ده."

خو په زړه کې مې یوه غوغا اوچته شوه چې:

"ته له ځانه وایې، داسې نه ده"....

⊠⊠⊠

دغه غوغا مې د خوب ځای ته یووړه، لاړم چې ویده شم، خو هغه څه چې مې د خوب په ځای کې ونه موندل، خوب و. د عقل او زړه تر لږې شخړې وروسته مې ناڅاپه د خاطر په اسمان کې د مادلن جمال د سپوږمۍ په بڼه راښکاره شو، مخ یې د هوښ، ذوق، ارامۍ او درنښت په ګاڼه ښکلی شوی و، دومره ښکلې شوې وه چې د نړۍ ټولو ښکلو یې سیالي نه شوه کولای .

ورته ومې ویل:

"ته تر الیس ښه یې، ته سر تر پښو اروا یې، د پیدایښت په کارځای کې یې ستا اروا تر هر صورت او مخ ښکلې جوړه کړې، خو افسوس چې زما د باطن سترګې ړندې وې او ستا دا دومره ښېګڼې مې نه لیدې."

هو! ما نه لیدل، ځکه رقیب راغی، د تیارو وریځو غوندې یې زما سپوږمۍ غلا کړه. هی ارمان! ولې نه پوهېدم چې مادلن راباندې ګرانه ده!

هغه ورځ چې ورسره موزیم ته لاړم، د یوه چیني قفس په وړاندې ودرېدم او ستاینه مې کوله، خو مادلن راته ونه ویل چې په دې قفس کې یو بل ښکلی څیز هم پټ دی، چې ښکلا ترحد زیاته ده او هغه د چیني هنرمند حساسه اروا ده. هغه وخت مې دا خبره له مادلن څخه واورېده. په دې شېبه کې یې د وجود په قفس کې ښکلې او هنرمنده اروا راڅرګنده شوه، ومې لیدل چې تر هر چا ښکلې ده، نو ما یې ولې لاس مچ نه کړ او د واده وړاندیز مې ورته ونه کړ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې ځور او عذاب له کبله ډېر ستړی شوم، په دې ګومان چې لا مې وخت له لاسه نه دی وتلی، په خيال کې له موريس (د مادلن له نوي دوست) سره مخ شوم.

ورته ومې ويل:

"که ته تر ما اوچت يې، زه تر تا ښکلی يم، که ستا غړ قوي دی، زما غړ بيا ښکلی او زړه راکښونکی دی؛ تا ولې پر خپل استعداد وياړ وکړ او لاپې دې ووهلې! ته نه پوهېږې چې مادلن ځان ستاينه نه خوښوي؟ تا چې هغه ايرانۍ غالۍ سره اړوله_ رااړوله د دې پر ځای چې د هغو ښکلو نقشونو په هکله څه ووايې، په لندن، پاريس او نيويارك کې دې د دغو غاليو د بيو په اړه خبرې وکړې، تا هېڅ ونه ليدل چې مادلن ځمکې ته سترګې ونيولې او هېڅ يې هم ونه ويل"....!

له موريس سره په شخړه بوخت وم، چې خوب راباندې راغی. په خوب کې مې وليدل چې مادلن زما خوا نيولې او وايي:

"زما نه هېرېږي، هغه ورځ چې په هغه هنري ننداړتون کې د تابلوګانو په کتنې بوخت وو، ستاينې او نيوکې مو کولې، تا راته کرار وويل: ولې يې تر هرې تابلو لاندې د هغې بيه ليکلې؟ دوی نه پوهېږي، چې که هنر ته بيه کښېښودل شي، داسې مانا ورکوي لکه يوه ښکلې نجلۍ چې پر ځان بيه ږدي، هنر ناڅاپه پر ځمکه لوېږي؟

ما ستا له دې نظر څخه خوند واخيست، ومې خندل، هماغسې خندا چې زما په اننګو کې ژور ځای جوړوي او ستا ډېر خوښېږي ...

هو! پلار مې موريس خوښوي، ځکه چې پيسې پيدا کولای شي، خو زه تا غواړمه، که څه هم پيسې او شته نه لرې، بيا دې هم غواړمه، هغه ورځ مې چې په هغه موزيم کې د يوه هنري اثر په هکله خبرې وکړې تا راته وويل :

ستا له ستاينې سره سم مې اروا وزرونه پيداکوي او الوزي، د دغو انځورونو، شنو ونو او تاندو څانګو ته ورځي او د انځور د اروا له مرغۍ سره يو کېږي او د هغوی د زړونو له حاله خبرېږي، په دې توګه پوهېږي چې څه ډول مينه او څه هيله ولري؟

ما بيا وخندل او تا زما باړخوګانو ته وکتل ...

موريس کله کولای شي زما خندا وګوري. هغه کله زما د خندا په مانا پوهېږي او زما په باړخوګانو کې د ژور ځای په پيداکېدو سره يې ذوق نه تخنېږي."

❖❖❖

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومې ويل:

"ای د نېکۍ پرښتې! اې ښکلې مادلنې! که تا په خپلې دې ژبې زما مات زړه نه رغولای او زما مرسته دې نه کولای، زه به په هماغه لومړۍ ماتې کې، چې د رقیب له لاسه رارسېدلې وه، مات شوی وم .

سبا دې خواستګارۍ ته درځم، زه دې د پلار یا موریس له دښمنۍ څخه نه وېرېږم.

⊠⊠⊠

سبا سهار د دې جنتي خوب له کبله زیات خوشحاله پاڅېدم، ځان مې تیار کړ. لاړم چې پر مور باندې مې د دې تصمیم زېری وکړم، غوښتل مې ور پرانیزم، پر مخامخ لویې هنداري مې سترګې ولګېدې، خپل ځان مې ولید، څومره ډېر غني حُسن او ښکلا مې درلوده! څکه چې په خیال کې مې مادلن خپل تر څنګ ولیده، ووېرېدم چې زه ولې تر هغې دومره ښایسته یم!

ناڅاپه متوجه شوم، هغه څه چې زما د نېکمرغۍ په لار کې خنډ شوي، همدغه هنداره ده، پوه شوم چې کله به مې هر سهار یا ماښام ځان په کې لیده، نو یوه شیطان به راته ویل:

"ته خپله بدرنګي نه وينې! څومره افسوس! ته جمال او مینه د ځان په پرتله د کم سرې پښو ته اچوې! دغه حُسن او ښکلا دې، له ځان غوندې کس پرته، بل چا ته مه ورسپاره" ...

خو ارمان چې ښکلا، زموږ د نېکمرغۍ پر لار څومره لوی خنډ ده. چغه مې کړه چې:

"ای هندارې! تر دې زیات نه تېر وځم او ستا په لومه کې نه بندېږم، ځم او تر دې وروسته د مادلن په اروا کې تر ځان ښکلی کس ګورم."

ور مې په زوره بند کړ او له هنداري څخه مې مور ته پناه یوووړه.

ومې ويل:

"مورجانې! ستا هیله مې ترسره کړه، ما خپل تصمیم ونیو، غواړم چې مادلن ځان ته وکړم."

په دې تمه وم چې خوشحالي وکړي او مخ مې مچ کړي، بیا مبارکي راکړي. یو څه شېبه یې فکر وکړ، بیا یې وويل:

"راته ووایه څنګه دې، دغه کار ته زړه ښه کړ، څه خیالونه دې وکړي؟."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وینښه او خوب کې مې له ذهنه تېر شوي خیالونه ورته وویل، آن له هنداري سره مې خپلې خبرې اترې هم ورته یادې کړې.

ویې ویل:

"دا تصمیم دې زما خوښ نه شو، ځکه چې نېکمرغه کوي دې نه."

حیران شوم، مخ ته یې ځیر شوم .

ویې ویل:

"ځکه یې نه خوښوم چې ته په طبیعي حالت کې نه یې، ته د رقابت په اور کې سوځې، ته مادلن د دوستۍ او ملګرتیا لپاره نه غواړې، بلکې غواړې د رقیب له منګولو یې راوباسې.

هو! موږ د ژوند په سفر کې دوست ته زیاته اړتیا لرو، د دې لارې ملګرى باید ستا هم خویه او تا ته په عادتونو کې درنژدې وي. په مادلن کې دا ټول صفات شته، خو ستا ځوان زړه لا دې حقیقت ته نه دى رسېدلى او په دې اړتیا نه دى پوهېدلى. ستا دغه هیله او سوز د رقابت له کبله دى، د رقابت اور دېر ژر مري، اوس وګوره که د رقابت له حس پرته دغه کار ته تیار شوى یې، زه کومه خبره نه لرمه، ځکه د مادلن غوندې ښه نجلۍ نه پیداکېږي، زما خوښه نه ده چې د دغې پرښتې وجود تر خپل هوس او رقابت قربان کړې."

په دې نصیحت ډېر وځورېدم، د دې لپاره چې خبره رالنډه کړم، ومې ویل:

"موریس په ما کې د یوې ورکې مینې اور نه دى بل کړى، بلکې د دې رقابت له کبله مې پر ذهن باندې د هیلو غوړېدلى شال خپرې شوى او د مادلن خپره راته نوره هم څرګنده شوې ده".

اوچت شوم مور مې ښکل کړه، غوښتل مې د پوهنځي پر لوري رهي شم.

ویې ویل:

"نن ستا لپاره یو لیك هم رارسېدلى، د لیکونو په صندوق کې پروت و، په دالېز کې مې پر مېز باندې ایښى دى."

باوري شوم چې د مادلن لیك به وي، غواړي ما ته ډاډ راکړي. د شوق له کبله مې ستونى ډك شو، خو کله چې مې لیك رااوچت کړ، ومې لید د هغې له خوا، نه و. غوښتل مې لیرې یې وغورځوم، خو خط وویل :

"ما پېژنې"....!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ببره مې ليك پرانيست، ټول ليك مې تر نظر تېر كړ، د اليس ليك و. لكه ناڅاپه چې د مادلن د وجود جنت راباندې بند شي يا ... يې يوې كندې ته له غورځېدو څخه وساتلم. لكه د برېښنا لوڅ مزى مې چې په لاس كې نيولى وي، د اليس په ليك مې لاسونه رېږدېدل .

ليكلي يې وو:

"ګرانه ويليامه! په دې يوه كال كې چې درڅخه ليرې يمه، پوهېدمه چې ته مې يوازېنى دوست يې. مېچل ته دې چې ليك ليكلى و، پوهېږې څه وخت يې راكړ؟ اووه مياشتې وروسته، ياني هغه وخت چې نور نو له ما څخه مور و او غوښتل يې ما له ځانه څخه وشړي.

څومره ډېرې شپې او ورځې مې هغه ليك ولوست او بېلابېل وختونه مې، كله ستا پر ښېګڼو ژړل، كله به مې ستا پر ساده ګۍ خندل. كله به مې ستا له لاسه چغه كړه، چې ته ولې په خپل ځان كې د دې لويې كمزورۍ درملنه نه كوې، ته ولې هغسې نه كېږې، لكه زه چې غواړم !

زما سره مينه نه لرې، پر ما مين نه يې! د مينې په ځواك كولاى شو، د اسمان اروا هم ځمكې ته راكښته كړو او له حقيقت سره يې اشنا كړو! څه وكړم چې ته مې يو خيال خوښوونكى او بې ارادې انسان وليدې، ستا څخه مې زړه صبر كړ او له مېچل سره لاړم .

هغه ستا غوندې نه و، مېچل هغه څوك دى چې زه يې غواړم. فكر، خيال او عمل يې نوى دى، لكه څنګه چې پوهېږې په څو برخو كې كار كوي، په ټولو كې بريالى هم دى. يقين لرم چې پلار به يې تر ټولو شتمن شي .

خو... افسوس چي په مينه نه پوهېږي، دى د زړه كار هم د مادي كارونو غوندې ساده ګڼي. تا به ويل چې: له مادي انسان څخه بايد د معنويت غوښتنه ونه كړو. ته تېروتنه كوې، زما مور و پلار دواړه مادي وو، خو دواړو ډېره توده مينه سره درلوده، خو زه بخت نه لرم... مېچل ما هم بې اروا متاع ګڼي او ګومان كوي چې كولاى شي له ما څخه هم مادي استفاده وكړي، ياني لكه انار غوندې مې اوبه وځبېښي، بيا مې ليرې وغورځوي.

څو مياشتې يې راسره لوبه وكړه، اخر پوه شو چې زه خپل ځان، له مينې پرته د بل شي په بدل كې نه پلورم. خو هغه مينه چې په زرو او ګاڼو پسوللې وي. كله چې پوه شو زه له واده پرته بل نيت نه لرم، ستا كاغذ يې راكړ او ستا ډېره ستاينه يې راته وكړه، په مقصد يې وپوهېدم، نو ځكه سره بېل شوو .

هغه وخت مې د خپل درد دوا يوازې دا ليده چې راشم او ستا پښو ته ولوېږم، خو يو دوې ورځې مې د دې خيال پر ضد مبارزه وكړه، پر ځان واكمنه شومه، ځكه كه تا داسې مغلوبه ليداى، ډېره ارزانه به دې رانيولاى، كه مينه دې نه كمېدلاى، نو درناوى خو به دې راته لږېده."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دی اوس تر څو میاشتو درد او رنځ وروسته د پخوا غونډې پر ځان واکمنه او ازاده شوې یمه، اوس کولای شم تا وګورم. ښايي هغه مینه ناك راتلونکی بیا راژوندی کړم... ایا کېدی شي ته هم ځان، اصلاح کړې؟

زه په پنځلسو ورځو کې درځم په ... ورځ او... بجو به د لوبو هماغه ډګر ته درشم، ته هم راشه."

ستا دوسته الیس

☒☒☒

د لیك په لوستلو سره مې په زړه کې یو لوی توپان راژوندی شو: د فکر څپې مې پر یو بل اوښتې او چغې یې وهلې، یوې څپې ته به مې ځان نه و رسولی، چې بلې به یې ځای نیوه.

په دې توپان او ځوږ کې چې مې د مور نصیحت له هر فکر سره مل و، چې ویل یې:

"هسې نه چې له مادلن ښځه دې د واده غوښتنه، د موریس د رقابت زېږنده وي."!

دغه فکر مې دومره زیات سترګو ته ودرېد، چې اخر مې پر زړه کښېناست. بیا زما په باور بدل شو. یو پټ اواز مې غوږ ته راته او ویل یې :

"الیس دې یوازېنۍ مینه ده، ځکه چې په یوه پلمه یې ځان د مېچل له منګولو خلاص کړ او ستا ځولۍ ته درولوېده. سړی باید له موریس سره د رقابت په اور کې ځان ونه سوځي، بلکې باید الیس خپله کړي، هسې دې خپل ژوند نه بربادوي."

بیا هغه اواز اوچت شو، غوښتل یې نورې خبرې وکړي او مادلن ملامته کړي، د هغې بد ووایي، خو ما غوږونه ټینګ ونیول.

هغه ورځ وختې کور ته لاړم او له مور ښځه مې هیله وکړه، چې د ماښام تر ډوډۍ مخکې راسره خبرې وکړي. ویې منله او مېز ته کښېناستله.

رنګ یې الوتی و او سترګې ښکارېده، د روغتیا پوښتنه مې یې وکړه.

ویې ویل:

"ښه یمه."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوه شوم چې په دې شپو کې يې زما د ستونزې د اوارې لپاره زيات فکر کړی او ځورېدلې ده. د اليس ليك مې ورته په لاس کې کښېښود. ويې لوست. بېرته يې راکړ .

ومې پوښتله:

"که ته زما پرځای وای، اليس به دې ټاکلای، که مادلن؟"

ويې ويل"

"که ستا پرځای وای، صبر به مې کاوه چې له تجربو او طبيعت څخه مرسته وغواړم، بيړه به مې نه کوله."

ومې ويل:

"ته کومه يوه خوښوې؟"

ويې ويل:

"مادلن، هغه د مينې او هوسايۍ لپاره پيدا شوې او اليس د هوس او شور پارولو لپاره. ما ته د خپلو تجربو له مخې، هوسايي تر شر او شور غوره برېښي."

ومې ويل:

"د اليس پر ځای بايد راته مادلن ليك ليکلای، زه يې ونه ليدم چې د موريس له لاسه څومره وځورېدم، د ټليفون له لارې خو يې بايد ډاډ راکولای، دغه دروند بار يې بايد راڅخه ليرې کولای!....

خو هغه پر حق ده، ځکه چې په دې دومره وخت کې مې ورته د واده وړانديز ونه کړ! گومان مې کاوه چې هغه مينه ناك کاته، هغه مينه ناکې سندرې، چې زموږ زړونه يې خړوبول او زموږ سترگې يې له اوښکو ډکولې، زموږ تر منځ زموږ د احساساتو، مينې او وفا د پيغام ښې ترجمانانې وې، لکه چې تېر وتلی يم."

يوه ترخه موسکا يې وکړه او ويې ويل:

"ستا لهجه طبيعي نه ده، که اليس دغه ليك نه درته ليکلای، تا به په دې ژبه د مادلن په اړه خبرې نه کولای."

وشرمېدم او غلی شوم، يوه شېبه دواړه غلي وو.

ومې پوښتله:

"د څه په باب فکر کوې؟"

ويې ويل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"افسوس چې مادلن نه پېژني او د هغې د اروا پراختيا درته معلومه نه ده، هغه يو پراخ سمندر دی. نه! ما سمه تشبېه ونه کړه، ځکه چې سمندر د توپان له کبله پرېشانه کېږي، مادلن اورشيندونکی غر دی چې له بهر څخه ارام او سوړ ښکاري، خو په زړه کې اېشي.

که له هغې سره دې په هره ژبه ژمنه کړې وي، لکه له يوه ټينګ غره سره دې چې تړون کړی وي، که ته مات شې هغه به تل پر ځای پاتې وي."

په زړه کې مې چغې پورته شوې:

"کاشکې اليس هم داسې سړه سينه او زغم لرلای"....

مور مې وليدم چې په ځنګه عذاب کې يم.

ويې ويل:

"زړه مې ډېر درباندې سوځي، ځکه چې هغه دواړه کسان يوې چارې او پناه ته اړتيا لري: اليس له غوسې او قهر څخه ژر ليرې تښتي او د خپلې خوښې لپاره له يوې بلې وسيلې څخه کار اخلي. خو مادلن د غره غوندې ده، پرخپل ځای درنه ولاړه ده، ډېرې ستونزې او کړاوونه ګالي او زغمي يې. خو ته يوه بې بادبانه بېړۍ يې چې په ګرداب کې لوېدلې يې."

ومې پوښتل:

"ولې ته د دې بېړۍ چلوونکې نه يې؟"

يوه تته خندا يې په شونډو کې وځغلېده، په حسرت سره يې سر وښوراوه، خو هېڅ يې ونه ويل. مانا يې دا وه چې راته ويل يې:

"زما خبرې به څه ګټه ولري"....!

ومې ويل:

"مورجانې! څه وکړم له خيال څخه مې اليس او مادلن نه بېلېږي."!

ويې ويل:

"صبر وکړه چې روزګار لاس رااوږد کړي او دوی سره بېل کړي."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



⊠⊠⊠

د الیس د رارسېدو ورځ چې څومره رانژدې کېده، هومره به مې ځان د مادلن له بنده خلاصاوه او له ځان سره مې ویل:

"د الیس غوندې ښکلې نجلۍ، د مېچل غوندې له زورور رقیب او چالاکه کس څخه راتښتېدلې او ستا لمن ته ځان اچوي، د موریس له رقابت او د مادلن د تلو له کبله ولې خوابدی یې!؟ "

مادلن ته مې د موریس په هکله هېڅ هم ونه ویل.

د نورو وختونو په پرتله مې ورسره ښه چلند کاوه، ځکه چې د الیس له لوري مې زړه ډاډه و. خو مور مې خواشینې ښکارېده، د شپې له ډوډۍ وروسته به ډېر ژر خپلې کوټې ته تله. ما له دې وېرې چې زما له کبله خپه نه وي، ټول حقیقت ورته وایه، ځان مې ورته زیات خوښ ښوده، خو څه ګټه به یې نه درلوده، ځکه چې لا به مړاوې او رنځوره ښکارېده.

له بده مرغه زه دومره د راتلونکي او د خپل بري په سوچ کې ډوب وم، چې د مور رنځ راته کوچنی او لنډمهاله برېښېده .

ما هغه وروستۍ ورځې چې لا زما او د الیس تر منځ فاصله وه، داسې تېرولې لکه مسافر چې په هر ګام کې خپل محبوب ته نژدې کېږي، په شور او مستۍ سره مې ګامونه اوچتول. له موریس سره مې، چې د مادلن دوی کره به د ساز او اواز لپاره راته، داسې چلند کاوه لکه یو بریالی کس چې د ځوانمردۍ او بخښنې چم کوي، پر هغه زیات مهربانه شوی وم.

یوه شپه ټاکل شوې وه چې مادلن زموږ کره راشي، وځنډېده، مور مې ورته په اندېښنه کې وه.

ومې خندل او ومې ویل:

"له موریس سره به اخته وي."

د مور په څېره کې مې ولوستل چې زما په دې بې ادبۍ زیاته خوابدې شوې اوچته شوه او د مادلن دوی کره یې زنګ وواهه. کله چې یې د هغې نوم په خوله واخیست او له هغه لوري یې ځواب واورېد، پر خپل ځای هك- حیراته پاتې شوه.

ومې پوښتله:

"وایه څه شوي دي؟"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسوېلی یې وکېښ او ویې ویل:

"د مادلن پلار (توماس) سکته کړې ده."

سرونه مو ځوړند پاتې شول، تر څه چوپتیا وروسته هر یو خپلې خونې ته لاړو .

د مادلن په درد و غم وځورېدم، خو بیا هم په دې خبره مې زړه لږ خوشحاله کړ، چې: که خپل پلار یې له لاسه ورکړ، په بدل کې زیات شته ورته په میراث پاتې شول او د موریس غوندې د یوه مین په شتوالي کې به د پلار د مړینې غم ډېر ژر هېر کړي، خپل عیش به کوي.

بیا مې دا استدلال هم وکړ چې مادلن زما ښځه مړه او خړوبه ده، له خدایه دغه غواړي چې ترې لاس واخلم. ما هم ځان الیس ته وسپاره او هوسا شوم.

سبا مې له مور سره د مادلن دوی کره لاړم، د هغې د پلار په جنازه کې مو ګډون وکړ، موریس هم هلته و، لکه د هغوی د کورنۍ غړی چې وي، کارونه یې ترسره کول .

مادلن د تل په شان غلې وه، که څوك به له پېښې خبر نه و، د هغې له څېرې څخه به یې د دومره لوی غم اټکل نه شو کولای.

د هغې دغه سړه سینه او زغم مې د هغې بې محبتي وګڼله او مور ته مې هم په دې اړه وویل.

مور مې خپلې اوښکې وچې کړې او ویې ویل :

"لویه او درنه اروا خپل غم نورو ته نه ښکاره کوي، کله چې ټول ویده شي، له خدای (ج)پرته مو بل څوك ناره نه اوري او بل څوك د داغدارو خلکو د اوښکو سېل نه ویني. هغه خوارکۍ به د خپل عزیز د بېلتون له کبله څومره غمونه لري او څومره زارۍ به کوي"....

پوه شوم چې مور مې د خپل زړه کیسه راته کوي، پوه شوم چې څومره ډېرې شپې یې زما د پلار په بېلتانه کې ژړلي، چغې یې وهلي، خو زه به په خوب کې وم!

ټول بدن مې په ګناه کې ډوب شو، خو نه پوهېږم چې ما یې ولې لاسونه او پښې ورښکل نه کړې، ولې مې بخښنه ونه غوښته! نه پوهېږم زامن ولې خپلو میندو ته خپلې ګناوې ورپې ښیي. د دې لپاره: کله چې یې د میندو د وجود د جنت دروازې پر مخ بندې شي، دوی یې په یاد وینې وژاړي.

هغه وخت زړه کې الیس، د مور، مادلن او د دنیا دنورو نعمتونو ځای نیولی و، د برې په نشه مست وم، له خپلې نېکمرغۍ پرته مې د بله څه په اړه سوچ نه کاوه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



☒☒☒

ورځې که ښې وي، که بدې، تېرېږي. ټاکل شوې ورځ راورسېده، په خوشحاله زړه او هیله من ذهن سره د لوبې ډګر ته لاړم. الیس په خپل موټر کې راته په تمه وه، نه یې غوښتل چې له ما پرته ډګر ته ننوځي. کله چې یې ولیدم راکښته شوه، په مهربانه نظر یې بخښنه وغوښته، هر څه چې یې کړي وو، ومې بخښله.

کله چې مو لاسونه سره ورکړل او په ګډه د لوبو ډګر ته ننوتو، له هرې خوا د خوښۍ اوازونه اوچتېدل. خلکو ویل :

"څومره ښکلې جوړی! زموږ بادوړي ګلونه بېرته چمن ته راستانه شول"....

له ټولو سره غږېدو، خندل مو، ته وا موږ په یوازېتوب کې د یو بل په خبرو وېرېږو او نه غواړو په یوازېتوب کې سره خواله وکړو. په لوبه بوخت شوو، دوه ساعته ولوبېدو. کله به د عادت له مخې تر هغې ونې لاندې کښېناستو او خبرې به مو سره کولې، یو بل ته مو کتل، خو چا به جرئت نه کاوه چې مقابل لوري ته د کښېناستو وړاندیز وکړي. ټول وخت مو په لوبې تېر شو، د تېر وخت او د هغې د جفا په اړه مو یوه خبره هم ونه کړه. په وروستي وخت کې الیس روانېده او خپل موټر یې چالان کړ، راته ویې ویل:

"سبا به بیا خبرې وکړو"...

☒☒☒

هغه شپه د مادلن وار و، زموږ کره راغله، خو د مور حالت مې زیات خراب شو، خپلې کوټې ته لاړه، زه او مادلن یوازې پاتې شوو .

راته ویې ویل:

"ته پوهېږې چې د مور ناروغي دې ولې پسې زیاتېږي، او دومره زیاته کمزورې شوې ده؟"

ځواب مې ورکړ:

"د دې لپاره چې نه غواړي ځان ډاکټر ته وښيي."

سترګې یې پر ځمکه وګنډلې، هېڅ یې هم ونه ویل.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومې پوښتله:

"ته تر دې مخکې زما د مور په ناروغۍ خبره وې؟"

لږه غلې شوه، په ماته ـ ماته ژبه یې وویل:

"له بده مرغه وینم... چې دا جنتي ښځه هره ورځ لا رنځوره کېږي... باید د دې ناروغۍ علت ولټوې، ښایي زه یې اجازه ونه لرم" ...

غوښتل مې بله پوښتنه وکړم. خو هغه اوچته شوه، خدای په امانی یې وکړ او لاړه .

د مور د کوټې ور مې وټکاوه. ځواب یې رانه کړ. په دې گومان چې ښایي ویده به وي، پرې مې ښوده او خپلې کوټې ته لاړم.

له الیس سره د بې گټې کتنې له کبله داسې وم، لکه د پروړو پر درمند چې باد ولگېږي .

فکر مې سره پاشلی و، نه یې پرېښودم چې څه شېبه د مور په باب سوچ وکړم او پوه شم چې ولې هره ورځ لارنځوره ښکاري، مادلن یې ولې د ناروغۍ علت راته ونه وایه او هماغسې اوچته شوه، لاړه؟

دومره اندېښمن وم چې نه مې شول کولای غور وکړم، الیس ولې ځان زما غېږې ته وانه چاوه او ویې نه ویل :

"تر دې وروسته ستا یم."

له مېچل سره یې ټکر نه دی راغلی، که له هغه څخه یې اړیکې نه دي پرې کړي؟

په دې گرداب کې یوازېنی غږ چې ما اورېده، د الیس ژمنه وه چې سهار ته به راځي .

سبا ته الیس راغله او په لوبه مو پیل وکړ، خو فکر یې خراب و، لوبه یې هم سمه نه شوه کولای. یو پاو وخت لا نه و تېر چې ویې ویل:

"راځه هلته پر څوکۍ کښېنو، خبرې وکړو".

دواړه کښېناستو، تر ډېره وخته غلي وو .

ویې ویل:

"ولې خبرې نه کوې؟ ولې په دې دومره موده کې بدل شوی نه یې، ما گومان کاوه چې تر دې یونیم کال وروسته به د نارینه غوندې شوی یې او د نارینتوب صفات به دې پیداکړي وي. خو اوس دې وینم چې لا ماشوم یې او وې."!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه یو زده کوونکی چې کورنی کار یې نه وي کړی او د ښوونکي په وړاندې حیران ولاړ وي، زه هم هماغسې وم. هېڅ ځواب مې نه درلود. سر یې کښته ونیو او ویې ویل:

"ما تمه درلوده، د راتلونکي وخت یو ښکلی انځور به دې جوړ کړی وي او زما په لیدو یې راته وړاندې کړې؛ ګومان مې کاوه چې د بېلتون په اور کې به پوخ شوی یې، ته پوهېږې چې زما هوسناك زړه په کومو شیانو خوشحالېږي؟.

خو؛ له بده مرغه وینم چې بیا هم د پخوا په شان ګومان کوې دغه ښایست دې د هر څه ځواب ورکولای شي! ته ګومان کوې چې ستا ښاست زه له مېچل څخه واخیستم او تا ته یې درکړم"...!

کله چې یوه تکه سره منه د نرمۍ، عطر او خوږوالي لپاره سپینوئ او خولې ته یې وړئ، که ناڅاپه د ډبرې غوندې کلکه شي او غاښ مو درمات کړي. څومره به حیران شئ؟

که د مینې، خوشحالۍ او تفریح لپاره د یوه دوست کره ځئ، کله چې کښېنئ، هغه په غوړېدلې څېرې سره د ښو خوړو، پر ځای تاسو ته د شکنجې او عذاب اسباب راوړي، تاسو ته به څه ډول خپګان درپېښ شي؟

زه د الیس د خبرو په اورېدو، هماغسې وم، زړه مې رېږدېده او ژبه مې بنده شوې وه.

الیس وخندل او ویې ویل:

"ګومان کوم د کار د خبرو پر ځای دې راته څو غزلونه جوړ کړي، غواړې راته ویې وایې."!

ومې ویل:

"رښتیا وایم؛ ستا په تلو مې دومره غمجن وم، که په ژبه مې ویلای، تر ټولو ښه شعر به کېده؛ ستا تر تلو وروسته یوه شېبه هم د پیسو او مادیاتو په فکر کې نه شوم، ځکه چې له تا پرته مې پیسو او شتو ته ضرورت نه درلود."

ویې ویل:

"ښه شو چې رښتیا دې وویله، که دې نه ویلای، ما هم له دې پرته بل فکر نه کاوه. که له دې پرته مې بل سوچ کولای هغه به خوب، خیال او یوه تشه هیله وه .

په دې وروستیو ورځو کې مې چې تیصمیم ونیو، له مېچل څخه بېله شم، خوب مې ولید چې ته په یوه ښکلي کور کې اوسې، ما ته دې غېږه خلاصه کړه او پرته له دې چې څه ووایې د کار دفتر ته دې بوتلم، هلته په دېوال کې یو لوی اوسپنیز صندوق ښخ شوی وي، هغه پرانیزې او ووایې: دا ټول شته دي، ټول جواهر، سره زر او سکې دي، دا مې د مینې په زور پیدا کړي، ټول تا ته درکوم...

یوه شېبه وروسته مې ولیدل چې دواړه په کلیسا کې د کشیش په وړاندې ښځه او مېړه شوي یو"....

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې خبرې کولې خو ما نه اورېدل او په خيال کې مې ليدل چې زما د خاطر له اسمان څخه يوه پرښته راکښته شوه، د دې پر ځای چې ما په خپلو وزرونو کې واخلي او اسمان ته مې وخېژوي، خپل وزرونه تويوي او زما څخه غواړي چې هغه نازنين وجود په طلايي زنځيرونو او قيمتي ډبرو وترم!... زه ډېر ورته حيران وم.

اليس وويل:

"څه فکر کوې، ولې حيران يې؟"

ومې ويل:

"افسوس! مېچل دې پر هغو شتو او فعاليت سر ببره ولې پرېښود؟"

بل افسوس مې دا هم و چې هغې ته مې ونه ويل چې د دې په شوق کې مې مور او مادلن ته څومره بېوفايي او ځور ورساوه.

ويې ويل:

"که ستا غوندې مې په شاعري نه کولای، په بېځايه خبرو او د زړه ماشوموالي ته نه تسلمېدای، مېچل به مې له لاسه نه ورکاوه؛ نه پوهېږم چې د عقل او منطق خلاف مې ولې د هغه پر هوس او لالهانده نظرونو ګوتنېونه وکړه او په دې توګه مې يو خوشحاله او له عيش څخه ډك ژوند له لاسه وکړ."

زما لاس يې ونيو او په بل لاس يې له خپلو باړخوګانو څخه اوښکې پاکې کړې.

پوه شوم چې ورباندې ګران يم، خو خپل د شتو خوښونې سرکښ طبيعت، نه شي قابو کولای.

ومې ويل:

"که زه يو کار وکړم چې مېچل راشي او ستا پښو ته ولوېږي، تا وغواړي، ايا زما څخه به راضي شې؟"

د دې لپاره چې له مادلن سره مې د جفا جبران کړی وي او د مور له هيلو سره مې سم چلند کړی وي، غوښتل مې اليس له ځانه بېله کړم او بل چا ته يې وسپارم.

خو هغې وويل:

"باور لرم مېچل يا بل څوك که زما بدن يوسي، زما اروا نه شي وړای، دغه اروا به تل د مينې په بند کې وي. ته ښه يې، د مينې وړ يې، خو حيف دی چې ستا شاعرانه او لطيفه اروا دې له اغزن او نېښداره وجود څخه په عذاب کې وي".

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ورځ مې له مېچل څخه وخت وغوښت او لیدو ته یې ورغلم .

ومې ویل:

"راغلم چې د الیس په هکله درسره خبرې وکړم".

ویې ویل:

"باور لرم چې غواړې د هغې په باب ما ملامت کړې، ټول ساده خلك ستا غوندې فکر کوي، له دې ناخبره چې ښځه د بورا غوندې پر هر ګل کښېني، هغه څوك چې پر بورا زړه بایلي او غواړي په خپله خوښه یې روانه کړي، لېونی دی. خو زړه دې ډاډه ساته، ما الیس پرې ایښې ده او قول درکوم چې بیا به یې یاده نه کړم."

ومې ویل:

"زه راغلی یم ستا څخه هیله وکړم، چې دغه غوڅ شوی پیوند بیا سره ونښلوې."

ویې خندل، ګومان یې کاوه چې ورسره ټوکې کوم، سترګه یې ووهله.

خو د مجبورۍ له کبله مې ټوله کیسه ورته وکړه.

ویې ویل:

"نن تر دې زیات وخت نه لرم، سبا شپه د... په کور کې یو جشن دی، ډېر خوندور دی، زه کولای شم یو بل تن هم له ځانه سره بوځم. سبا شپه اته بجې راشه، هغه جشن ته به لاړ شو، هلته به درته وښیم چې زه باید ولې د خپل ګران اکا د زوی هیله ومنم."

هغه شپه د جاپاني قربانیانو په سوچ کې شوم، چې په ډېر شوق او مینه یې د خپل هېواد په ساتنه کې د مرګ کندې ته ځانونه اچول .

غوښتل مې پوه شم چې د قرباني،سوز، بېلتون او وېرې له ذوقه سړي ته څه پېښېږي، ګومان مې وکړ چې دا به یو ډول ترخه او خواږه شربت وي چې روزګار یې زما په ستوني کې راڅڅوي .

پوهېدم چې مېچل ته د الیس سپارل تر ځان سپارلو په کمه نه دي، خو د مور د روغتیا تصور مې بیا دغه قرباني اسانه او ښکلې کوله. باور مې درلود که مور مې وپوهېږي چې له الیس څخه مې لاس اخیستی او غواړم له مادلن سره د ژوندانه تړون وکړم، له لاسه تللی څواك به بیا تر لاسه او اننګي به یې د ګلونو غوندې تازه شي .

خو په دې ګومان چې مادلن زما پر ځای رقیب غوره ګڼلی او کار له کاره تېر دی، د ژغورنې وروستۍ کړۍ هم راڅخه لیرې ښکارېده، زه د حیرانۍ او خواشینۍ په سمندر کې ډوبېدم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا ته مې مور ناروغه وه او د سهار د چايو لپار رانغله. مازديګر يې لکه چې ناروغي لا زياته شوې وه، کله چې له خياطۍ څخه راغله، خپلې کوټې ته ننوتله او ور يې په ځان پسې بند کړ. يوازې مې له مېچل سره مېلمستيا ته د تلو لپاره ترې اجازه واخيستای شوه.

ومې ويل:

"کېدی شي ناوخته راشم."

   

پر ټاکل شوې ساعت له مېچل سره مېلمستيا ته لاړم. د بڼ له وره څخه ننوتو، حېران شوو، ځکه چې هره خوا تياره وه. کله چې څو ګامه وړاندې لاړو او په يوه سړك ورتاو شوو، يو ګيوتن (د انسان د سر پرې کولو لپاره د فرانسويانو يوه اله) مو وليده، چې پښو ته يې يو په وينو سور سر پروت و او شا وخوا يې د وينو څو ځاځکي ښکارېدل. يوه شنه تت څراغ دغه منظره نوره هم کرك پاروونکې کوله.

د بل سړك په موړ کې مو يو بل موجود وليد، چې په اوږدو ګوتو کې يې يو جارو نيولی او د مېلمنو پر کاليو يې راکشاوه. ښځو چغې وهلې او ګامونه يې تېزول، د هغه موجود مخ د اس غوندې و، د شنه څراغ په رڼا کې يې د مړي رنګ خپلاوه .

نه پوهېږم د هغې منظرې په ليدو مې ولې د بدن وېښتان نېغ ودرېدل. د ودانۍ دروازې ته نژدې مو پر سر او بدن يو شی ولګېد. ومو ليدل، يو لوی مار له ونې راځوړند و او خوله يې خلاصوله چې ومو چيچي. ځانونه مو دالېز ته واچول، دالېز نيم تياره و، دوه_ درې ګامه چې وړاندې لاړو، له يوه تابوت سره مخامخ شوو چې يو مړی په کې پروت و.

لکه چې په دې کور کې په سلګونو ښځې او نارينه شکنجه کوي، دومره پارووونکي او وېرووونکي اوازونه اوچت وو، چې د سړي په بدن کې يې وينه وچوله.

له زينو څخه پاس وختو، په زينو کې د غنيو ځالې بندې وې، چې لويې_ لويې غڼې په کې کښېته پورته تلې.

د پاس منزل دالېز ته ننوتو، يو کوچنی لوښ ماشوم يې پر تخته څملولی و، له تختې څخه تېره سيخونه د ماشوم پر بدن ننوتلي وو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوي نيمه تياري كوټې ته ننوتلو، دري- څلور كسيز مېزونه سره نامنظم ښكارېدل، د كړكيو اكثره هنداري ماتې وې او په زړو- دودوهلو كاغذونو يې د كړكيو سوري پټ كړي وو، د كوټې پر دېوالونو، شرمښكې، لړمان، ماران او نور موجودات گرځېدل.

مېچل نه غوښتل چې تر دې زيات حيران پاتې شم.

ويې ويل:

"دغه كروندگر د ذوق خاوند دی، د هنر د بازار تودولو لپاره يې ځينې هنرمندان راټول كړي او له هغوی څخه يې غوښتي چې دغه طرحه جوړه كړي، كه يې د خوښې وړ كوم مخكښ ليكوال د كليزې پر لمانځنه څومره لگښت راځي، هغه ټولې پيسې د هنرمندانو جېبونو ته لوېږي، اوس يې هم يو د خوښې د ليكوال په ياده يوه مېلمستيا جوړه كړې. بله دا چې غوښتل يې دغه جشن بېساری وي. زموږ كوربه هغه سړی دی چې د مېز تر څنگ ناست دی، لكه دی چې هم مېلمه وي، د چا هركلی نه كوي، ځكه دی وايي هر څوك بايد ځان كوربه وگڼي.

مېچل بيا بلنليك راوښود، چې د شعر په ژبه و.

ويې ويل:

"يوازې يې د دې شعر شاعر ته څلور زره ډالره وركړي او او دغه جشن ته يې (د اروا جشن) نوم وركړی، ځكه چې دغه كور له څو كلونو راهيسې تش و، چا په كې ژوند نه كاوه، د عوامو په عقيده دغه كور د ارواوو استوگنځی دی. لنډه دا چې دغه جشن په حقيقت كې عجيب او بېساری دی، چې د هنرمندانو ساعت په كې تېرېږي."

مېلمانه ډلې_ ډلې راتلل. مېچل، زيات مېلمانه پېژندل او ما ته يې هم رامعرفي كول. ټول د پوهې او ادب مخكښان، همدغه راز د مينې او نورو هنرونو نامتو ستوري وو. هر څوك به په خپله خوښه هر ځای كښېناست او له خلكو سره به يې خبرې كولې.

زه راغلی وم چې له مېچل سره د اليس په باب خبرې وكړم، خو په هغه عجيب چاپېريال كې مې خپل ټاكلی هدف له ياده ووت. مېچل دومره منتظر او خواشينی ښكارېده، چې د اورېدو حوصله يې نه درلوده. پر له پسې تلو راتلو پرېشانه كاوه.

ويې ويل:

"يو چا ته په تمه يم، خو په دې كور كې دغه ډول اته كوټې دي، چې له مېلمنو ډكې دي، زه نه پوهېږم خپل مېلمه چېرې ولټوم."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو ځل بیا په خپلې ورکې پسې لاړ، خو له هغې خوا دوه تنه راغلل، هلته نژدې تش ځای نه و، زما څخه یې اجازه وغوښتله او زما مېز ته کښېناستل. ما ځان ورو‌پېژاند، هغوی هم خپل نومونه راته وویل. کله چې وپوهېدل نومونه یې راته ناآشنا دي، خپل کارتونه یې راکړل. یو کارت اوس هم راسره دی، خو هغه بل مې ورك کړی دی.

هغه کارت چې راسره دی د ډاکټر محمود ضیایي دی، هغه بل تن یو لیکوال و چې د هغه د فکر یوه بېلګه به ووینئ. خو له بده مرغه چې نوم یې راڅخه هېر شوی دی.

کله چې وپوهېدم دواړه ایرانیان دي، زیات خوښ شوم، ځکه چې د ایران په اړه مې زیات لوستي او اورېدلي وو، خو دا لومړی ځل و چې د هغه هېواد خلك مې له نژدې څخه لیدل. په هماغه لومړیو جملو کې چې زموږ تر منځ بدلې رابدلې شوې، وپوهېدم چې له پوښتنو څخه بد نه وړي. په خبرو اخته شوو، د شرق په اړه مې چې څومره پوښتنې ذهن ته راتلې، ورڅخه کولې مې، هغوی هم ځوابونه راکول.

مېچل ګردسره راڅخه هېر شوی و، ناڅاپه له یوې سپوږمۍ وزمې نجلۍ سره راغی او زموږ تر څنګ ودرېد. ما هغه دوه ایرانیان ورو‌پېژندل، مېچل هغه نجلۍ "لیدا" وبلله او موږ ته یې راوپېژانده .

که څه هم زموږ مېز، د څلورو‌کسانو لپاره و، خو موږ پنځه تنه ناست وو، هغه نجلۍ د ایراني نومونو په اورېدو زیاته خوشحاله وه، له ګاونډي مېز څخه یې یوه څوکۍ راکش کړه او ویې ویل:

"یو څه به جوخت سره کښېنو چې د یوه بل غږ واورو."

څو دقیقې وروسته مېچل وویل:

"ښه دا ده چې لاړ شو او شراب وڅښو."

خو لیدا چې له ایراني لیکوال سره یې خبرې پیل کړې وې، ونه منل.

ویې ویل:

"ته لاړ شه، زموږ لپاره یې هم راوړه."

مېچل اوچت شو او زه یې هم له ځانه سره بوتلم. کله چې د شرابو کوټې ته ننوتو، ټکان مو وخوړ او یو ګام شا ته لاړو، ځکه چې وره ته نژدې یوه لویه توره بیزو ولاړه وه، چې د هرکلي په توګه یې سر او لاسونه ښورول.

موږ شراب واخیستل او مېز ته راغلو، د خبرو له کیفیت څخه څرګندېدل چې ایراني لیکوال د جشن له څرنګوالي څخه ناخبره ساتل شوي. مېچل ټوله کیسه ورته کړه. هغوی هم له حیرانۍ څخه په ډکو موسکاوو غوږ نیولی و او حافظې ته یې سپارله.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وخت کې د شکنجه شویو خلکو چغې او ځوړونه اوچت شول، د نڅا موسیقي پیل شوه. مېچل، لیدا ته د نڅا بلنه ورکړه، موږ په خبرو لګیا وو، چې بېرته یې راوستله. لیدا بیا نڅا ته نه لاړه، زه، هغه او ایراني لیکوال پاتې شوو، مېچل او ډاکټر ضیایي یوه ښځه وټاکله او د نڅا لپاره لاړل.

زما او د لیدا د خبرو په ترځ کې به ایراني لیکوال قلم راکښه او څه به یې لیکل، زړه مې غوښتل چې پوه شم څه لیکي؟ خو ادب زما د دې هیلې مخه نیوله، ځکه ګومان مې کاوه ښایي په ایرانۍ ژبه به یادښتونه اخلي.

کله چې یې قلم بند کړ او په جېب کې یې کښېښود، هغه پاڼه یې ما او لیدا ته ونیوله، په انګرېزي یې په کې لیکلي وو، موږ پاڼه ولوسته :

"دغه د ارواجشن د ژوند ډېر رښتینی انځور دی.... هو ژوند له خطر، وېرې او ویر څخه ډك دی ... خو موږ په دې وخت کې بیا هم په مزو چړچو اخته یو"...

د لیدا سترګې له خوښۍ څخه وځلېدې.

ویې ویل:

"دغه تشبېه او شعر د دغه ساز په پرتله له سوز څخه ډك دی. کاشکې یې ټول واوري او دغې ترانې ته وناڅي."

ایرانی لیکوال غلی پاتې شو، کله چې یې ولیدل لیدا بیا غواړي د هغې لیکنې ستاینه وکړي اوچت شو او زیاته یې کړه:

"زه هم ځم چې د نڅا ننداره وکړم."

زه او لیدا یوازې پاتې شوو .

ویې ویل:

"اورېدلي مې وو چې شرقیان د خوښۍ په وخت کې بیا هم د دنیا پوچوالي ته پام کوي، څومره ښه شو چې د دې خبرې یوه ژوندۍ بېلګه مې ولیده."

ومې ویل:

"ښایي هغوی تر نورو هوښیار وي، ځکه د دنیا د پوچوالي په یاد کې هغه غمونه ګوري چې د خوښۍ د درك مخه نیسي او موږ هغه غم ته چمتو کوي، چې له هرې خوښۍ سره مل وي."

په حیرانتیا سره یې وپوښتل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"تاسې هم کوم غم لرئ؟"

"ـــ بېخي ډېر."!

یو څه فکر یې وکړ، بیا یې وویل:

"زه هم اقرار کوم چې غم لرم."

"ـــ تاسې ولې؟ دومره ښایسته نجلۍ چې ځوان مین هم ولري، لکه مېچل"....

زما خبره لا پایته نه وه رسېدلې، چې مېچل راغی او کښېناست.

ویې پوښتل:

"خبرې مو کولې؟"

لیدا د ایراني لیکوال لیکنه ورکړه. ویې لوسته، په پوزخند او مسخرو سره یې پر مېز واچوله.

ویې ویل:

"دا خبرې ویلیام ته ښې دي، چې د شعر او خیال په دنیا کې ژوند کوي. ما د ایراني لیکوال پرخلاف، له دې مېلمستیا څخه بل فکر واخیست، چې زیاته ګټه به ترې واخلم."

ومې ویل:

"ګومان نه کوم چې دغه لیکوال دې خپل خیال ستا له فکر سره بدل کړي."

لیدا موسکۍ شوه، له حالت څخه یې ښکارېدل چې زما خبرې تاییدوي.

مېچل په غوسې سره وویل:

"د ویلیام خبره مه اوره! دی چې هر څه وایي خیال او تصور دی. که غواړې ویې پېژنې پرېږده چې ستا په وړاندې یې د پوښتنې ځواب ورکړم، چې پوه شې څنګه سړی دی."

بیا یې ماته مخ راواړوه:

"د اکا زوا! ته پر خپل موزون اندام او ښکلې څېرې باندې زیات نازېږې، خو ودې لیدل چې الیس، هغه ښکلې نجلۍ یوازې پرېښودې او زما سره راغله، ودې لیدل چې دغه جمال او دنګ قد، له احساساتو ډك زړه دې زما د ډك جېب په وړاندې مقاومت ونه شو کړای، هغه صنم دې هم زه تر تا غوره وګڼلم. هغه په ما پسې راغله، خو دا زما ګنا نه وه، زه په دې کار خوښ شوم .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



الیس مې یو څه وخت وساتله، کله چې مې ولیدل د هغې اختلاف زما د خوښې خلاف دی، نو پرې مې ښوده. اوس ته راغلی یې او غواړې زه یې بګېرته ومنم! ته مې دغه جشن ته د دې لپاره راوغوښتې چې په دغو نجونو او ښځو کې لیدا تر ټولو ښکلې وګڼې او ووینې چې تر ټولو غوره ده.

د حُسن د دغې ملکې په شتون کې ستا هیله منلای شم؟ ایا سپینه سپوږمۍ د یوه ستوري په مقابل کې له لاسه ورکړم؟ ګناه د الیس وه چې زما په خوښه یې چلند نه کاوه، هر څوک چې د هغې غوندې بېباکه او خپلسرې وي، د هغې په برخلیك به اخته شي. یانې کله چې پښېمانه شي، کار به له کاره تېر وي."

سر مې سینې ته کښته شوی و. مېچل ته مې نه کتل؛ د هغه د خبرو پای ته په تمه وم. یو وخت متوجه شوم چې لیدا په اشاره ورته د غلې کېدو بلنه ورکوي .

مېچل غلی شو، زه اوچت شوم چې لاړ شم، خو لیدا له لمن څخه ونیولم او ویې ویل:

"یو څو دقیقې کښېنه."!

مېچل اوچت شو او ویې ویل:

"لیدا! ته زما د اکا دغه ساده زوی ته نصیحت وکړه چې زما غوندې جدي خلك صفا او رښتیا خبرې کوي" ....

هغه لاړ، زما او د لیدا نظرونه څمکې ته څیر وو او چورت مو واهه. په چوپتیا کې مې په زړه کې د مېچل له لاسه یو غوغا جوړه وه، چې ولې یې دومره بې ادبانه چلند وکړ، بیا له دې کبله ځورېدم چې د لیدا غوندې بېساری اندام او ښایست ولې د دې بلا په لومه کې بند شوی.

ځان مې د مېچل د زړه د ډېرې او د ژبې د تېغ تر منځ راښکېل لیده.

آیا لیدا واورېدل چې پر ما څه تېرېږي او په اروا کې مې کومې انګولاوې اوچتې دي؟ او په ذهن کې مې څنګه سوځنده فکرونه اوړي_ را اوړي؟ ...

هو! ویې لیدل او وایې ورېدل.

ویې ویل:

"درځه چې باغ ته لاړ شو، یو څه وګرځو."

لاړو او د ګلونو منځ کې پر یوې څوکۍ کښېناستو، د بلوط د ونې په څانګو کې چې زموږ مخې ته ولاړه وه یوه مړه ښځه او دوه نارینه را ځوړند وو. د باد به لګېدو سره زنګېدل .

سپوږمۍ د جنایتکارانو د ځراغ غوندې د روزګار د عمل پر مېوو ځلېده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويې ويل:

"ايراني ليکوال رښتيا وايي، د دغې مېلمستيا له کوربه پرته بل چا د ژوند شرحه سمه نه ده انځور کړې، زموږ نعمتونه او خوښۍ په غم لړلې دي، ګنې تاسې باید په دې حُسن او صورت سره يو نېکمرغه ځوان وای."

ومې ويل:

"ما هم ګومان نه کاوه چې دومره ښکلی وجود دې غمجن وي."

ويې ويل:

"ښايي الیس به حق درلود چې تا پرېږدي او له بل چا سره لاړه شي، ځکه زه د الیس غوندې د يوه بل ځوان کوژدنه وم، دومره ظلمونه يې راباندې وکړل چې اخر مې دغه بدرنګ او مادي مېچل ته پناه راوړله، خو اوس وينم چې دی هم تر هغه ښه نه دی. دغه مړي چې په ونو کې راځوړند دي، تر موږ ډېر ښه دي، د خپلو همېولو له لاسه هوسا شوي او د نسيم ساز ته ناڅي".

ومې پوښتل:

"رښتيا، له مېچل څخه ګيله لرې؟"

" _بېخي پوزې ته راغلې يمه."!

" _که څه هم تر يوه ساعت زيات وخت نه کېږي، چې موږ سره پېژندلي او زه حق نه لرم چې ستاسو له رازونو خبر شم، خو زړه مې غواړي خپل رازونه درته ووايم"

ويې ويل:

"زه هم ستا غوندې ځوان پسې ګرځېدمه، چې وګوري پر ما څه تېر شوي او اوس څه کړاوونه ګالمه. زه له نورو توپير لرم، که پوه شمه چې پر چا ګرانه نه يمه او يو مين د زړه له کومې راسره مينه نه لري، د دنيا يوه ښېګڼه هم نه وينم.

خو زيات کسان شته چې له يار او معشوق پرته ډېر خوشحاله ژوند لري، له طبيعت، شعر، موسيقۍ او ښکلو هنرونو څخه خوند اخلي، خو زه تل د هغه وفاداره مين په لټه کې يمه، چې زما په قدر وپوهېږي، د هوا او لمر غوندې دنيا راته روښانه او د تنفس وړ کړي.

هو! ټول خلك ژوند کوي، خو زه مګرګ تېروم! نه پوهېږم کومه ګناه مې کړې چې بايد ټول عمر په تنده کې وسوځمه او په سراب پسې لالهانده واوسمه. دا څه زجر او کړاو دی چې خدای (؟)راباندې نازل کړی."!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومې ويل:

"عجيبه راز دی، ستاسو دا بېسارى جمال تراوسه داسې مين نه دی موندلی چې تر ځان تېر وي؟."

ويې ويل:

"زړه سوي مينان مې ډېر درلودلي، خو هغه مين، چې زه يې غواړم تراوسه نه دی پيدا شوی."

ووېرېدم. تر لږې چوپتيا وروسته مې وپوښتل:

"هغه مين، چې ته يې غواړې بايد څنگه وي؟."

" ـ زما خاوند بايد دنگه ونه ولري، اندام يې ښايسته وي، له شعر، هنر او طبيعت سره مينه ولري، زړه يې بايد پاك وي "....

بيا يې زياته كړه:

..."زما خاوند بايد د زړه له تله پر ما مين وي، سترگې، غوږونه، فكر، ژبه او حواس يې بايد ټول ما ته متوجه وي"....

ومې ويل:

"كاشكې ټول ښكلي ستاسو غوندې لږه توقع لرلای او قانع وای"....

" ـ هو! زما هيله همدا ده چې خاوند مې ښايسته، خوږاروا او هنرپال وي، دا ټول تر وروستي شرط قربانوم، ياني له هغه څخه د قدردانۍ، وفا او مينې پرته بل څه نه غواړم. نو ځكه مې مېچل چې بدرنگه هم دی او بدذوقه هم، ومانه.

هغه راسره ومنله چې د مينې په زور به د نورو نيمگړتياوو جبران كوي، گومان مې وكړ چې زما د ښكلا، عفت او مينې قدر به وكړي."

ومې پوښتل:

"ولې مېچل پر خپل قول وفا نه كوي؟."

"ـ څه ووايم... خو تا په خپلو سترگو ونه ليدل، ته د هغه د بېوفايۍ شاهد نه وې؟."!

په ژورو سوچونو كې لاړم، چې مېچل څه بېوفايي وكړه، پوه نه شوم.

ومې پوښتل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ما خو له هغه څخه داسې حرکت ونه لید چې بېوفايي يې وښيي"....

ترخه موسکا يې وکړه او ويې ويل:

"هغو ښځو ته دې د مېچل کتل ونه ليدل، تا ونه ليدل چې هغې نجلۍ ته يې څنګه تر سترګو لاندې کتل، بيا اوچت شو او له هغې سره ونځېد؟ ."!

ومې ويل:

"زما د مېچل سترګو ته پام نه و."

ويې ويل:

"نو چيرې ورك وې؟."

ومې ويل:

"يوازې مې تاسو ته پام و."

" _دا څنګه امکان لري چې يو نارينه دې شا وخوا نجونو ته پام ونه وکړي او د زړه له کومې د خپلې معشوقې په وړاندې ناست وي."

"_ما خو يوازې تاسو ته کتل او بس! ځکه چې نن شپه مې د خپلو هيلو پر پاڼه هغه انځور شوې ښکلا په حقيقي بڼه وليده".

ويې ويل:

"ايا امکان لري چې د نن شپې په شان د تل لپاره له خپلې معشوقې پرته بل چا ته سترګې وانه ړوې؟ او له خپلې مېرمنې پرته له بل چا سره ونه ناځې؟."

د دې هېښوونکې غوښتنې په وړاندې يو څه غلی پاتې شوم او ومې ويل:

..."البته، کېدی شي."

لکه زه چې هلته نه يم او څه نه اورم. له ځانه يې وپوښتل:

"دا رښتيا ده؟ تر دومره ډېرو درواغو ايا کېدی شي سړی دا خبره ومني؟."

ومې ويل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ګومان کوم اوس به مېچل له نڅا څخه راستون شوی وي او ما ته به دومره وخت رانه کړي چې تا ته د الیس کیسه وکړم."

اوچته شوه او ویې ویل:

"ځه چې ځو، د هغې دنګې ونې په تیاره خوا کښېنو چې مېچل مو پیدا نه کړي."

لاړو او پر اوږدې څوکۍ یو بل ته مخامخ کښېناستو، د دې پر ځای چې زه د الیس کیسه ورته وکړم، هغې خپل برخلیك راته پیل کړ. چې له دوو ځوانانو سره یې کوژده وکړه، وروسته له مېچل سره اشنا شوه، خو یوه هم هغه صدق او رښتینولي نه درلوده، لکه دې چې غوښت.

څرنګه چې ما خپله رښتینولي او صدق بشپړ لیده او هغې چې پر خپل خاوند څه شرایط ایښودل، په ما کې وو.

بېواکه مې وویل:

"بیا نو روزګار ولې مونږ دوه لالهانده کسان ژر نه سره یو ځای کول؟ طبیعت ولې هغه جوړې چې یو بل ته ډېر غوره وي، سره لیرې ساتي؟."

په دې وخت کې مېچل بڼ ته راغی، د هغو درېیو راځوړندو مړو د وېرې او سړې هوا له کبله یې خپلې اوږې سره نژدې کړې او بېرته لاړ. د هغه په تلو سره لیدا هوسا شوه او په لړزانده غږ یې وویل:

"کاشکې ته رښتینی واوسې او دروغجن ونه خېژې، که د خدای (ج)رضا وه، ته هماغه هلك یې چې زما لپاره له جنت څخه رالیږل شوی یې".

لکه یوه کلکه څپېړه چې مې پر مخ لګېدلې وي، د بدن تږوله وینه مې سر ته راغله، اوچت شوم او ومې ویل:

"دا اول ځل دی چې یو څوك ما ته دروغجن وایي... که تاسې نارینه وای، دا ښکنځل به مې نه شوه زغملای."

زما لاس یې ونیو او ویې ویل:

"لکه چې تر دومره زیاتو کړاوونو او خواریو وروسته مې خپل ورك مین موند... راځه چې له دې ځایه لاړ شو".

د ماشومانو غونډې غلې، پرته له دې چې له مېچل سره خدای په امانی وکړو، له هغه کور او باغ څخه یوه هـوټل ته لاړو. کله چې یې د الیس کیسه راڅخه واورېده، عاشقانه نظر یې راباندې واچاوه او ویې ویل:

"دا ځل به مې تېروتنه نه وي کړې، خو نه... معلومه نه ده چې پر تا ګرانه یم او که نه."!

ومې پوښتله:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"پر تا ګران یم؟."

" _ته هماغه یې چې ما یې هیله درلوده، امکان لري چې یو چا ته دې خپله پوره شوې هیله ګرانه نه وي."!

له حیرانۍ سره مې وپوښتل:

"تا زما لپاره له شتمن مېچل څخه لاس واخیست؟."

په حسرت سره یې سر وښوراوه او زیاته یې کړه:

"ما له مېچل څخه وفا غوښته، نه شتمني! ما ښکلا او هنرپوهنه هم تر وفا قربان کړه، خو تا ولیدل چې هغه یې هم نه درلوده."

ومې ویل:

"خو زه غریب یم."

زما لاس یې ونیو او ویې ویل:

"د دنیا ټول شته ستا د بېساري جمال، هنرپالې اروا او وفاداره زړه په اندازه ارزښت نه لري."

ومې ویل:

"دا ټول ستا پښو ته درغورځوم."

زه یوازې هغه شپه په هغه هوټل کې د جنت په مانا وپوهېدم، مورږ په یوه ساعت کې د ټول عمر په اندازه مینه وکړه، داسې ترون مې ورسره وکړ، لکه طبیعت یې د قوانینو په ټینګولو کې له خدای (ج)سره کړې ده.

* * *

کور ته چې راتلم د مینې په نشه مست وم، مور ته مې ټوله کیسه وکړه، تر لږ فکر وروسته یې سر اوچت کړ او ویې ویل:

"زه په دې نړۍ کې ستا له نېکمرغۍ پرته بله هیله نه لرم، خو افسوس چې ستا د نېکمرغۍ اسباب نه شم دربرابرولای، ځکه چې نېکمرغي د زړه په لاس کې ده او ستا زړه زما په فرمان کې نه دی".

پرېشانه شوم، ومې ویل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"په دې انتخاب کې کوم عیب وینې؟ تر لیدا بله ښه نجلۍ در معلومه ده؟."

"_زه نه غواړم چې خپله عقیده او خوښه پر تا دروتپم، یا بل چا ته ګوته ونیسم."

زارۍ مې وکړې :

"د خدای لپاره هر څه چې دې په زړه کې درګرځي راته ویې وایه، دا خو زما د ژوند کیسه ده، قربانې ورکړه او له اخلاقي اصولو پښه واړوه."

یو څه غلې شوه، بیا یې وویل:

"ته ښه وایې، هغه څه چې وربانديې پوهېږم که یې درته ونه وایم، لکه تر غیبت لویه ګناه مې چې کړې وي."

ومې ویل:

"ووایه، ته له هرې ګناه څخه پاکه یې."

ویې ویل:

"زه چې څومره تجربه لرمه، لیدا ډېره حسوده او بدګومانه نجلۍ ده، تا هېڅکله هم زموږ په کور کې دا بدمرغي نه ده لیدلې او د حسادت له زهر څخه نه یې خبر چې څومره وژونکي دي."

ومې ویل:

"مور جانې! مین که حسود نه وي، مین نه دی."

"_منم چې حسادت د مینې مالګه ده، خو که تر حد زیات شي، دغه مالګه بیا سړی بدمرغه کوي."

"_که څه هم دا غوښتنه راته حیرانوونکې ښکاري چې راته ویې ویل: له بل چا سره به نه ناځې، خو دا خپله د مینې پر توندوالي دلالت کوي. زه یې د سر په سترګو منم.

مورجانې! پرېږده چې لیدا راسره مینه وکړي او په بدل کې زما څخه دغه ډول ساده غوښتنې ولري، ته خو ما پېژنې، له ما او زما له وفا څخه هم خبره یې، که د لیدا غوندې ښکلې معشوقه راڅخه وغواړي چې له بل چا سره ونه ناڅم، ما ته ګرانه خبره نه ده."

ویې ویل:

"هیله لرم د مینې دغه پرښته چې د حسادت لوی دېو به زېږوي، وړاندې تر دې چې دغه دېو په ستم او ظلم لاس پورې کړي، په زانګو کې ومري."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومې خندل او مې ویل:

"که ستا اندېښنه له همدې کبله وي او بله نیوکه نه لرې، بېغمه اوسه، د لیدا اوښکې به لکه پر چمن چې باران واوري، زما خاطر زیات راوغوړوي."

یوه شېبه دواړه غلي وو. ما لیدا په خیال کې لیده چې زما دغه دفاع اوري او د خوښۍ خندا کوي. په زړه کې مې ویل:

"ای بېسارې معشوقې! مه وېرېږه، څومره چې کولای شې حسوده واوسه، که زما په باب هم حسوده واوسې، زه تر ځان تېر یم."

ناڅاپه مې د مور له خولې څخه د مادلن نوم واورېد، زه ورته ځیر شوم، خو هر څه چې مې انتظار وکېښ، بله خبره یې ونه کړه.

په خندا سره مې وپوښتله:

"د مادلن له یادولو څخه دې مقصد څه و؟ ښايي غواړې ووایې چې مادلن ښه نجلۍ ده، هېڅ حسوده نه ده، ستا سره مینه لري... هو! ښايي مادلن حسوده نه وي، نو دا په خپله ثابتوي چې زما سره مینه نه لري! ځکه چې اوس له خپل کوژدن سره په عیش او خوشحالۍ اخته ده، له خپل پلار څخه په ورپاتې شتو باندې په حساب اخته ده."

مور مې اسوېلی وکېښ او ویې ویل:

"افسوس چې تا مادلن نه ده پېژندلې، زه نه وایم چې ستا سره مینه لري یا نه، نه غواړم ستا په احساساتو کې لاسوهنه وکړم، خو زړه مې غواړي مادلن ښه وپېژنې، پر تا د بې پروایۍ له کبله نیوکه نه کوم، زیات لوی خلك شته چې ګلونه ساتي، خو نه یې ویني. د فکر زیات خاوندان له یو چا سره یو کال تېروي، خو نه یې پېژني، افسوس کوم چې تا پر دومره ښېګڼو سرېېره مادلن، چې ډېره درنژدې هم وه، ونه پېژانده."

دغه ارام او سنګین ظاهري وجود چې د سیند غوندې ارام دی،بیا یې هم یو لوی توپان یې په خپله سینه کې پټ کړی، د مادلن په زړه کې هم شور او مینه پټه ده چې یوازې په شاعرانو او نازك مزاجه خلکو کې پیداکېږي، د دې نجلۍ په وجود کې هغه او سوز او مینه پټه ده، چې شاعران ښکلو شعرونو ته هڅوي او سندرې جوړوونکي د اسماني سندرو غږولو ته.

مادلن، د یوه حساس شاعر غوندې په یوې مینه ناکې خبرې په زړه کې یو دېوان شعر جوړوي، آن ناڅرګنده مینه هم د مینې په قوت رامنځته کوي او په خپله هیله یې بدلوي. ناشونې خبره ده چې مادلن دې له ښکلا سره مینه ونه لري او پر نېکۍ دې مینه نه وي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغې ښکلاپاله او حساسه اروا د ښکلا او ښېګڼو تر ټولو پټ رمز او سبق تر پایه لولي، خو ته تمه لرې چې د غرور او درناوي دغه غر مات شي او د بل چا پښو ته توی شي، یا دغه ګل د بل چا لاس ته ولوېږي "....!

نه مې غوښتل چې د مور په خبرو مې پوه شم، دومره پر لیدا مین وم، چې ذهن ته مې بله خبره نه پرېوته، د هغې زړه راکښونکي مخ ټوله نړۍ پوښلې وه او له هغې پرته مې د بل چا صورت نه لیده.

د مور تر خبرو ورسته چې هم د مادلن ستاینه وه، هم زما ملامتیا، اوچت شوم او د ستړیا په پلمه خپلې کوټې ته لاړم.

⊠⊠⊠

د دې لپاره چې ځان د هرې ګناه او خطا له عذاب څخه خلاص کړم او خپل زړه په یوه وار لیدا ته وسپارم، د شپې مې څو ساعته فکر وکړ، ډېره خواري مې وګالله. اخر وتوانېدم چې د مادلن ملامتیاوې او خطاوې لویې او د نه بخښلو وړ انځور کړم .

سبا ته لاړم چې وروستۍ خبره ورته وکړم او وجدان له دې کړاو څخه هوسا کړم. څو ورځې کېدې چې نه مو وو سره لیدلي، په لومړي نظر متوجه شوم چې هغه ښکلې سترګې او مهربانه نظرونه، هغه آرام چلند او حرکات بدل شوي، بې پروايي او ګستاخي یې خپله کړې وه.

خوشحاله شوم چې تېروتنه مې نه ده کړې او ځان ته مې حق ورکړ چې حقیقت ورته ووایم. کښېناستو، زه د مطلب د پیلولو لپاره په پلمې پسې ګرځېدم، خو هغې موسکا وکړه او ویې ویل:

"خبر یې چې زما او د موریس کوژده وشوه؟."

ومې ویل:

"زه هم راغلم چې له لیدا سره مې د خپلې کوژدې خبر درکړم."

ویې ویل:

"مبارك دې وي، ستاسو په شان ښکلی ځوان باید همداسې ښکلې جوړه ولري."

حیران شوم، ومې پوښتل:

"تاسو هغه لیدلې ده؟."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو څه چوپه پاتې شوه، بيا يې زياته کړه:

"نه مې ده ليدلې، خو باور لرم چې ستاسو ښکلا خوښوونکی زړه به خامخا ښکلې نجلۍ خوښوي."

په کنايه کې مې ورغبرگه کړه:

"تاسې هم په ښکلا خوښونه کې تر ما کمه نه ياست، له دې کبله مو په ټولو کې موريس وټاکه."

موسکۍ شوه او خبره يې بلې خوا ته وغزوله. که څه هم ومې نه شول کړای هغه ملامتياوې او ترخې خبرې ورته وکړم، خو خبرې اترې او حرکات مو کرار_ کرار پردي او رسمي شول. لکه چې يو بل ته وايو :

"دا مو وروستۍ ليدنه ده."

اوچت شوم، لکه مرغه چې له قفس څخه ازاد شوی وي، د مادلن دوی له کوره ووتم او ليدا ته لاړم.

يو مرغه چې له قفس څخه ازاد شي او سمسور بڼ ته لاړ شي، څه حالت به لري؟ زه هم هماغسې وم. لکه پاك خدای (ج)چې يو بل ته پيداکړي يو، داسې خبره، رمز او کاته مو نه درلودل چې له يو بله پټ وي، لکه له ډېرو کلونو چې يو بل سره پېژنو او پر يو بل مينان يو. ځکه له وصاله پرته مو بله هيله نه درلوده، نه مو غوښتل چې د مادي ژوند په اړه مو کومه خبره ستونی تريخ کړي، لکه په جنت کې چې يو، نه مو د خوراك غم کاوه، نه د جامو .

ژمنه مو وکړه چې راروانه اوونۍ به ... ايالت ته ځو او هلته به له دود _ دستور سره سم واده کوو.

کله چې مو خدای په امانی کاوه، ليدا يو سوړ اسوېلی وکېښ.

ومې پوښتله:

"ولې اسوېلی کاږې؟."

ويې ويل:

"ووېرېدم چې تر بلې اوونۍ په زرگونو نجونو ته ونه گورې"....

ومې خندل او لاس مې ورمچ کړ، منڼه مې کړه چې دغه زېرې مې پر مور باندې هم وکړم.

☒☒☒

له بده مرغه، هغه شپه مې مور زياته ناروغه وه، آن ما ته يې سترگې هم پرانيستې. سبا ته مې د ډاکټر په غوښتنه روغتون ته يووړه او بستر مې کړه، که د ليدا د ليدو ذوق نه وای ښايي پر ما به د مور د ناروغۍ له کبله ډېرې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سختې شېبې راتلای، له روغتون څخه به مې چې څه غمونه له ځانه سره وړل، ټول به مې د لیدا په خوږه مینه کې هېرېدل.

هر هوټل ته به چې تلو، ټولې سترګې به موږ ته راواوښتې، کله چې به د کومې هنداري له مخې تېرېدو، ښواکه به درېدو، یو بل ته به مو وخندل او د یو بل په ستاینه به مو پیل کړه. ټول کار مو مینه او مستي وه. تل به مو د یو بل ښایست ستایه او سره بوخت به وو.

لیدا به هره ورځ زما د مینې تېرې کیسې پوښتلې، ما به هم د مادلن او الیس یوه- یوه کیسه ورته وکړه، هغې به بیا پوښتنې کولې او ویل به یې :

"زه له هغوی څخه وېرېږم، هسې نه چې د هغوی وېدې مینې دې بیا په زړه کې راژوندۍ شي او زموږ د هستۍ درمند ونه سوځي".

زه به د هغې دې بېځایه وېرې ته حیرانېدم، څرنګه چې د هغې د مینې او لېولتیا خبره هم وه، نو خپله حیرانتیا به مې پټه ساتله، د دغسې یوې معشوقې په لرلو مې ویاړ کاوه.

د لیدا پلار د ترکاڼۍ (نجارۍ) یوه کارخانه درلوده، شتمن او هوښیا سړی و. له خدایه یې غوښتل چې لور یې لیدا، له شتمن مېچل سره واده وکړي، لیدا باور درلود چې پلار به یې ما په زوملۍ ونه مني، ځکه چې غریب وم. له دې کبله مو پرېکړه وکړه چې... ایالت ته لاړ شو او په ازاده توګه واده وکړو .

غوښتل مې تر واده وړاندې زما ناروغه مور، چې په روغتون کې پرته وه لیدا وګوري او موږ ته د خیر دعا هم راکړي .

خو مور مې وویل:

"زه نه غواړم چې لیدا مې په دې حال کې وګوري."

کله چې مې وویل:

"سبا ته د واده لپاره... ایالت ته ځو."

اوښکې یې روانې شوې او تر څه ژړا وروسته یې وکولای شول خبرې وکړي .

ویې ویل:

"زه له خدایه یوازې همدا غواړم چې تا ته صبر، نېکمرغي او سرلوړي درکړي."

سترګې یې بندې کړې او مخ یې راڅخه واړاوه. کرار مې لاس ورمچ کړ او لاړم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



⊠⊠⊠

زما درېيو ملګرو په خپل لګښت له ما او ليدا سره د سفر موزې په پښو کړې، چې زموږ د واده په مراسمو کې ګډون وکړي. زموږ وسايل لږ وو، د لويو مراسمو امکانات نه درلودل، بله دا چې هره ورځ مې بايد له روغتون څخه د مور خبر اخيست. پرېکړه مو وکړه کله چې د واده مراسم تر سره شول ژر به راستنېږو، خو يوه عجيبه پېښه وشوه چې زموږ پلان يې راخراب کړ او زما په ذهن کې يې يو تور خاپ پرېښود:

کيسه داسې ده، چې... ښار ته ننوتو، يو څه وځنډېدو، يوه باغ ته لاړو او پر څوکيو کښېناستو، يوه ملګرې مې چې جيمي نومېده ناڅاپه زموږ له څنګه اوچت شو او په بله څوکۍ کې د يوه سپين ږيري څنګ ته کښېناست. څرنګه چې زيات شوخ و، وړاندې تر دې چې د هغه په موخه وپوهېږو، ومو خندل او خوشحاله شوو. يو پاو وخت لا نه و تېر شوی چې له سپين ږيري سره راغی او ويې ويل:

"ما د سترګو تر کونجو وليدل، پوه شوم چې دغه سپن ږيري پر ليدا زړه بايللی."

ومې ويل:

"دا نجلۍ مې خور ده، تر اوسه لا نکاح نه ده تړل شوې، کېدی شي تا ته يې درکړم."

سپين ږيري وخندل او ويې ويل:

"که ځوان وای، ستا دا مينه به مې منلای، خو رښتيا وايم ما تر اوسه داسې ښکلې نجلۍ نه وه ليدلې، زما لپاره دا خوند راکوي چې دغه بڼ ته راشم او له هغو ځوانانو سره مرسته وکړم چې د واده تياری نيسي".

جيمي وويل:

"دی هم هماغسې ښکلی ځوان دی، دوی چې څومره پيسې درلودلې، ټولې يې پر دغو بدرنګو قوارو لګولې او اوسنۍ نقابونه يې رانيولي دي."

سپين ږيري وخندل او د واده لګښت يې پر خپله غاړه واخيست، ما چې هرڅومره ټينګار وکړ او د مور ناروغي مې پلمه کړه، چا راسره ونه منله، ويل به يې:

"موږ به هر ساعت له روغتون څخه خبر اخلو."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر خوندور جشن تر سره شو، زموږ د کوربه په بلنه تر سلو زیات نابلده کسان واده ته راغلي وو، ښځې او نارینه زما او د لیدا پر شا وخوا راټول شوي وو او موږ ته یې مبارکۍ راکولې، زموږ د ښکلا ستاینه یې کوله. یو ځوان راغی او له لیدا څخه یې د نڅا غوښتنه وکړه، خو هغې عذر وغوښت، د بل چا هیله یې هم ونه منله.

ورو مې وویل:

"ولې نه ورسره ناڅې؟ زه غواړم ته یو څوك وټاکې، په دې توګه به زه له یوې سره وناڅم."

په غوسه شوه:

"ولې موږ څه پرېکړه سره کړې وه، هېره دې شوه؟ موږ نه وو ویلي چې له یو بل پرته به بل چا ته نه ګورو؟."

ومې ویل:

"ته رښتیا وایې، راځه چې دواړه په ګډه وناڅو."

یو بل مو ټینګ په غېږ کې ونیول او په نڅا مو پیل وکړ، خو زه داسې وم، لکه چا چې په زنځیرونو تړلی یم... له نېکه هغه زنځیر د لیدا په ښکلو منګولو کې و."

موږ دواړو په نڅا کې لاسبري لرله، خلکو موږ ته خوشحالي کوله.

خو دا چې موږ تل یو بل سره نڅېدو حیران وو، ځکه چې موږ له بل چا سره نڅا نه کوله.

هغه خوښي او عیش تر سهاره وغزېد، که څه هم تر سهاره مې دوه ځلې د مور په اړه ښه خبرونه ترلاسه کړل، خو بیا مې هم په زړه کې یو پټ شور ګډ و. پر شوګیر او ژړا سربېره مې غوښتل بیرته کور ته لاړ شو. خو کوربه، جیمي، لیدا او نورو ملګرو مې مخنیوی وکړ، زما له مور څخه یې اجازه واخیسته چې دوې ورځې نورې هم تېرې کړو.

سپین ږیري موږ ټول د تفریح او چکر لپاره د سیندغاړې او ځنګله ته چې ښار ته نژدې و، بوتلو.

☒☒☒

تر درېیو ورځو وروسته خپل ښار ته راستانه شوو، لیدا خپلې دندې ته لاړه، زه خپل کور ته، غوښتل مې جامې بدلې کړم او یو ځل روغتون ته سر ورښکاره کړم، بیا اجازه واخلم او لیدا کور ته راولم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ور مې پرانیست ټکان مې وخوړ. د کور دالېز تیاره و! پردې هم راکش شوي وې! څراغ مې بل کړ، د دالېز په مخ کې د پراته مېز پر سر مې یو پاکټ ولید چې شاوخوا یې توره لیکه راکش شوې وه، زړه مې په زوره ودرزېد. په لړزانده لاس مې لیك پرانیست، د مادلن خط و، لیکلي یې وو:

"ګرانه ویلیامه! نه پوهېږم لومړی باید تا ته ډاډګېرنه درکړم که مبارکي؟ خو زړور نارینه لومړی له سختیو سره ډغرې وهي .

هو! روزګار تر ټولو لویه بدمرغي درپه برخه کړه!... رښتیا ده چې ټولې میندې مري، خو ستا مور له نورو څخه بېله وه. ستا لپاره ملګرې، رهبره، غمخوره، بخت، اقبال، سترګې، څراغ او رڼا وه. د ټولو مور وه، لکه لمر او باران، بې منته به هر چا ته رسېده. یوازې تا ته ډاډ نه درکوم، بلکې ځان ته هم، هر چا ته چې یو ځل یې لیدلې وه او د هغې د اروا عطر یې بوی کړی و.

هر چا به چې د هغې ارام چلند، موسکې سترګې لیدې او هغه نرم غږ به یې اورېده، خپله ټوله غوسه او غم به یې هېراوه! هر چا به چې هغه موزون اندام، ښکلی صورت او پرانیستې ټنده لیده، د اروا مرغه به یې د هر غم له بنده خلاصېده، هر چا به چې د هغې له خبرو او نصیحتونو څخه ګټه اخیسته، لکه د خپلو ستونزو کیلي یې چې تر لاسه کړې وي، هر غم به ورته خوشحالي جوړېده، هره کینه او بدي به مینه او نېکي .

تا ته به پوښتنه پیداکېږي چې زه ولې هغه جنتي وجود درته ستایم، د دې لپاره چې ته د جلال، وقار، درناوي او د نېکي هغه غره ته دومره ورنژدې وې چې نه دې شول کولای سر تر پښو یې ووینې، زه لیري وم ځکه مې ټوله لیده. آیا ته پوهېدې چې هغه ولې ورځ تر ورځې ناروغه کېده؟ راشه درته ویې وایم:

د دې لپاره چې ستا د خوښې وړ هنري اثار ونه پلوري، د شپې به یې په کور کې کار کاوه او مزدوري به یې اخیسته، یانې خپل ځان یې ذره_ ذره تر تا قرباناوه، خو نه یې غوښتل چې ته پوه شې. هغې خپل راز یوازې ما ته وایه.

ته یې په زړه پوهېدې چې څومره یې ستا د نېکمرغۍ او سرلوړۍ هیله درلوده؟ په دې زه پوهېدمه، پوهېږم چې څومره سوز او کړاو یې ګاله. نه یې غوښتل چې تا، ستا د خوښې خلاف کار ته وهڅوي، په یوه نظر به یې بدۍ او ښېګنې پېژندې، خو نه یې غوښتل چې خوله پرانیزي. زه په دې ټولو پوهېدمه، ځکه چې د راز محرمه یې ومه. زما لپاره همدا ویاړ دی، چې د راز داسې یوه محرمه مې درلوده. زما ویاړ او تسلي همدومره ده چې دغسې یوه نېك او سپېڅلي موجود په خپلې همرازۍ منلې ومه .

موږ به که هره ورځ نه سره لیدل، د ټلیفون له لارې به مو خواله کوله، د خپل زړه ټولې خبرې یې ما ته کولې، د خیال یوازېنی محور یې ته وې، تل به ستا په سوچ کې وه او ستا په اړه به یې خبرې کولې، یا به یې زما سره مشوره کوله.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما هم د هغې غونډې نظريه درلوده، تل به مې ويل: پرېږده ويليام په ژوند کې خپلواک وي او په خپله خوښه ځان ته د ژوند ملګرې وټاکي، تل به مې غوښتل چې زما په باب څه ونه وايي، ځکه ما ويل پرېږده ته په خپلو خيالونو کې زما په نسبت شکمن واوسې .

هره ورځ به مې په روغتون کې د هغې خبر اخيست، په دې وروستيو شپو کې به يې تر سهاره سر ته ناسته وم. ستا د واده شپه، د هغې وروستۍ شپه وه، کشيش راغی، دعا يې ولوسته، بېرته لاړ .

په هغو وروستيو شپېو کې يې وويل:

"ويليام ته ټليفون وکړه او ورته ووايه چې زه ښه يمه. نه غواړمه چې زما د مړينې له کبله يې د واده جشن خراب شي، کاشکې زه سل واره مړه وای، خو چې د ويليام دغه ترون نېکمرغه کېدای."

سبا دې د مور غوښتنه له اسمانونو څخه راورسېده، تا ته مې ټليفون وکړ چې دوې نورې ورځې هم پاتې شې، نه مې غوښتل د مور په مرګ دې عيش خراب شي، ما يې د جنازې ټول مراسم په خپل لګښت، څنګه چې له هغې سره ښايېدل، تر سره کړل. د هغې په جنازې پسې په سلګونو کسان روان وو، ما ستا پر ځای د هغې پر خاورې اوښکې تويې کړې، د هغې قبر مې د هديرې په لوړ ځای کې جوړ کړ، چې وکولای شي له هغه ځايه تا ووينې!

يوه پلورنځي ته مې پيسې ورکړې، چې له ښو مرمرو څخه د هغې يوه مجسمه جوړه کړي، کله چې جوړه شوه، ته يې د مراسمو او دود له مخې هلته ودروه.

هيله لرم چې خدای (ج)د رحمت يو پرښته راولېږي، چې پر تا د دې مصيبت زغم اسانه کړي. هيله لرم د رحمت او نېکمرغۍ پرښته " ليدا " ستا لپاره داسې مېرمن وي چې ژوند دې نېکمرغه کړي. که داسې وي، خو درته مبارکي وايم.

ته ښه، نازنين او د نېکمرغۍ وړ يې. ستا د فطرت ګل له نېکۍ څخه راټوکېدلی، که ته مغروره شې او زياتې ناوړه غوښتنې ولرې، ستا ګناه نه ده، دا د طبيعت ګناه ده چې ته يې تر ټولو ښکلی پيدا کړی يې .

پوهېږم چې پر ما دې هم زياتې ګوتنيونې کړي، ته دومره ښه وې چې زړه نه دې غوښتل زما تر ټولو رښتينی عيب راته په ګوته کړې او راته ووايې چې ته بدرنګه يې! نورې خطاوې دې پلمه کړې او غوښتل دې، چې زما زړه ازار نه شي.

هو! پوهېږم ته ډېر ښه يې، ځکه چې ډېر وخت دې انتظار وايست، چې زه د حورې غونډې شم او ستا ښکلا ته هم کوم زيان ونه رسېږي، نه دې د خپل زړه غوښتنه لره کړه، په ما دې قناعت ونه کړ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهېږم چې زړه دې راباندې سوځي، پر ما دې ځکه ملامتۍ رااړولې، چې هم ما نېکمرغه، هم ځان پر حق وګڼې، ګنې ښه پوهېږې چې ما هېڅکله هم موریس د واده لپاره نه و ټاکلی، له تا پرته به له بل چا سره مینه ونه لرمه او په زړه کې به یې نه ساتمه.

خو زړه دې ډاډه ساته، ځکه زه خپلې هیلې ته رسېدلې یمه، پر تا مینه یمه، زه دې د خپل وجود بنې ته بوتلمه او ما ننداره وکړه، زما ارمان پوره شو. ما له دغه باغ څخه د ټول عمر لپاره خپل زړه او سترګې له ښکلا څخه ډکې کړې، نور نو له دنیا څخه څه نه غواړمه: له هغه مینه ناك صورت، پارونکو سترګو، خوږې اروا څخه چې شعر، نوا او سرور په کې ورګډ دی، بله څه غوښتنه ولرمه؟

څومره چې روزګار تا پوهوي، دغه شعر او نوا هومره خوږه کېږي. له تا څخه مې ډېر یادګارونه ترلاسه کړي، چې ټول عمر به ورسره خوشحاله یمه. ډېرې شپې به ستا په یاد اوچتېږمه، هغه خبرې مې چې درسره کړې یا مې اورېدلې، بیا وایمه او اورمه به یې. څومره ډېرې ورځې به ستا په یاد، دښتو، ځنګلونو او سیندونو ته لاړه شمه، د هغوی د زړه دردونه به اورمه، د مرغانو له

زمزمو، د نسیم له پستو وږمو او د ونو له سازونو سره به همنوایي کومه...

زما پر حال دې باید رخه راشي، ځکه چې بدرنګه خلك یوازې د مینې په یو څو شېبو پوهېږي، د غمونو له زغم او له هغو سره په ګوزاره کې ډېر خوند اخلي، خو پر خپلې ښکلا مغروره خلك ترې بې برخې دي.

ته زما یې زما او ستا ارواوو سره واده کړی، هېڅ قانون او ځواك نه شي کولای دغه روحاني واده باطل کړي. څومره ښه دې وکړل چې زه دې ونه کړم، که دا خطا دې کړې وای، زه به له دغې اسماني مینې څخه بې برخې وم. ځکه، ته لا د اروا ښکلا نه وینې او په ظاهر کې ښکېل یې. هغه څه دې چې غوښتل، په ما کې دې ونه موندل، تا به په د غوسې له کبله زما بدن او اروا راوژله. خو زه اوس تر پخوا زیاته راژوندۍ شوې یمه، ځکه نو ښکلاوې او ښېګڼې تر پخوا رڼې وینم او ستا غږ تر پخوا ښه اورم.

پخوا مې هېڅکله اوښکې نه وې تویې کړې، ګومان مې کاوه زما سترګې د مینې او شفقت دنیا ته لاره نه لري، یا مې په سینه کې کاڼی دی چې دغې چینې ته مې نه ورپرېږدي، خو تا چې پر سینه سوك راکړ، هغه کاڼی یې مات کړی او هغه چینه تاند شوې ده، چې بیا به نه درېږي، په دې پاکو او رڼو اوبو به زما په وجود کې څومره ګلونه او چمنونه راشنه شي!

ښایي راته ووایې: هغه وخت چې سره نژدې وو ولې دې په دې اړه خبرې نه کولې! هغه ځکه چې په غمونو کې کړېدل، نیني کېدل او څه نه ویل، د ځانغوښتنې له تخت څخه کښته کېدل، زما لپاره ډېر ارزښتمن وو. ما ویل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېڅکله به هم په دې نړۍ کې له چا څخه ګیله ونه کړم. ما ویل کله چې بلې دنیا ته لاړم سر به مې د مور پر زنګون ږدم او زارۍ به ورته کوم، چې اې مورې! زه دې ولې بدرنګه وزېږولم، ولې دې دومره نازکبین زړه راکړ...!

دا دی اوس تا ته ژاړم او شکایت درته کومه، خو له نېکه مرغه چې بیا به دې ونه وینمه، چې درڅخه وشرمېږم، کله چې دغه لیك لولې، زه به له دې ښاره تللې یمه او تا ته به مې یوه نخښه هم په لاس درنه شي. ستا مینه له ځان سره ګرځوم، چې نوره هم شاعرانه شي. د سیندونو، ساراوو، هېوادونو، خلکو، عادتونو، دودونو او رواجونو په لیدلو سره لویوالی ومومي، ښایي داسې پېښې وشي چې زما مینه له خطرونو سره مخ کړي، داسې خطرونه چې د کیسه کولو وړ نه وي او زما یادګار د خلکو په سینو کې خوندي پاتې شي.

یو کال وروسته به انجنیر شې او کار به پیدا کړې. ځکه چې مور دې ډېره قرباني نه شي ورکولای، چې شپه و ورځ درته کار وکړي او پیسې وګټي، بیا د کمزورۍ او ناتوانۍ له کبله خپل ژوند له لاسه ورکړي...

له دغه لیك سره ستا او ستا د مېرمنې لپاره د... روپیو یوه حواله هم مله کوم. تا ته څرګنده ده چې پلار مې شتمن و، ما ته یې ډېر شته په میراث راپاتې دي، نو په دې توګه دغه پیسې په ډاډه زړه راڅخه ومنه.

پر دې مېز په یوه ډبلې کې د لیدا د غاړې لپاره یو الماس هم ږدم، چې په لیدو یې ما یاده کړې.

بله چاره نه لرم، باید ووایم چې مور دې تر مړینې یوه شپه مخکې په ډېر زحمت سره سترګې پرانیستې او ویې ویل:

"ویلیام ته ووایه د خپلې مېرمنې د بدګومانۍ او حسادت ناروغي دې تداوي کړي، که داسې ونه کړي زما اروا به ورته په اندېښنه کې وي."

زه هم هره ورځ د کلیسا په کونج، یا په سارا او ځنګل کې خدای ته دعا کوم چې تا د حسادت له بلا څخه وساتي.

ستا لاس په دعا دوسته مادلن.

لاسلیك

☒☒☒

یو وخت په خود شوم او پام مې شو چې په لاس کې مې یو کاغذ دی او په دالېز کې ولاړ یم! پوه شوم چې مور مې مړه شوې ده. مادلن هیڅکله هم د موریس کوژدنه نه ده او اوس هم زما د مینې په اور کې ډاګونو ته وتلې ده! حیران شوم چې ولې مې اوښکې نه بهېږي، ولې مې د غوسې او شرم له کبله اروا نه الوزي، ولې نه شم کولای په پښو ودرېږم او د مړه جسم غوندې نه رانړېږم !

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه له یوه دېو سره چې یوازې اوسم، له ځانه ووېرېدم، ولړزېدم، لیدل مې دغه دېو مې د مور په مړینې خوشحاله شوی! د مادلن له تګ څخه خوند اخلي، د مادلن له خوا په پرېښودل شویو پیسو خوشحالېږي، حق پېژندنه او د انسانیت ټولې چارې د لیدا پښو ته اچوي! ځان نه ویني چې په یوه تش کور کې، د مور له مزاحم وجود څخه لیرې د سپوږمۍ غوندې ناوې سره په خوشحالۍ او عیش اخته دی او د دنیا غم یې هېر کړی دی!

چغې مې کړې:

"ای مورې! خطا مې وکړه، ته مې یوازې پرېښودې او په خپلې خوښۍ پسې لاړم، زه د ځانغوښتنې له کبله ړوند شوی وم، نه مې لیدل چې تا خپل ځان د بلې شمعې غوندې سوځاوه! کاشکې دې زه هم له ځانه سره بېولای، چې ما دې پښې مچولای او بخښنه مې درڅخه غوښتلای....

ای د لوی زړه خاوندې مورې! ای د نېکۍ پرښتې! زه دومره کوچنی یم چې نه شم کولای ستا لویوالی ووینم، تا خو زه لیدلم، ولې دې زما لاسنیوی ونه کړ او زه دې نه اوچتولم، ما ته دې ولې خپله اوچته اروا نه راښووله! ولې دې نه پرېښودم چې زه ستا ټوله ښکلا ووینم او په کې ورك شم! ولې ناڅاپه لاړې او د شرم دغه کړاو دې ما ته پرېښود!

ولې پاتې نه شوې چې لیدلای دې، د غم او پښېمانۍ له کبله مې د وصال شربت څومره ترخه شوې دي! خو ښه دې وکړل چې له ما څخه دې غچ واخیست، ما ته دې چې دا پیسې او سره زر پرې اېښې، چې زما لپاره تر هرې ملامتۍ او ښکنځلو دردوونکې دي"....

په دې ژبه ژړېدم او د زړه خواله مې کوله، خو د نفس دېو مې پر دې خبرو خندېده او غوغا یې جوړوله. د دغې دروني جګړې له کبله مې خپل تعادل له لاسه ورکړی و، یو ګام به وړاندې تلم، یو ګام شا ته، په مېزونو او الماریو مې لاسونه تکیه کول چې ونه لوېږم. غوښتل مې پرده لیرې کړم، دومره په زوره مې کش کړه چې څیرې شوه او لاندې ولوېده. پوه شوم چې نه شم کولای په یوازې ځان خپل قدرت کنټرول کړم، له کوره بهر ووتم، دومره په کوڅو او واټونو کې وګرځېدم چې لیدا له دندې څخه راغله. زما په لیدو حیرانه شوه.

ویې ویل:

"ولې خوابدی یې؟."

"_مور مې مړه شوې ده."

دلیدا په څېره کې مې د خندا یوه نرۍ څپه ولیده، خو ژر یې خوله راټوله کړه او ویې ویل:

"بار به مې نور هم سپك شي، ځکه تر دې وروسته به ستا لپاره هم مور یمه، هم مېرمن."

ترمتې یې ونیولم، کور ته راغلو، د مادلن لیك مې چې، پر مېز پروت و ورکړ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومې ویل:

"ویې لوله."!

کاغذ یې څېرې کړ او لیرې یې واچاوه، په ژړغونې غږ یې وویل:

"زه نه شم کولای تا ته د یوې نجلۍ لیك لیکل وزغمم. ته باید پخوانۍ مینې هېرې کړې."

سترګو ته یې اوښکې راغلې او له ما څخه یې مخ واړاوه.

که څه هم د مادلن د لیك د څیرې کېدو په وخت کې زما زړه هم څیرې شو، خو د لیدا اوښکې هغه ملهم و، چې د زړه پر هغه ټپ ولګېد.

ومې ویل:

"نه وینې چې ستا د مینې په مستۍ کې مې مور له یاده ووته! زه له تا پرته بله معشوقه نه لرم او له بل چا سره مې مینه نه ده کړې. هغه نورې پخوانۍ مینې هغه څراغونه وې چې زه یې ستا د مینې تر عبادتځایه راورسولم."

   

په کور کې پرتو مېزونو، څوکیو او نورو شیانو زما د مور پر مرګ ژړل او زما څخه یې د هغې د لاس پالنه غوښته. موږ د عیش او کامرانۍ په شراب مست وو، اّن دوې- درې ورځې خو له کار او پوهنتون څخ وتښتېدو.

له هغه الماس څخه مې لیدا ته یو امېل جوړ کړ، د یکشنبې په یوه سهار مې چې کلیسا ته تلو ورته ډالۍ کړ، له خدای څخه مې وغوښتل چې پوښتنه ونه کړي:

"دا دې له کومه کړ؟."

ځکه وېرېدم چې ونه ځورېږي، خو که پوښتنه یې کولای، باید چې حقیقت مې ورته ویلای، ځکه چې تر هغه وخته مې دروغ نه وو ویلي. نه مې غوښتل چې دروغ دې زموږ جنتي ژوند او مینې ته لار ومومي.

یوه ورځ چې وختي کور ته راغلم، نو د چایو مېز مې په شوق سره اوډلی و. لیدا چې له کاره راغله، نو زما غېږې ته ولوېده، خو د نورو ورځو په پرتله بې مینې او سړه ښکارېده، تر لاس مې ونیوله او ومې ویل:

"ووایه، څه کیسه ده؟ کومه ناروغي خو به نه لرې؟."

"_نه! ښایي په ډېر کار به ستړې شوې یمه."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په غېږ کې مې اوچته کړه او پر کټ مې څملوله، چای او نور خوراکي توکي مې وروړل، پښه مې ورکښکاږله. چې مخ يې راڅخه واړاوه او په ژړا سره اوچته شوه.

خوابدی شوم ومې ويل:

"ووايه، څه غم لرې؟ ما کومه ګناه کړې ده؟."

"_زموږ د شرکت رئيس ما ته په بد نظر ګوري او ځوروي مې. ما د هغه له کبله له مېچل سره واده ته غاړه کښېښوده، چې د دغه بېرحم سړي له شر څخه خلاصه شمه. اوس څه وکړم؟ ته شتمن نه يې، ما د مور و پلار په خوله نه دي کړي او ستا سره مې واده وکړ، اوس مې هغوی نه پرېږدي، زه بايد وسوځم او ژوند وکړم"....

ومې خندل او ومې ويل:

"دا خو اسانه معامله ده، څکه چې زما د زده کړو تر بشپړېدو پورې پيسې لرو، کله چې مې زده کړې بشپړې شوې، بيا به ښه سرچينه ولرو، تا ته معلومه ده چې اوس هم ځينې شرکتونه ما ته د کار وړانديز کوي، نو ته به سبا بل سبا د دې کور شازادګۍ يې، د عمر تر پايه به کار نه کوې."

اوچته شوه او زما غاړې ته يې لاسونه راواچول. ويې ويل:

"له تا پرته، د نړۍ هر نارينه زما بد راځي، نه غواړم چې له بل چا سره اړيکې ولرم"...

هغې ويل او د خوښۍ له کبله يې ژړل. بيا خوشحاله شوو او په عيش مو پيل وکړ.

زما غريبۍ ته د ليدا د اشارې له کبله مې درووند ګوزار وخوړ، په وجود کې مې ټول پټ قوت او همت راويښ شو، تر هغه وروسته د زده کړو په کار و بار کې نور هم کارنده شوم. خو؛ له بده مرغه چې ليدا نه پرېښوول، له خپل شوق او ځواك سره سم په كور كې كار وكړم، راتله به او كه به مې كتاب لوست، په لاس به يې پټاوه او زما مخ ته به يې عاشقانه نظر اچاوه، يا به يې ټينګ په غېږ کې نيولم او ښکلولم به يې، هر څنګه چې به وو، د کار له مېز څخه به يې ليرې کولم او د لوبې د سامان غونډې به يې لوبې راباندې کولې .

ما ته به يې ويل:

"ته چې څومره ډېر کتاب لولې، زه هومره رنځوره کېږمه، زه غواړم چې يا ويده واوسې، يا غلی کښېنې يا زما سره خبرې وکړې، څکه کله چې کتاب لولې، داسې انګېرم چې زه دې هېره کړې يمه او له بل چا سره خبرې کوې."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



☒☒☒

د پوهنځي ملګرو زما او د لیدا د واده په ویاړ یوه شپه یو جشن جوړ کړ او موږ یې د کال تر ټولو ښکلي زوم او ناوې وبللو، دا چې لیدا د هېڅا غوښتنه نه منله او له ما پرته له بل چا سره نه نښېدله، ټولو نیوکه کوله او لوی جنجال رامنځته شو.

لیدا پر څوکۍ ودرېده او ویې ویل:

"ګرانو دوستانو! حیرانېږئ مه او مه خپه کېږئ، که موږ له تاسو سره نه نښېږو دلیل یې دا دی چې موږ لا له یو بله نه یو ماړه شوي او نه به ماړه شو. له بده مرغه هېڅکله به هم له تاسو سره ونه ناځو" ...

یو ټولګیوال مې چې ښه خوندور ځوان و، پر څوکۍ ودرېد او ویې ویل:

"زموږ دا عذر نه خوښوو او د دې اورنۍ مینې په ویاړ، جامونه هم څښو، خو زه باور لرم چې راروان کال به په همدغه مېلمستون کې زه له لیدا سره ناځم"

ټولو لاسونه وپړکول او خوشحالي یې وکړه، بیا یې زموږ یوه ټولګیواله چې ښه سازغږوونکې وه، پیانو ته کښېنوله او له ما څخه یې د سندرو ویلو هیله وکړه. د لیدا په مینه مې ښه له سوزه ډکه سندره وویله، که مې سندره نه بندولای، اوښکې به مې تویېدلې.

ټولو ستاینه وکړه او بیا مو بله سندره پیل کړه. وروسته تر دې چې درې_ څلور نورې سندرې هم وویل شوې، ومې لیدل چې لیدا په یوه کونج کې ناسته ده او په دواړو لاسونو یې سر ټینګ نیولی، څو کسان یې شاوخوا ولاړ دي. حیران شوم، پوښتنه مې ترې وکړه چې څه خبره ده؟

ویې ویل:

"سر مې ټینګ درد کوي، درځه چې ځو."

په ډېره خواشینۍ سره مې له ملګرو څخه خدای په امانی واخیست او کور ته راغلو. لاړم او دوا مې ورته راوړه. پر کټ پرته وه او ژړل یې.

هر څه چې مې ورته وویل، دارو یې ونه خوړل، پوه شوم چې کوم غم لري، په غېږ کې مې ونیوله او هیله مې ځنې وکړه چې د زړه خبره راته وکړي، چې په څه ځورېدلې ده؟

اخر یې په ژړا او سلګیو کې وویل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"پرېږده مره شمه! زه درباندې پوه شومه چې پر هغې نجلۍ مين يې، کنه دومره له سوزه ډکه سندره به دې نه ويلای! ما په خپلو سترګو وليدل چې هغه د تورو ورېښتانو خاونده نجلۍ هم پر تا مينه ده! ما ونه ليدل، ما ونه ليدل...؟"

ګنګس او حيران پاتې وم، چې څه ځواب ورکړم. ناڅاپه اوچته شوه او زما سترګو ته ځير شوه. ويې ويل:

"وګوره، څومره وشرمېدې، د خجالت له وجې خبرې لا نه شې کولای."!

ومې ويل:

"زما چوپتيا د شرم له وجې نه ده، بلکې د شوق، خوښۍ او حيرانۍ له کبله ده. ژبه مې له خوشحالۍ څخه بنده شوې او خوشحالي مې دا ده چې زما ليدا له ما پرته بل چا ته متوجه نه ده او ټول خاطر يې ماته ځير دی! خو حيران په دې يم چې زما دغه اورنۍ مينه ولې دومره لمبې نه لري چې زما جنتي ليدا يې وليدلاشي؟."

ويې ويل:

"ستا دې زما پر اورنۍ مينې قسم وي، راته ووايه چې پر هغو نجونو خو به مين نه يې؟."

"ــ هېڅکله هم نه" ...!

اوچت شوم، هنداره مې راوړه او ورمې کړه. ومې ويل:

"زه ړوند يم او دا جنتي حوره نه وينم، هغه څوك چې دغه حوره يې په غېږ کې وي او د خدای په مخلوقاتو کې د داسې يوه نعمت په لرلو وياړمن وي، څنګه کولای شي له بل چا سره مينه وکړي؟ هغه به لېونی وي، ته په ما کې د لېونتوب نخښې نه وينې؟."

کرار ــ کرار يې ژړا بنده شوه، په خندا راغله او لاسونه يې رانه چاپېر کړل. داسې شپه مو تېره کړه چې په يوه عمر ارزېده.

سبا سهار يې پرې نه ښودم چې له ځايه اوچت شم، زه هم تسليم شوم، تر دې چې د پوهنځي وخت تېر شو، اوچته شوه د سهار چای يې تياري کړې، هره ګوله يې په خوله کې راکوله، د هغې له مهربانۍ او هيله منو کتو وپوهېدم چې کومه غوښتنه لري.

ومې ويل:

"د هر چا تر ټولو ښه شتمني، د هغه ځان دی. که ته زما ځان هم وغواړې، درته وړاندې به يې کړم."

سر يې کښته ونيو او يو څه شېبه غلې وه. پوه شوم چې کومه لويه غوښتنه لري. زړه مې ولړزېد، خو ومې ويل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ووايه، زما وجود ستا په واك کې دی."

کرار يې د زارۍ په ډول وويل:

"زما غوښتنه درڅخه دا ده چې نور پوهنتون ته لاړ نه شې."

ووېرېدم او ومې پوښتل:

"ولې؟."!

په ملامتوونکي نظر يې راوکتل او زياته يې کړه:

"ته په خپله پوهېږې چې ولې، ته پوهېږې چې هغه پيانوغږوونکې نجلۍ څومره درباندې ګرانه ده، هغه تورسترګې نجلۍ ستا په مينه کې هلاکه ده... پوهېږې"...

ومې خندل او ومې ويل:

"څومره بې خونده ټوکه."!

چغه يې کړه:

"ځان ناګاره مه اچوه، ته ګومان کوې چې ما غولولای شې؟ زه په خپلو سترګو وينم چې شعور نه لرې، ښکلا او بدرنګي نه سره پېژنې، زما پر ښکلا سربېره د هغې بدرنګې نجلۍ په لومه کې بندېږې!.. زما خوارکۍ خاله هم ستا غوندې يوه بې شعوره مېړه سره بنده شوه"...

اوچت شوم او د مسيح د صليب پښو ته ولوېدم، ومې ويل:

"په دې حضرت قسم چې له بل چا سره مينه نه لرم، ته تېر وتلې يې، که د اسمان کومه پرښته هم راباندې مينه وي، په تا يې نه ورکوم."

چغې يې کړې:

"درواغ وايې، درواغ." !

په ژوند کې مې تر هغه وخته نه درواغ ويلي وو او نه مې هم داسې تونده خبره اورېدلې وه، که له ليدا پرته بل څوك وای، د تل لپاره به مې پرېښوده، خو دا معشوقه مې تر ځان راباندې ګرانه وه، له تسليم پرته مې بله چاره نه درلوده."

لاسونو او پښو ته يې ولوېدم، ومې ژړل او زارۍ مې وکړې، چې وروسته لږه ارامه شوه .

ومې ويل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"هر څه وایې کوم یې."

"_پوهنتون ته مه ځه."!

"_نه ځم. خو یو کال مې زده کړې ځنډېږي، بیا به له غریبۍ سره مخامخ شو."

"_زه له غریبۍ څخه وېره نه لرم، نه زما وېره له رقیب څخه ده، له هغه کس څخه وېرېږم، چې ستا سره مینه ولري او ته پرې مین واوسې"....

پوه شوم چې په هغه حال کې د هغې د زړه د سوځنده اور په وړاندې هېڅ عقل او منطق مقاومت نه لري، د ناچارۍ له وجې تسلیم شوم.

تر هغه وروسته، شپې او ورځې خوشحاله وو، زیاتره به نندارو او چکر ته تلو، لاس په لاس به مو په باغونو او ځنګلونو کې خبرې اترې کولې. خو داسې ښکارېدل، لکه یوه پرده چې زموږ تر منځ راځوړنده وي او لیدا د دې پردې له شا څخه سم لیدل نه شي کولای او لا مې سم نه پېژني او زه د هغې پر فکرونو او منطق نه پوهېږم، خو هیله مې درلوده چې دغه پرده به ډېر ژر لیرې او هغه پخوانۍ جنتي مینه او صمیمیت به بیا زموږ په زړونو کې ځای ونیسي.

د دې لپاره چې پوه شم آیا د بدګومانۍ هغه توره وریځ د هغې پر خاطر کومه لکه پرې ایښې او که نه، نو کله_ کله به مې د هغې ماشومانه خیالونو ته اشاره کوله. خو له بده مرغه چې هر ځل به هغه توره وریځ توپاني کېده او پر ما به اورېدله، چې تر پخوا به زیاته وېروونکې وه. ویل او ژړل به یې:

"زه پوهېږمه، پوهېږمه چې پر هغې نجلۍ مین یې، ستا له څېرې او پرېشانه نظرونو څخه ښکاري."...

خبرې اترې به مې په چوپتیا سره غوځولې او بله موضوع به مې رامخې ته کړه.

یوه شپه یې په ډېره وارخطایۍ سره له خوبه راپاڅولم، حیران اوچت شوم او ومې پوښتله:

"څه کیسه ده؟."!

"ما درته کتل چې د مار غوندې اوښتې- راواوښتې، د هغې بدرنګې نجلۍ په مینه کې ذرې_ ذرې کېدې، ویښ مې کړې چې زړه دې ونه درېږي"...

د ټپې شوي پړانګ غوندې مې په زوره چغه کړه او لاس مې وراوږد شو چې غاړه یې ونیسم، خو د مادلن هغه اسماني نظر، د مینې د چینې غوندې زما پر زړه راواوربېد او زما لاس یې کښته کړ.

اوچت شوم او د خپل کار په خونه کې کښېناستم، د مادلن هغه کاغذ مې راواخیست چې لیدا څیرلی و، لوسته مې چې لیدا راغله، کاغذ یې راڅخه واخیست او سل ټوټې یې کړ. چغې یې وهلې:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ای ظالمه! ته خو پر مادلن مین یې، غواړې ما ته طلاق راکړې او هغه وکړې، ولې دې له شتمن مېچل څخه واخیستم؟."

دومره چغې او زارۍ یې وکړې چې ستړې شوه او خوب یووړه. سبا چې له خوبه پاڅېدو لکه برایي (بېګا) چې ګردسره نه وه راغلې او پر موږ هغه توپاني بلا نه وه تېره شوې. ومو ویل، ومو خندل او بیا مو عادي ژوند ته دوام ورکړ.

باور مې نه شو کولای چې لیدا دې بې له وجې دومره خوابدې شوې وي، باوري شوم چې زما د تېروتنې له کبله په هغې کې دا عجیب حالت رامنځته شو. له ځان سره مې ویل: تا له سادګۍ او بې فکرۍ څخه کار اخیستی او داسې خبره دې ورته کړې چې د هغې نازك زړه دې ورسوځلی، دغه توره وربځ چې د لیدا عقل او زړه یې نیولی، له هغه اور څخه پیدا شوې چې تا د هغې په زړه کې پیدا کړی دی.

هغه بدګوماني مې د هغې د اورنۍ مینې دلیل ګاڼه. دا ټول عذاب او ځور مې زغامه. هیله مې درلوده چې نن یا سبا به دغه توره وربځ خپرېږي او د حقیقت سپین لمر به د لیدا سترګو ته زما مینه، ځانتېرېدنه او لېوالتیا ځلوي. د دې لپاره چې د غم غبار لیرې شي او ژر خپلو هیلو ته ورسېږو. ومې ویل:

"راځه چې یو سفر وکړو."

خوشحاله شوه او ویې ویل:

"ستا څخه زیاته مننه، ته غواړې د دې لپاره سفر وکړې چې د مادلن او هغې بلې نجلۍ مینه هېره کړې، غواړې ما ته قرباني راکړې، څرګنده ده چې زه تر نورو ډېره دربانډې ګرانه یمه."...

   

په مسافرت ووتو، ډېرې خوږې شپې او ورځې مو تېرې کړې، لیدا د ذوق او هنر چینه ده، په بله ځانګه کې مهارت نه لري، خو تر نورو هنرمندانو په ښکلا او باریکۍ ښه پوهېږي او خوند ترې اخلي. خو د مادلن غوندې نه شي کولای د خبرو په جادو سره یوه انځور یا طبیعي منظرې ته ساه وروبخښي، خو ښکلا ته په داسې ژور نظر ګوري او په څېره کې یې داسې خوښي ځلیږي، چې د شوق له کبله یې له خولې څخه راوتلې لنډې جملې د هنر د ارزولو په یوه کتاب ارزي.

ما به د هغې د سترګو په مرسته لیدل کول، پوهېدم او خوند به مې اخیست. خو ستر خوند مې د هغې خوشحالي وه. خو بیا به یې هم په سترګو کې د کینې یوه لکه راڅرګنده شوه او زه به یې وېرولم .

یوه بله شپه یې بیا دغسې غمونکې صحنه جوړه کړه. کوکارې یې وهلې، ژړل یې:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"زه ړنده يمه؟ زه نه وينم چې له دکاندارو نجونو سره څه وايې، په کوڅه او بازار کې ښکلو نجونو او ښځو ته څنګه ګورې؟."!

له هغې وروسته؛ له نجونو او ښځو سره نه مخامخېدم، که کومه پوښتنه به مې ذهن ته راتله، له سپين سرو ښځه به مې کوله.

په دې لانجه کې دومره راښکېل وم او د ليدا څارنه به مې کوله، چې د ژوند حساب راڅخه ورك و، د دې لپاره چې هغه له بېځايه خيالونو څخه راوګرځوم، د لګښتونو او خرڅ مسوليت مې وروسپاره، ټولې پيسې مې ورکړې. زه يې تر ټولو ښه مېلمستون ته بېولم او تر ټولو ګرانبيه خواړه به يې راغوښتل، موږ دواړو ته به يې تر ټولو ښې جامې رانيولې.

يوه ورځ مې ليدا زياته خوشحاله وليده، زما ذهن هم د هيلو په سندريزو وږمو ډك شو، لکه يو څوك چې له يوې لويې بلا څخه ژغورل شوی وي، د خپلې خوښۍ او خوابدۍ کيسه مې په غمونکو او خوشحالوونکو سندرو کې پيل کړه. زموږ د کوټې مخامخ کړکۍ پرانيستل شوه، ومې ليدل چې د پردې تر شا دوه تنه ولاړ دي او زما سندرو ته يې غوږ نيولی. څومره چې توانېدم خپل اواز مې غمونکی کړ، چې هغه دوه کسان مې د زړه له حاله خبر شي او زما لپاره دعا وکړي.

يو څه شېبه وروسته يوه بله کړکۍ پرانيستل شوه او يوې سپين سرې ترې سر راوايست، زما سندرو ته غوږ_ غوږ شوه، ليدا ناڅاپه اوچته شوه او په داسې حال کې چې کړکۍ يې په زوره ترله، هغې سپين سرې ته يې ښکنځل وکړل، ما د خجالت او شرم له کبله په دواړو لاسونو خپل مخ پټ کړ .

ليدا چغې کړې:

"مخ دې مه پټوه، که پر هغې فاحشې دې زړه سوځي، ولې ناست يې، ورشه تا ته انتظار باسي، ما ونه ليدل چې تاسو يو بل ته اشارې وکړې؟ او پخه ژمنه مو سره وکړه؟."

هغه ورځ يې دومره وژړل، چغې او انګولا يې وکړه چې ساری يې نه درلود. وروسته پرېکړه پر دې وشوه چې تر دې وروسته به سندرې نه وايم.

يوه ورځ يې خبر کړم چې پيسې خلاصې شوي او د بيا ستنېدو لپاره د الوتکې د ټکټ رانيولو لپاره يوه انه هم نه لرو. يانې د يوه کال پيسې مو په دوو مياشتو کې مصرف کړې وې، د ژوند او زده کړې لپاره نورې پيسې نه وې پاتې. د ژوند پر پاڼه مې د هيلو څپې ړنګې شوې، تر دې وروسته په ماته ببرۍ کې سپاره وو او نه پوهېدم چې چېرې مو وړي، په لاره کې يې د ماتېدو امکان زيات و!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



عجیبه دا چې د دې خبر په اورېدو او د دغې وېروونکې منظرې په لیدو زیات خوش شوم، ځکه راته ښکارېدل چې که راروان وخت هر څومره کړاوجن وي، لیدا به هومره بوخته کړي او کېدی شي په دې توګه یې د بدګومانۍ او حسادت بلا له سره لیرې شي.

ومې خندل او ومې ویل :

"هغه وخت له ژونده وېرېږم چې ته راسره مینه ونه لرې، که نورې بدمرغۍ د غرونو په اندازه هم وي ما نه وېروي."

په غېږ کې راولوېده او هغه سوځنده مینه مو بیا له سره پیل کړه.

ویې ویل:

"که ته راباندې ګران ونه اوسې، زه ځان وژنمه، که ته له بل چا سره لاړ شې، زه به مړه شمه، خو څه وکړم چې پر دغو رقیبانو مې زور نه رسېږي"...

☒☒☒

خپل ښار ته راستانه شوو، د ژوند تېرولو لپاره مو د هنري تابلوګانو او د کور د سامانونو په پلورلو پیل وکړ. لاسته راغلې پیسې به د سپل غوندې د لیدا لاس ته تلې، خو زه په دې هیله وم چې ژر به له کومې ستونزې سره مخ شو او د ژوند وضعه به مو رابدله کړي.

یوه ورځ یې راته وویل:

"لاړ شه له هغه دکان څخه ډوډۍ راوړه."

لاړم او ډوډۍ مې رانیوله. ومې پوښتله:

"ولې دې هغه دکان ته ولېږلم، دلته نژدې خو هم یوه نانوايي وه؟."

یوه ترخه خندا یې وکړه او ویې ویل:

"خوند دې واخیست؟ یار دې ښکلی و؟."

ومې پوښتل:

"کوم یار؟."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"_هغه ډوډۍ پلورونکې سپین سرې... ګومان کوې چې زه دې نه وینم، تا هغې ته تر سترګو لاندې په عاشقانه نظر کتل."!

پرځمکه کښېناسته او دواړه زنګنونه یې په غېږ کې ونیول. په ژړا یې پیل وکړ:

"ای خدایه! دې سړي ته عقل ورکړه، زه په دې ښکلا او ځوانۍ سره څه عیب لرم، چې خاوند مې په سپین سرو پسې ځي."!

ما هم پر خپل بد قسمت ژړل او تندی مې ټکاوه. دغه حالت یو ساعت روان و، وروسته دواړه غلي شوو.

د نیستۍ او بدمرغۍ راروان بهیر د دې پر ځای چې لیدا له بېځایه خیالونو راوګرځوي، لا کم حوصله شوې وه، تر پخوا یې زیاته لانجه کوله، کله چې به یې موضوع لاسته ورنغله، تېرې پېښې به یې پلمه کولې.

د ساري په توګه، ویل به یې:

"زما نه هېګرېږې، تا هغه ورځ په هغه پلورنځي کې هغې نجلۍ ته څومره عاشقانه نظر کاوه، زما په یاد دي په پلاني ښار کې دې چې له هغې سپین سرې څخه مېوه رانیوله، زړه یې درنه یووړ"...

کله چې مې غوښتل د شتو او ژوند په اړه ورسره خبرې وکړم، نو نارې به یې کړې:

"زه له راتلونکې او غریبۍ څخه وېره نه لرمه، هیله او راتلونکی ما ته مرګ دی، ستا په دې شهوتناك طبیعت سره زما دارو یوازې مرګ دی."

کله_ کله به چې په دې غوغا ستړی کېدم، ځان به مې د لیدا له لاسه خوشې کاوه او د لېونو غوندې به مې کوڅو او واټونو ته منډه کړه. په زړه کې به مې پر لارویانو غږ کاوه چې:

"ای خلکو! د خدای لپاره پر ما ورحمېږئ، زما لاسنیوی وکړئ، زه په یوازې ځان د دې لویې بلا حریف یم... څنګه بلا او څنګه بې درمله درد، چې په نشتوالي کې یې ما ته ژوند تر هرې شکنجې سخت تمامېده."!

داسې راته ښکارېدل لکه د جنت په بڼ کې چې د حورې په غېږ کې یم، خو ناڅاپه یو دېو راځي او زما د حورې پر ځای کښېني. نه مې د لیدا د جمال له بڼ څخه د تېښتې همت درلود، نه د دې ځواك چې هغه دېو ببرته په پرښتې بدل کړم.

که څه هم په راروانو شپو کې له یو بله بېل نه وو، خو زموږ تر منځ یو رود پروت و چې سره لیرې کړي یې وو، داسې وېروونکی او توپاني سیند چې یوازې ترې د ډوبېدو تمه کېده، دغه سیند دومره سرکښه و، چې د مین په وینو لړند او د بېرحمو خلکو تر کاڼي کلك زړونه به یې یو ډول ډوبول !

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تورو شپو کې به اوچتېدم، په غلو چغو او کريږو به مې خپله ټوله مينه، عجز او زاری د ليدا پښو ته اچولې، خو له بده مرغه هغه به ويده وه او نه به يې اورېدې، ګنې د مينې دغه ډالۍ به يې تر پښو لاندې نه خاورې کېدې.

کله به مې ځراغ بلاوه، چې خپل خونخواره دښمن ووينم، هغه زندن ځاروونکی چې زه يې د مينې په زنځير تړلی يم. کله چې به مې هغه سپوږمۍ غوندې تندی، تورې وروزې او شونډې ليدې، نو هغه لاسونه به مې ښکلول چې زه يې ځورولم.

کله چې به مې ليدله په خوب کې نارې وهي او ماتې_ ماتې خبرې کوي، نو پر ځان به مې لعنت وايه او ځان مې ملامتاوه چې دغه جنتي مرغه مې ولې د خپل حُسن په دام له غريبۍ سره لاس وګرېوان کړې! ښايي د هغې دا خوابدي له دې کبله وي چې زه ورته د مېچل غوندې د ژوند اسباب نه شم برابرولای.

ځان ته به مې ويل:

"که ته شتمن وای، دومره پلمې به يې نه کولې"...

وبخښئ دغه خبرې زه ځان ته کوم، تر هغه وخته چې چا هغه حال او وضعه نه وي ليدلې، نه پوهېږې زه څه وايم. کله چې به له کورنۍ جګړې څخه ستړی کېدم، د لېونو غوندې به له کوره تښتېدم او خپلې مور ته به مې پناه وړله. د هغې قبر به مې مچاوه او ژړل به مې ورته:

"ای مورې! ولې لاړې او زه دې يوازې پرېښودم؟ چيرې يې چې زما د حال په ليدو راته وژاړې، اوچته شه او پناه راکړه، پرېږده چې ستا تر څنګ ويده شم، تر اوسه دومره د مور غېږ ته نه وم محتاج شوی.

ای مورې! تا رښتينی لوی کړم، راشه واوره او وګوره چې هره ورځ د درواغو تور راباندې لګول کېږي!... تا مينه، نېکي او وفار رازده کړ، راشه وګوره چې ما تر ټولو بېوفا او بد ګڼي!... تا راته وقار، نارينتوب او شرافت وښود، راشه وګوره چې تر هر بدکاره سړي سرټيټی او پست يم، ټولې ښکنځلې او ترخې خبرې پر ځان منم!.. زه د دې خبرو وړ يم، ځکه چې ولې پر خپل ښايست، مست، خو شيطاني صورت باندې غره وم، ستا عقلاني او اسماني لارښوونه مې عملي نه کړه"...

کله چې به د مادلن دوی کره تلم، زنګ به مې واهه او په تمه به وم چې د دروازې پر سر، وړه کړکۍ به خلاصه شي او د مادلن غږ، همدغه راز ساه بخښونکی نظر به راباندې لګېږي، خو هغه کړکۍ به نه راته پرانيستل کېده، خو د مادلن غږ به مې اورېد چې ويل به يې:

"لاړ شه! تا د مينې دغه ځاله ورانه کړه او د دې ځالې مرغۍ دې وشړله، د مينې او نېکمرغۍ دغه ور دې بند کړ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور نو له تشې ځالې او بې زړه مرغۍ څخه څه غواړې!... د هغې هغه ليك به مې لوسته چې پټ كړی مې و. هره جمله به داسې راباندې لگېده، لكه غمچينه (قمچينه)، پخوا به د هغې له كوره په فاتحانه او مغرورانه انداز وتلم، خو كور ته به له شكايت څخه ډك ستنېدم .

څنگه كور! دا خو هغه قفس دی چې يوه ورې زمرۍ په كې خپل ښكار ته لار څاري!

كور ته به د ستنېدو په وخت كې دا وېره راسره وه، چې ليدا به د جگړې او شخړې لپاره كومه پلمه جوړه كړې وي او زه به تر كومه حده د چوپتيا حوصله ولرم؟ لكه يو ټنبل زده كوونكی چې ښوونځي ته ځي، په لاره كې به مې هسې ځنډ كاوه. د ورځپاڼه پلورونكې په پلورنځي كې به ودرېدم او د ورځپاڼو كرښې به مې لوستلې.

يوه ورځ مې د يوې ورځپاڼې پر ټنډه د يوې ښځې پر عكس سترگې ولگېدې چې راته اشنا وبرېښېده، ورځپاڼه مې رانيوله او ومې لوسته، څرگنده شوه چې د عكس خاونده د "دافنه" په مستعار نوم معرفي شوې، هغې يو كتاب ليكلی چې موضوع يې د پېغلو نجونو "خامې مينې" ده .

ليكوالې ته ښه ځير شوم، ومې ليدل هغې نجلۍ ته ورته ده چې په ښوونځي كې يې راسره مينه كوله. هو! داسې ښكارېده لكه هلن.... هغه ښكلې نجلۍ چې د گل غوندې مې رقيب ته وړاندې كړه...!

لكه ځمكه چې وچوي او زه په كې ننوځم، دا چې د دنيا ټولې ښېگڼې مې له لاسه وتلې وې، گنگس وم. نه پوهېږم دغه حالت تر كومه وخته روان و، يو وخت ځير شوم چې څوك مې مخې ته ولاړ دی او خبرې راسره كوي، ترور مې وه.

دغه ترور مې تر خپلو دوو خويندو مشره ده، خو واده يې نه دی كړی او خپل عمر يې په ښو كارونو كې تېر كړی. له پلار څخه يوڅه ميراث ور پاتې شوی، په هماغه گوزاره كوي، خپل معاش د ستاينې وړ، يا داسې نجونو ته وركوي، چې هېواد يا خپل ښار ته يې كوم خدمت ترسره كړی وي، يا يې خپلو ورو خويندو يا وروڼو ته.

يو كال به كېده چې يو بل مو نه وو سره ليدلي. زما پوښتنه يې وكړه، چې رنگ مې ولې ژېړ دی؟ كه كوم غم لرم ورته ويې وايم.

لكه خپله مور مې چې موندلې وي، د سينې توپاني سمندر مې په غړمبېدو شو، ومې ويل او ومې ويل، ومې ژړل، شكايت مې وكړ او څومره كړاوونه مې چې يادېدل ورته ويل.

مثلاً راپه زړه شول چې ليدا ويلي وو:

"په دوولسو ورځو كې مو ټولې پيسې خلاصېږي او د خرڅلاو لپاره يوازې دوه شيان پاتې دي ."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ياد مې شول چې غوښتل مې ليدا وپوښتم دومره زياتې پيسې ولې مصرفوي؟ هر څومره پيسې مې چې پيدا کولې، ژر راخخه تلې...!

يو وار مې په ياد شول چې په عمومي بڼ کې پر څوکۍ باندې د خپلې ترور څنګ ته ناست يم، لاسونه او مخ مې په اوښکو لوند دي! هغې هم ژړلي وو. اوچت شوم، زما سر يې په دواړو لاسونو ونيو او ښکل يې کړم، ويې ويل:

"ته پوهېږې چې پر خپل ښايست باندې غرور لويه ګناه ده؟ بايد خدای ته زارۍ وکړې چې له ګناه څخه دې تېر شي."

هغه لاړه خو زه تر ډېره وخته هملته ناست وم، د ورځپاڼې پر ټټده مې د هلن عکس ته کتل او د پښېمانۍ له کبله ځورېدم.

☒☒☒

درې ورځې وروسته مې راته ترور ټليفون وکړ چې په پلاني ساعت، پلاني ځای ته ورشم .

لاړم موسکۍ او خوشحاله وه .

ويې ويل:

"تا ته يو ښه خبر لرم، پرون مې ستا د اکا زوی مېچل وليد، ستا خبره راغله ما ستا ټول حال ورته ووايه، ورته ومې ويل چې ويليام د ليدا د بايللو له کبله زيات پښېمانه دی. البته دروغ به مې نه وي ويلي، آيا ته غواړې چې ليدا بيا ونه وينې؟"

ومې ويل:

"خدای دې نه کړي، زما لپاره دا هيله ناشونې ده "...

زياته يې کړه:

"څومره باوفا او کلك يې، کاشکې ټول نارينه ستا غوندې وي.... پرېږده چې خپلې خبرې درته وکړم. کله چې مېچل ستا په اړه زما خبرې واورېدې، اول يې خندل، لکه ستا پر بد حال چې خوشحاله وي، خو کله چې مې وويل پيسې نه لري، يو څه فکر يې وکړ بيا يې چك له جېبه وايست او ستا په نوم يې دغه چك لاسليك کړ. راته ويې ويل: دا ويليام ته ورکړه او ووايه چې د دغه پور په اخيستو کې بيړه نه کوم، کله چې انجنير شوې او معاش دې پيداکړ، بيا يې راکړه. اوس نو ته يو رسيد راکړه او چك واخله."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسيد مې ورکړ او چك مې واخيست. مېچل ته مې يو تود او له مهربانۍ ډك پيغام ولېږه. سبا ته مې هغه ټولې پيسې ليدا ته ورکړې، ومې ويل:

"د ښوونځي له يوه ملګري څخه مې پور کړې."

هېڅ يې هم ونه ويل، اّن د رضايت موسكا يې هم ونه کړه، پوه شوم چې د مفلسۍ له کبله يې د شکايت لپاره پلمه له لاسه ووته. نو څكه خوابدې شوه.

له ليدا سره به تر ټولو لوكسو او ګرانبيه هوټلونو ته تلم. د دې لپاره چې هغه راضي او خوشحاله وي، هېڅځ مې هم نه ويل. سره له دې چې ډېر به متوجه وم پر كومې ښځې مې نظر ونه لګېږي، خو بيا به هم شپه و ورځ دعوې او شخړې رواني وې.

د ډاډ يوازېنۍ وسيله مې هغه داستان و، چې هلن په ورځپاڼه کې پيل کړی و، لوسته به مې او هر ځل به راته څرګندېده چې د داستان سرچينه زما، هلن او فيليپ کيسه ده. د داستان اخلاقي پايله داسې ده چې:

"په پسرلي کې ژوند او د ځوانانو په وجود کې د مينې اغېز داسې توپان دی چې پر سيند تېرېږي، اخر كښېني او له ياده وځي. خو پر پېغلو نجونو د مينې داغ داسې دی لکه د خسو يوې کوټې ته چې اور ورسېږي.

هلكان په مينې لوبې، خو نجونې په مينه ژوند کوي"....

⊠⊠⊠

تر يوې مياشتې او څو ورځو وروسته داستان پايته ورسېد. د ورځپاڼې اداري ته لاړم، چې د ليکوالې د کور پته ځنې واخلم، له ذوق، شرم او شك څخه په ډك حالت د هلن د کور خوا ته روان شوم. يوه شېبه به مې مكان او زمان هېراوه، ځان او هلن به مې هماغسې واړه ليدل چې په ښوونځي کې به مو سره لوبې كولې او نځېدو به. زما په ذهن کې به هماغه فکرونه او احساسات راژوندي کېدل، د ماشومتوب هماغه خبرې مې خولې ته راتلې، ستونی به مې ډك ـــ ډك شو. خو بله شېبه به بېرته حقيقت ته ځير شوم، سوړ اسوېلی به مې تر خولې ووت: ليدل مې چې وخت او پېښو، زموږ صورت، سيرت او خيالونه بدل کړي، زه اوس هغه نه يم چې وم، نه هغه، پخوانۍ هلن ده... خو ما يوې هلن ته اړتيا درلوده، د ليدا له ستم څخه مې بايد يوې ته پناه وړلای. هلن که هر څوك وه او ده، بله چاره مې نه درلوده....

هو! ليدا ته د خيانت پر لاره تلم، د شرم له کبله مې سر سينې ته راځوړند و، د دې لپاره چې ځان ارام کړم، يو څه وخت مې ضايع کړ او لاره مې بدله کړه. اّخر د کور دروازې ته ورسېدم، په لړزاند لاس مې د وره زنګ وواهه، منتظر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوم، خو ور خلاص نه شو. بیا مې زنګ کښېکاږه، بیا هم ځوك را نغی. زړه مې هوسا شو، غوښتل مې بېرته ستون شم، چې د وره د پرانیستل کېدو اواز اوچت شو او یو سر ترې راووت. هلن مې په هغه حال کې ونه پېژندله، دومره خیرنه- پیرنه او نامنظمه وه چې زما زړه وربانديې وسو.

سلام مې ورکړ او ومې ویل:

"وبخښئ ستاسو د داستان سرچینه هغه کسان دي چې زه يې پېژنم او که نور خلك؟."

پرته له دې چې ما ته وګوري ویې ویل:

"وبخښئ زه اوس په کار لګیا یمه، دا ځواب اوس نه شم درکولای."

اّواز او کتل د هلن وو، خو زه بېحرکته پاتې وم، د ویلو لپاره مې کوم توری نه شو موندلای. غوښتل يې ور بند کړي .

ومې ویل:

"زما ګرانې هلن! ویلیام نه پېژنې؟."

یوه شېبه راته ځیر شوه، د دې لپاره چې ونه لوېږي، یو لاس يې په دروازه ټینګ کړ، بل لاس يې تندي ته یووړ. یوه شېبه همداسې وه، د دروازې یوه پله يې خلاصه کړه او په لړزانده غږ يې وویل:

"ولې تر دومره ځنډ وروسته راغلې؟ ولې راغلې او زما هوسايي دې راخرابه کړه."!

ومې ویل:

"که اجازه وي زه به لاړ شم، خو نه لاړم هملته ولاړ وم."

کرار يې وویل:

"راځه پاس راوخېژه."!

یوې داسې خونې ته ننوتو چې د یوه سپین ږیري پوه لپاره ښايېګده، نه یوې ځوانې ښځې ته؛ هره خوا پر مېز، څوکۍ، کټ او فرش باندې کتابونه او کاغذونه ګډوډ پراته وو، پر دېوالونو د ادب او پوهې د نامتو کسانو عکسونه راځوړند وو. ما ته يې ځای راوښود، کښېناستم. خو هغې نه شوای کولای کښېني: دومره خپه او اندېښمنه وه چې ما ته يې نه کتل، ځان به يې په مېز او چوکۍ تکیه کاوه، چې ونه لوېږي، ومې ویل:

"زه راغلم زاری درته وکړم، چې ومې بخښې."

یو وار يې راوکتل او بېواکه کښېناسته، سر يې کښته ونیو، له هماغه یوه کاته څخه وپوهېدم چې ویې ویل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ته تر دي د زيات ځور او کړاو وړ يې، ځکه چې د ليدا لاس خوشې کوې. وګوره ستا له لاسه زما د صورت ګلپاڼه څنګه مړاوې شوې! وګوره هغه ګل چې د ژوند له ګلبڼ څخه دې وشکاوه او د بل چا پښو ته دې واچاوه، اوس څومره مړاوی شوی."!

ومې ويل:

"په خدای په ناپوهۍ کې مې درسره ظلم وکړ."

سر يې رااوچت کړ، لکه يوه مور چې خپل ګناهکاره ماشوم وبخښي، پر ما يې له سترګو د مينې رڼا اوربده. څېره يې هغو نارينه وو ته ورته وه چې بدمرغيو او کړاوونو ډېر ځپلي او کوټلي وي، خو آخر يې پر درد او کړاو بری موندلی وي، غمجنه، درنه او سنګينه وه. لکه هغه شاعر چې ناڅاپه يې خپل ځان هېر کړی وي او د خپلې خيالي معشوقې لپاره د خپلې اروا په سينګارولو لاس پورې کړي، په بدن کې يې يو ځای هم د سينګار نخښه نه ښکارېده.

په هماغه نرم غږ او نيم پرانيستي نظر يې، چې د ښوونځي له وخته ورسره اشنا وم، وويل:

"هو! تا په ناپامۍ کې پر ما اور ولګاوه او لاړې، خو زه دې ټول عمر په سوز، کړاو او غم کې يوازې پرېښودم... څومره زارۍ مې وکړې چې د مينې د خدای زړه راباندې ورحمېد او ما ته يې راپه زړه کړې چې دروني اور د قلم په ژبه پر کاغذ انځور کړم، هر څه چې په زړه کې لرم ويې وايم، چې نور خلك يې واوري، ويې وايي او د دغه رنځ د بار په وړلو کې راسره مرسته او همکاري وکړي. لومړی چې غوښتل چې دغه مينه او سوز له خپلې خوا وليکم، خو کله چې مې په ليکلو لاس پورې کړ، ومې ليدل که ووايم چې دا دردونه او ستونزې يوازې ما ګاللي، دا زه يمه چې ژړا او زارۍ کومه او همدرد غواړمه، نو ما ويل خلك به مې لېونۍ وبولي، څوك به مې خبره نه اوري، ځکه چې خلك له راڼه حقيقت څخه تښتي، يوه خبره، فکر او حال هم د درواغو له جامو پرته نه مني، د ناچارۍ له کبله له ځانه بېله شومه، په مستعار يا بدل نوم مې ليکل پيل کړل، هر څه مې ليکل، داسې مې انګېرل لکه خپل قلم مې چې نشتر وي او پر خپل زړه يې ښخوم. د دغه برخليك تر ليکلو وروسته، ستا له غم او مينې سره دومره بلده شومه، چې له هغو پرته به مې بل همدرد او همراز نه غوښته.... زما دغه خوشحاله ژوند دې ولې خراب کړ؟.. ولې راغلې؟"

تر سترګو يې دوې ګرانبيه مرغلرې پر باړخو تويې شوې، کله چې ما هيله وکړه، هغه دوې مرغلرې غلا کړم، د هغې د خاطر د توپان ننداره په کې وکړم، لمن ته يې وښويېدې.

اسوېلی يې وکېښ او ويې ويل:

"هو! ما د خپل زړه خبرې وليکلې، له ما سره ډېر راڼه احساسات، فکرونه او شعرونه وو، خو قلم يې د ليکلو توان نه درلود، ټول مې له اسوېليو او چغو سره يو ځای هوا ته خپاره شول او بېځايه لاړل! ومې ليکل، خو څه وکړم چې لوستونکي مې د ځان په غم اخته دي او د بل چا د زړه په حال نه پوهېږي. څومره ښه دې وکړل چې زما داستان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي ولوست، ما دغه داستان تا ته ولیکه، له تا سره غږېدمه او تا ته مې لیکه، که مې د خپل زړه حال نه شو لیکلای، تا به بیا هم هغه لیکنې لوستلې، که دغه داستان ستا تر گوتو نه رسېدای او نه دي لوست، باور مې درلود چې ستا اروا به يې لولي، ځکه هغه تل له ما سره وه. هر څه چې به مې لیکه یا مې په زړه کې تېرېده او ما نه شوای کولای ویې لیکم، ستا اروا به لوستل، له ما سره به يې همدردي کوله. څومره خوږ غم او خوندور حالت مې درلود، بیا ولې راغلې؟"...

ومې ویل:

"ته هم زما په حال خبره شه او ځان خبر کړه، هغه کاڼي زړه چې ستا زړه يې درمات کړ او لاړ، څومره غمونه او مصیبتونه وگالل."

هغه توره وربځ چې زما په ذهن کې څرخېده او وخت ته يې لار څارله، دغم سېل شو او د هلن لمن ته توی شوه... د خپل زړه ټولې خبرې مې له پردې پرته د مادلن له پېښو نیولې، د مور تر مړینې او د لیدا د بدگومانۍ او حسادت له کبله مې د زړه په کور کې تر بل شوي اوره پورې دا ټولې خبرې ورته وکړې. د هلن په مخ کې د غم او وحشت په لیدو وپوهېدم، چې زما برخلیك تر هغې زیات دردوونکی او غمونکی دی.

هلن په پر له پسې ډول سترگو ته دسمال نیوه او د اوښکو د توییگدو مخنیوی يې کاوه.

د هغې په څېره کې مې مادلن ولیده چې ما ته يې ژړل. مور مې ولیده چې زما پر حال يې کریږې کښلې...

ومې ویل:

"دا رښتیا ده؟ پر دې دومره ستم سربېره بیا هم راسره مینه لرې او پر ما دې زړه سوځي؟."

هېڅ يې هم ونه ویل، لاندې يې کتل او لمن ته يې د اوښکو ځاځکي توییدل.

لکه ورك شوی ماشوم چې خپله مور يې پیدا کړې وي، بېواکه مې د هغې زنگنونه په غېږ کې ونیول او ژړل مې ورته. اوږده وېښتان يې نور هم راکښته شول او زما اننگې يې ښکلول. د مینې اوښکې يې زما پر مخ وڅڅېدې چې اوږدمهالې تنده يې راماته کړه.

په غلي او سترې غږ يې وویل:

"ولې راغلې او زه دې له دغې خوږې اشتباه څخه رابهره کړم! ما گومان کاوه چې لیکل او نړۍ ته د زړه راز ویل به د معشوق ځای ډك کړي! ته راغلې، خو اوس وپوهېدمه چې ته مې يو درد هم نه شې دوا کولای. وپوهېدمه چې په چغو، ژړا او کریږو سره د ټپ درد نه کرارېږي. ته مې ولیدې، نو یقین مې وکړ چې هېڅ ښه صورت، فکر، فلسفه او

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شعر به ستا ځای ونه نیسي، تر اوسه مې یو درد درلود، نور زغم مې له لاسه ورکړی و، تر دې وروسته به ستا له غم سره څه کوم! کاشکې د غم تر بار لاندې مړه کېدای، په دې شرط چې ته مې له دې باره ژغورلای شوای."

نه پوهېږم په دغو خبرو کې څه جادو پټ و، چې زما ټول غمونه او دردونه یې راخځه واخیستل. دا څه سحر و چې د هلن مخ راته تر سپوږمۍ هم نوراني ښکاره شو. لیدل مې چې په هغه کتابتون کې د نړۍ ستر پوهان زما په ملاتړ ولاړ دي .

ومې ویل:

"ستا په شتون کې زه کوم غم نه لرم، ته وا دا غمونه د دې لپاره وو چې د دغو خوښیو په قدر پوه شم."

سر مې د هغې په لمن کې ایښی و او اوښکې مې تویولې. د هغې ګوتو زما په وېښتانو کې د مینې کومه ورکه لټوله، موږ دواړو ژړل او رازونه مو سره ویل. داسې خبرې مو کولې چې یوازې یې په هغه حال کې ځانګړې مانا لرله. ناڅاپه ووېرېدم، چې اوس مې له دغه کوره په زوره ونه شړي.

ومې ویل:

"کاشکې زه د دغو کتابونو غونډې په دې کور کې پروت وای، ته او خدای ما له دې ځایه مه شړه. له خپل سیوري څخه مې مه بې برخې کوه".

ویې ویل:

"ته زما د وجود څراغ یې، له تا پرته زما د زړه کور تیاره او وېروونکی و، اوس چې راغلې، زه دې له وېرې، غم او یوازېتوب څخه وژغورلم، که دا ځل خپل څراغ له لاسه ورکړم، له سترګو څخه به مې رڼا او له بدن څخه به مې ارواکډه شي"...

زما سترګې او نهیلې ارواه به هره ورځ د لیدا له لاسه نوی ګوزار لیده او لا به خوارېده. اوس د دې زېګرې په اورېدو سره نور هم راژوندی شوم، کله چې هلن زه د خپل وجود څراغ وبللم، د بدن ذرې مې په نڅېدو شوې. ما خو د لیدا له خولې د ملامتۍ او ترخو خبرو بل څه نه اورېده. هره ورځ به مې د ګناهونو بار لا درنېده. له هلن څخه مې واورېدل، چې راته ویې ویل :

"ته یو روڼ څراغ یې چې کومه ګناه نه لرې."

خپل سوی بدن مې د مینې نسیم ته وسپاره، سر تر پښو غوږ_ غوږ شوم. خو هلن هېر کړم، داسې ښکارېدل لکه له خپل پخواني مین سره یې چې له کلونو_ کلونو راهیسې سره مینه کړې وي او اوس په مینې بوخته ده، یا هم په خبرو اخته ده. یوه ناڅرګند لوري ته یې وکتل او ویې ویل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"هغه وخت چې په ښوونځي کې وو، ما ليدل چې زما له اوږدو وېښتانو سره دې زياته مينه وه، ما به هره ورځ په ډېر شوق سره ږمونځول، زړه مې غوښتل هره ورځ درته د وېښتو نوې ځېه جوړه کړم، پوهېدم چې زما د لاسونو سپينوالی او د ګوتو سينګار دې زيات خوښېده، ما به خيرنو کارونو ته په دې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس نه ورنژدې کاوه، چې ستا ورسره مينه وه.

کله چې به مې ګلدارې جامې اغوستې، زما به درته پام و، ته به داسې شوې، لکه په يوه بڼ کې چې يې، سترګې به دې زما په جامو کې ګنډل شوي وې، ما به هم له خپلې مور څخه غوښتل چې ګلداره ټوټې (ټوکران) راته رانيسي. ستا له کتابونو د نظم او د ليکنو له پاکوالي او منظمو جامو څخه داسې اټکل کېده چې له نظم او پاکوالي سره ځومره مينه لرې. ما به هم درته په خيال کې د ژوند کور او د مينې ځاله جوړوله، چې د اسمان پاکۍ، همدغه راز ستا د وروزو او سترګو ښکلا به يې درلوده. له خواږه غږ، نرمو حرکتونو او مهربانه کتو څخه دې ښکارېدل چې نېکه، د ښه خوی خاونده او ښکلې معشوقه غواړې، ما به هم په سترګو کې درته ويل چې تر عمر به دې ښه مېرمن، مينه خدمتګاره او لېواله يمه، هېڅکله به هم زما له لوري ستا پر نازك زړه باندې کوم نېښ جګ نه شي.

خو ته نه پوهېدې چې زه درته په سترګو کې څه وايم، څه ژمنې درسره کوم او څه زارۍ...!

افسوس چې ونه پوهېدې، زه دې بل چا ته وسپارلم، ګومان دې وکړ چې کولای شې زما زړه هم له ځانه بېل کړې او ليرې يې واچوې!... لاړې خو له ما څخه دې دا ټولې هيلې او ارمانونه واخيستل، ته نه پوهېدې چې کوم جواهر له لاسه ورکوې....!

ته لاړې، خو ما دې خيال، لکه خوږ بدن داسې وساته، له هغه سره مې مينه کوله او ژوند مې ورسره تېر کړ، کله به خوشحاله، کله به ورسره خوابدې ومه .

له بده مرغه چې خيال دې زما څخه نازك لاسونه، د څپې غوندې زلفې او سمبال شوی کور نه غوښت، ما هم د ځان لپاره څه نه غوښتل، کرار ــ کرار مې د زلفو هغه څپې ذهن ته لاړې او د زړه نازکوالی مې زړه ته. که څه هم دغه کور مې ډېر خراب او ګډوډ دی، خو ما په خپل زړه کې د مينې يوه ماڼۍ جوړه کړې چې ډېره ښکلې او زړه راکښونکې ده.

اوس چې بېرته راغلې، زما ځان دې بېرته راوړ، بېرته به مې زلفې د څپو غوندې شي، کميس به مې ګلداره او مخ و لاسونه به مې نازك شي."

چغې مې کړې:

"دا څه وايې!، دا رښتيا ده؛ ته به زما ګناه راوبخښې او ما به خپل کور ته پرېږدې؟ زه خو روپۍ نه لرم."

ويې ويل:

"ما ته مې له مور څخه ډېر شته په ميراث پاتې دي، له دغه چاپ شوي داستان څخه مې هم څه پيسې لاسته راوړلې، دومره لرم چې زما وستا د ټول عمر لپاره بس شي".

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه د ماتې او نهیلۍ په وخت کې چې بریالی شوی یم، له ځایه اوچت شوم، د قدم وهلو په وخت کې مې وویل:

"ستا دا خبرې هغه چکش و، چې زما پر تابوت ولګېد او راویښ یې کړم: زه نیمایي مړ وم، فکرونه او احساسات مې تت شوي وو، اّن سترګو او حواسو مې هم کار نه کاوه، ما ډېر ځله سازونو او اوازونو ته غوږ نیوه، خو نه مې اورېدل، په بڼ کې به وم، خو ګلونه مې نه لیدل، کتاب به مې لوست، خو نه به پرې پوهېدم، فکر به مې کاوه، خو د فکر مزی زما په لاس کې نه و.

د غم د وربځو تر شا راته دنیا یو بد خوب او وېره ښکارېده. په دې دنیا کې راته ښکارېدل چې بېشعوره، کاڼه او ړانده خلك، چې د یو بل په خبرو نه پوهېږي، سره په جګړه اخته دي! تر ځوانۍ مخکې سپین ږیری شوی او تر ژوند مخکې خوسا شوی وم. د خپل زړه په کندواله کې مې له غم پرته بل ملګری نه درلود. څومره به چې هیله او ارمان را څخه لیرې کېده، هومره به له پښو لوېدم او کمزوی کېدم به.

هره ورځ به مړ کېدم. کاشکې داسې مړ کېدای چې خپل تور روزګار مې نه لیدای. خو لکه په خوب کې چې یم. ناتوانه او بېچاره وم. زه د خپل عذاب او کړاو شاهد وم، هېڅ مې هم نه شوای کولای؛ غوښتل به مې، خو نه مې شول کولای. د چارې لپاره لار او د تېښتې لپاره مې پښې نه وې، زه د لیدا د اوسپنیز زړه په لومو کې بند وم، هغه نه پوهېده چې زه ولې په کړاو او عذاب کې یم، نه به یې زما زارۍ اورېدې، نه مې ترې د ژغورنې هیله درلوده.

ته د اسرافیل د شپېلۍ غوندې پر ما ولګېدې او ژوندی دې کړم، اوس مې بیا سترګې لیدل او غوږونه اورېدل کوي: زما پر خاطر چې د مینې دغه لومړنۍ وړانګه وځلېده، ستا په مخ کې یې وینم. ستا له خولې څخه د مینې زېرى اورم. څومره ښه دې وکړل چې د لیدا اوسپنیز زنځیر دې راڅخه واخیست. زما د ځوانۍ نیالګی په وچېدو و، زما د سمسورتیا او شوق ټولې څانګې د ماتمځپلو انسانانو د اوښکو غوندې څاڅکې_ څاڅکې تویېده، د هیلو غوټۍ مې ټولې مړاوې شوي وې .

د لیدا د ظلمونو له کبله مې نارینتوب او شخصیت له لاسه ورکړی و، ځان مې ګناهکاره او محکوم لیده، خو نه پوهېدم چې کومه ګناه مې کړې ده.

که کومه پېغله یا سپین سرې به مې لیده، پر بدن به مې لړزه راغله، یقین مې درلود، ما ته حتماً د هغو په برخه کې کوم ناروا خیال سر ته راځي! ما ګومان کاوه چې یوازې لیدا نه، بلکې ټول خلك ما ګناهکاره ګڼي، هېڅ سترګې او غوږونه حقیقت نه درك کوي، په هېڅ زړه کې رحم او عاطفه نه شته! ټوله دنیا راته سره او بې مینې ښکارېده. له هر چا او هر څیز څخه بېزاره او په تېښته کې وم؛ ویل مې، اورېدل مې، تلم_ راتلم، لوستل مې او خوړل مې، خو زه نه وم چې ژوند وکړم، زه د خیال په زندان کې له غم، وېرې، حیرانۍ او عذاب سره اخته وم. هغه مې یوازې د بدن ماشین و چې د غریزې په حکم یې حیواني کارونه تر سره کول. که ما کولای شول چې هغه زندان او عذاب بیان کړم، هغه احساسات، فکرونه، سوز او درد چې ترې ځورېدم ولیکم، داسې داستان به کېده چې له سترګو څخه به

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې سپل بهاوه. داسې يوه عبرتناكه او وېروونكې كيسه به كېده، چې له نرۍ څخه به يې د بدګومانۍ او حسادت لوخړې جارو كولې. افسوس چې نه شم كولاى...

هی ارمان چې د زړه د يوازېتوب غوندې بل سخت يوازېتوب نه شته، خو د يار تر څنګ په يوازېتوب كې ژوند كول، ډېر ستونزمن دي. عجيبه لا دا چې زه د دې اور په څنګ كې سوځېدم، خو نه مې غوښتل معشوقه مې راڅخه ليرې شي.

څومره ډېرې شپې تر هغه منطق، استدلال، عجز او زارۍ وروسته نهيلی شوم. په زړه كې به مې چغه كړه:

"ای ليدا! ای ګرانې! ای چې له تا پرته ژوند كول تر مرګ ستونزمن دي! څومره چې كولاى شې ظلم وكړه، زما له وجود څخه انسانيت او له ذهن څخه مې هيلې واخله، دغه سوی زړه په وينو او خاورو ولړه، هر څه چې راباندې كوې ويې كړه، خو مه مې پرېګږده. تر تلو مخكې مې ژوند واخله. زه له تا پرته ژوند نه شم كولاى"...

د هلن په ژړا ورته ځير شوم. ومې ليدل چې مخ يې په لاسونو پټ كړی او ژاړي.

ومې ويل:

"ګرانې هلن! ايا موږ دواړه له عذاب او كړاو څخه خلاص نه شوو او سره نژدې نه شوو؟ بيا نو ولې ژاړې"!

سوړ اسويلی يې وكېښ، سترګې يې په دسمال پاكې كړې، په ژړا- ژړا كې يې وويل:

"ښه دې وكړل چې د زړه ټولې خبرې دې راته وكړې؛ ته پر ليدا دومره مين او د هغې د مينې له زندان سره دومره روږدی شوی يې، چې د خلاصون فكر درته تر هر درد او رنځ ستونزمن ښكاري... ستا هېر شول چې يوه دقيقه وړاندې دې ما ته څه وويل. زه دې هېره كړم، بيا دې ليدا ته څه وويل:

"له تا پرته ژوند نه شم كولاى... دغه سوی زړه په وينو او خاورو ولړه، خو مه مې پرېږده، تر تلو وړاندې مې ژوند واخله"...

ارمان! په دنيا كې زما لپاره د خوښۍ شېبه هماغه وه، چې ګومان مې وكړ ته زما يې، زه تېروتلمه، ما ګومان وكړ چې د بېلتون او كړاو شپې- ورځې پايته ورسېدې!... دا دې څه ظلم راسره وكړ، زه دې ولې جنت ته بوتلمه او يوه شېبه دې هم هلته تمه نه كړمه!... زه هغه ړنده يمه چې يو وار مې سترګې د دنيا د ښكلاګانو په وړاندې پرانيستل شوې، خو بېرته بندې شوې، تر دې وروسته به مې ژوند لا تياره او وېروونكی وي... ته چې لا د ليدا د مينې په زنځير كې بند يې، ولې ما ته راغلې!.. پوه شومه، ته راغلې چې زما د زړه اور تازه او زيات كړې او له سوځېدو څخه مې خوند واخلې"....

ژړا خبرو ته پرې نه ښوده. ترلاس مې ونيوله او چغه مې كړه:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ومې بخښه! په ناپامۍ کې راڅخه وځورول شوې... ته ملامته نه یې، زه وینم چې اوس هم د لیدا د مینې په زنځیر تړلی یم، ته باید راسره مرسته وکړې چې دغه زنځیر له خپلې غاړې څخه لیرې کړم... ګرانې هلن! په خدای (ﷻ) قسم، غواړم د لیدا له زندان څخه وتښتم... ته ډاډ، زړورتیا او پناه راکړه"...

ژړا یې بنده شوه، تر څه غور وروسته یې وویل :

"که څه هم دا سخت کار دی خو ستا لپاره هر ډول قربانۍ ته تیاره یم، پوهېږمه چې له لیدا سره زیاته مینه لرې، خو بیا هم تا ته په خپل کور او غېږ کې ځای درکوم، د هغې له بدګوماني او حسادت څخه دې ژغورم. خو تا ته نه معلومېږي پر بل مین، مینېدل څومره سخت کار دی "...!

د هغې لاسونه مې ونیول، په اوښکو او مچولو مې خړوب کړل، لکه ورك ماشوم چې خپله مور بیا ومومي، په مینې مست شوم، قول مې ورکړ چې په راروانو درېیو ورځو کې به مې له لیدا سره ستونزه غوڅوم او ځان به د هغې پښو ته غورځوم....

۞ ۞ ۞

مست او خوشحاله پر کوڅو ورګډ شوم، نه مې یادېږي چې چېرې وم، څه مې ویل، چېرې ځم او څه وایم!

د هلن له کوره تښتېدم، زه له خپله کوره تښتېدم. بله پناه مې غوښته، داسې مینه ناك لاس مې لټاوه چې فکرونه مې سره راټول کړي او له لالهاندۍ څخه مې وژغوري.

خوښیو، پښېمانۍ، غم، سوز، ارمان او زرګونو نورو تاثیراتو زما په زړه کې توپان جوړ کړی و، زه هغې تختې ته ورته وم، چې د څپو په لاس کښېوتلې وي او له ځانه واك ونه لري، یوې پېښې ته په تمه وم، چې برخلیك مې بدل کړي، وېرېدم چې نن بیا لیدا د غم شېبه راباندې رانه ولي او هلن ته مې ونه سپاري. وېرېدم چې راباندې مهربانه نه شي او په خپله غېږ کې مې ونه ساتي !

د تېښتې یوه لار مې سترګو ته ودرېده. یوه اسانه لار چې زه یې له هرې ستونزې خلاصولم، هوسا شوم، ټولو خواشینیو راڅخه لاس واخیست.

ومې ویل:

"که تر درېیو ورځو پورې مې روزګار ستونزه اواره نه کړه، زه به په خپله دغه کار ترسره کوم. یانې ځانوژنه به کوم."

په زړورتیا سره کور ته راغلم، هرې پېښې ته مې تیاری درلود. هغه څوك چې ځان وژلای شي، له څه نه وویرېږي؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ور مې پرانیست، ځکه پوهېدم چې لیدا هر وخت یوازې وي، پر کټ ویده وي، یا هم کتاب لولي. د خوب کوټې ته لاړم، حیران شوم. ته وا دا لومړی ځل دی چې لیدا ګورم. تر اوسه مې په دې جمال، مینه ناکه څېره او ښایست کې نه وه لیدلې. هغه حسینې مجسمې ته ورته وه چې ساه یې هم کښله.

پر کټ پرته وه، کتاب یې له لاسه سینې ته ښویېدلی و. که څوک کوم بت هم دومره ښکلی جوړ کړي. ښايي بتپالان کومه نیوکه ورباندې ونه لري.

دنګ قد یې پر کټ غزېدلی و، پښې یې لاندې راځوړندې وې، زړه مې غوښتل، هغه پښې مچې کړم، خو د دې لپاره چې له خوبه راویښه نه شي، هماغسې پر خپل ځای وچ پاتې شوم. ورو ــ ورو مې ساه کښله.

د وېښتانو طلايي څپې یې د ځراغ په رڼا کې د لمر د وړانګو غوندې ځلېدې، چې د زړه سترګې یې روښولې. تندی یې د سپوږمۍ یوې ټوټې ته ورته و، شونډې یې د سره ګل د ګلپاڼو غوندې وې، شونډې یې رپېدې، داسې ښکارېدل چې زما د ګناهونو حساب کوي او زما سره کومه دعوه لري. په زړه کې مې چغه کړه:

"ته په دې ښکلا او ناز، هر څه چې راباندې کوې، زه ګناهګار یم، ته ما تر ځان ښه پېژنې، که هر عذاب او کړاو راباندې راولې، زه یې منم، هسې نه چې له عذاب څخه مې لاس په سر شې او یوازې مې پرېږدې ...

آه! که ته راسره ونه اوسې، نړۍ به توره شپه غوندې شي، چې هېڅکله به هم سبا ورته رانه شي!

په ژوند کې ستا د نه لیدو تصور نه شم کولای، ستا په تندي کې د غوسې له وربځو څخه وېرېږم. د دې تورې وربځې تر شا د تهمت او درواغو له تور سېلاو څخه زیاته وېره لرم!

دا چې ته دې یوه ورځ په دې کور کې ونه اوسې، له یوې خونې څخه بلې ته لاړه نه شې، زه دې د پښو ښکالو وانه ورم، د هنداړې مخې ته دې کښېننې، سینګار ونه کړې، د عطرو په بوی دې مست نه شم او د جمال په لیدو دې بېواکه نه شم، په دې باب فکر نه شم کولای!! دا څنګه امکان لري چې له تا پرته دې په چکر لاړ شم، څملم، پاڅم او ژوند وکړم!

څومره چې دې زړه غواړي ومې ځوروه، هر درد او کړاو راته اسانه ښکاري، خو ته راڅخه مه ځه، دا نه شم زغملای، چې بل څوک دې ستا تر نرۍ ملا لاسونه راتاو کړي، یا دې په دې شنو سترګو کې بل مین ډوب شي....

زه نه غواړم چې له ما پرته بل څوک درڅخه ښکنځلې واوري او کړاوونه وګالي، ستا ستونزې باید زه یوسم....

زه څه وکړم چې بتپال یم او ستا پالنه کوم. د بل ښکلي په باب تصور هم نه شم کولای، خدای تر تا بل ښکلی نه دی پیدا کړی"...

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شك او دوه زړه توب له منګولو خلاص شوم، د رضايت او تسليم له خوښۍ څخه مې په سينه کې فريادونه اوچت وو، خو د دې لپاره چې ليدا راويښه نه شي او لانجه راسره ونه کړي، هغه د خوشحالۍ حالت خراب نه شي. نو غلی کېناستم او ويده شوم.

خوب مې ليده چې د هلن دوی کره ځم، څنګ ته يې ناست يم او د هغې لاس مې نيولی، غواړم اقرار ورته وکړم... خو نه پوهېږم څه ورته ووايم... رېږدم، ژبه مې په تالو کې وچه وه ...

هلن ناري وهي:

"آه! زه خو وينم چې د ليدا د مينې له زنځير څخه خلاصی نه لرې، ستا د زړه ټولې خبرې اورم. تا چې له ځانه اراده او واك نه درلود، ولې راغلې او زما ويده مينه دې ولې راويښه کړه؟ دا دې څه ظلم راسره وکړ. ايا زما خپګان ستا خپګان کمولای شي؟"...

ويل يې او ژړل يې.

خو ناڅاپه له اسمان څخه د مادلن غږ اوچت شو:

"ای هلن! د عاشقۍ دود، ګيله او سرټکونه نه ده. زړه دې پر ويليام وسوځه، هغه تر موږ زيات بېچاره دی، ځکه د يوې بې اروا مجسمې پرستش کوي، هغه له کاڼي زړه څخه مينه غواړي.

موږ د معشوق پر اروا مينانې يو، خو هغه د معشوق له بې شعوره جسم سره اخته دی. زموږ مينه خو له برياليتوب سره مله ده، ځکه چې اروا بې محبتي او بېوفايي نه کوي، د هغه په سينه کې ناکامي او د وير سندرې پټې دي، ځکه بې اروا جسم يوازې سرښت، بې محبتي او بې هنري لري. زموږ زړه بايد پرې وسوځي"...

چغه مې کړه:

"پر خدای قسم درکوم، ما له بتپرستۍ څخه وژغورئ"...!

په خپل غږ اوچت شوم، د ليدا په پلوي له هلن او مادلن سره په جګړه بوخت شوم.

ويل مې:

"تاسې اشتباه کوئ، د ليدا د وجود هره ذره له مينې او وفا څخه ډکه ده. دومره راسره مينه لري چې تل په سوز او کړاو کې ده. زه که سوځم د هغې د مينې په اور کې سوځم، خدای دې نه کړي چې دغه اور دې غلی شي، که ما ايرې هم کړي، پروا نه لري"....

سبا سهار چې ليدا له خوبه اوچته شوه، زه له مادلن او هلن سره په خبرو- اترو لګيا وم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويل مې:

"تاسې د ليدا په سترګو کې وګورئ، نه يم غلط شوی، وګورئ څومره خوشحاله ده، څومره عاشقانه نظر لري"...

په همدې وخت کې ليدا په زوره وخندل او ويې ويل:

"ته عجيبه ساده يې، ګومان کوې زه دربانديې نه پوهېږم چې د ورځې راڅخه تښتې چېرې ځې؟."

وپوهېدم چې پرون د هلن دوی کره زما له تلو څخه خبره شوې ده. زړه مې په درزېدو شو. خوله مې پرانيستله چې ټولې خبرې ورته وکړم، لمن ته يې ولوېږم او زر واره ترې بخښنه وغواړم، چې بيا به داسې نه کوم....

خو وخت يې رانه کړ، ويې ويل:

"له دې الوتې رنګ څخه دې ښکاري چې زما جاسوسان دروغ نه وايي: ته هره ورځ له هغې سپين سرې څخه ورځې‌ځې‌پانه رانيسې، له هغې نجلۍ څخه سګرېټ او له هغې بلې" ....

غلی وم چې هلن ته ورسېږي، زما د مينانو ټولې نخښې يې وويلې، خو د هلن په اړه يې څه ونه ويل.

يو څه زړور شوم، ومې ويل:

"د دې زړو خبرو له يادولو څخه دې مقصد څه دی؟."

"ـمقصد مې دا دی چې، که ته شريف او سم سړی وای، زموږ خبره به ګدايۍ او سوال ته نه رسېده."

له حيرانۍ سره مې وپوښتل:

"ما خو ډېرې پيسې درکړې، ته بيا هم زموږ ژوند د ګدايۍ ژوند ګڼې؟."

د پوزخند خندا يې وکړه او ويې ويل:

"کومې پيسې! يوه انه هم نه ده پاتې، ټولې مې له تا څخه په يوه لاس واخيستې، په بل لاس مې پوليسو ته ورکړې، چې ستا بېوفايۍ او درغلۍ وڅاري، زموږ له واده څخه درې ورځې نه وې تېرې، زما درته پام و چې يوې او بلې ته دې سترګې نيولې وې. ما هم د پوليسو له دوو ادارو سره پرېکړه ليك لاسليك کړی چې شپه او ورځ تا وڅاري او ما ته خبر راکړي چې ته چيرې ـ چيرې تللی يې، له کومو ښځو سره دې ليدلي او څه دې کړي... تا ته به معلومات وي چې خصوصي پوليس ډېر ګران تماميږي، خو ما بله چاره نه درلوده، ما غوښتل ستا له چلندونو ځان خبر کړم... زه درته وايم چې پرون چېرې وې؟."

لکه ټول بدن چې مې له لرګيو وي، غلی او بېحرکته پاتې وم، ليدا په خپل مټ کې ساعت ته وکتل او ويې ويل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"تر پنځلسو دقيقو پورې د پټو پوليسو ګزارش زموږ د ليکونو په بکس کې لوېږي، زه به بيا خپله درته ووايم چې پرون چېرې وې".

غوښتل مې حقيقت ورته ووايم. خو ومې ليدل، ليدا په داسې حالت کې ده، که زه څه ووايم نو لکه د باروتو پر يوه زېرمتون چې ارو ولګېږي، بيا به شر جوړ کړي.

اوچت شوم، ژر مې ځان تيار کړ چې تر پنځلسو دقيقو پورې له کوره وتښتم. د تلو په هڅه وم چې د کور زنګ ووهل شو. يوه شوم چې صندوق ته ليك واچول شو. په بدن کې مې وينه وچه شوه. ليدا مخکې او زه ورپسې له کوټې ووتو، غوښتل مې ور پرانيزم، پرې يې نه ښودم او ويې ويل:

"ته صبر وکړه چې وګورم پرون چېرې تللی وې."

ليك يې پرانيست او ويې لوست، ناڅاپه يې چغه کړه:

"پرون دې د هلن دوی کره څه کول! دا فاحشه دې له کومه پيدا کړه."!

يو ځل بيا د ګزارش په لوستلو بوخته شوه. په تونديـ سره مې ور پرانيست او کوڅې ته مې ځان ورساوه. غوښتل مې له دې کور څخه د هلن کور ته پناه يوسم او بيا ترې رابهر نه شم. خو پښې مې پر لاره نه تلې، په کوڅه او واټونو کې په يوه غوره تصميم پسې ګرځېدم.

په همدې چورتونو کې وم چې هغه ووژنم، که له هلن څخه لاس واخلم او ځان د ليدا لمن ته واچوم؟ ما ته هېڅ وخت ليدا دومره محبوبه او د مينې وړ نه وه ښکاره شوې، حيران وم چې ولې ژوندی يم او د هغې د پرېښودلو د تصور له کبله ولې نه مرم؟.

ګومان مې کاوه چې ليدا له مرګ څخه ژغورلی يم. ګنې په دې دومره زياتو غمونو کې به مړ وم …

نه پوهېږم څنګه هغې کوڅې ته ورتاو شوم چې زما د ترور کور په کې و، د کور وره ته ورسېدم، دوه درې وارې له هغه کور څخه تېر راتېر شوم. آخر مې زنګ وواهه .

ترور مې راووتله، زه يې دننه بوتلم، تر روغبړ وروسته ووته او ما ته يې يو ګېلاس نشه يي شربت راوړل او ويې ويل:

"زه چې هر څه ووايم ستا به باور نه کېږي، راځه چې يوه پوه سړي ته دې بوځمه، ستا ستونزه به اسانه کړي."

د پسه غوندې په ترور پسې روان شوم. يوه ارواپوه ته يې بوتلم.

لکه ماشوم زده کوونکی چې درس تشريح کوي، د ليدا ارواېي حالت مې ورته څرګند کړ، د هغه هرې پوښتنې ته مې ځواب ورکاوه. کله چې څېړنې پايته ورسېدې، زما ترور ته يې وکتل او په سترګو يې ترې د تلو اجازه وغوښته.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ته يې وويل:

"ستا مېرمن اروايي ناروغه ده، کېدی شي دا حالت يې د لېونتوب حد ته ورسېږي، يانې زيات حسد او بدګومانۍ به يې راښکېله کړي. د اروايي تحليلونو له لارې د دې ناروغۍ درملنه سخته څه چې ناشونې ده، ځکه باور لرم چې هغه ځان ناروغه نه ګڼي او نه غواړي له ډاکټر سره مرسته وکړي، يا يې پوښتنې ځواب کړي. په دې وروستيو کې ډاکټر فريمن ناروغانو ته د سترګې په يوه کونج کې پېچکاري ورلګوي، ښايي په سلو کې شپېته داسې ناروغان روغ شي، خو دا څرګنده نه ده چې ستا ناروغ به دغه کار ته غاړه ږدي او که نه؟ زما په اند اوس خو غوره لار دا ده چې سره بېل شئ، ښايي ستا په نه ليدو سره يې دغه ناروغي کمه شي".

ومې ويل:

"دغه بېلتون بايد څومره وخت ونيسي؟."

"ــدوه يا درې کاله، خو بيا هم وېره په کار ده چې تر دې مودې وروسته بيا سره وګورئ، دغه ناروغي بيا ورمخه نه کړي، که ته د دې مېرمنې له روغتيا سره مينه لرې، نو بايد سره بېل شئ، دا قرباني ورکړه. له بل چا سره واده وکړه، زه ستاسو د ژوند له ځانګړنو خبر شوم، باور لرم که تاسې هغه پرېږدئ، نو له مېچل سره به واده وکړي، ځکه چې د غوسې په وخت کې د هغه نوم په خوله اخلي، څرګنده ده چې د هغه په بېلتون خوابدې ده."

ترور مې په مينه ناك نظر راوکتل، اسوېلی يې وايست او ويې ويل:

"له ناچارۍ څخه زه هم همدغه لارښوونه درته کوم، څه وکړو! مينه خو له قربانۍ او سوز پرته نه شي کېدی، ته او مېچل دواړه زما زامن ياست، ما ته توپير نه لري"...

اوچت شوم او د هغه مينه وژونکې ارواپوه له لاسه مې تندي ته ټك ورکړ او په واټونو کې روان شوم. سر مې دروند و او زنګنونه مې د کمزورۍ له وجې کرېدل، زړه مې پر سينې فشار راوړ، په ستونزو مې ساه کښله، ستونی مې له ژړا ډك و او په زړه کې مې د اوښکو سېل روان و، حيران وم چې خلك ولې راڅخه تېرېږي، خو زما الوتی رنګ، بې نوره سترګې او لړزانده غړي نه ويني او نه پوهېږي چې کوم درد لرم! حيران وم چې ولې نه شم کولای په ذهن کې مې دوه تصوره سره وترم!

يوه پټ لاس، ليدا، هغه تر ورځو روښانه شپې او تر شپو تيارې ورځې، مېچل، اروايي ناروغي، د مادلن بېلتون، مور او زرګونو نور تصورونه د وړو مېخونو غوندې زما پر سر راټك وهل.

د خيال هغه ټوټې او نيم مړی بدن مې د خلکو له سترګو پټاوه، له يوه واټ څخه بل ته ورننوتم، يو خلوت او غلی ځای مې لټاوه، چې له شرمه د خپل زړه ټولې خبرې ځان ته وکړم، وايې ورم او زارۍ وکړم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ځنګله ته ورسېدم. د رود پر غاړه پر یوه اوږده څوکۍ وغزېدم. یو وخت مې پام شو چې له بدن څخه مې اوبه څاڅي، باران و او ما هم ژړل.

تر پښو لاندې مې یوه نرۍ ویاله وبهېده چې اوبو مېږیان او نور واړه موجودات له ځانه سره وړل، هغو خوارانو لاسونه او پښې وهلې، ښايي چغه به یې وهله، خو څه ګټه یې نه درلوده.

لیدل مې چې طبیعت له ما سره هم همداسې کوي. لېونۍ او بېشعوره لیدا د طبیعت لاس دی چې ما نېستۍ ته ورکاږي. زه چې څومره ناري ورته وهم، نه یې اوري. څومره چې زغم وکړم بیا هم نه پوهېږي! ذهن ته مې راغلل: که دغه مېږیان د دغو وړو ډېرو غوندې بېځانه او بې ارزښته شیان وای، اوس به د طبیعت په ظلم او ستم کې نه کړېدل. زما هم ارمان شو چې کاشکې مړ وای....

بیا مې د هرې ستونزې د حل کیلي لاس ته ولوېده، یاد مې شول چې ویلي مې وو:

"که تر درېیو ورځو پورې مې دا ستونزه اواره نه شوه، ځان به وژنم."

خو هغه ورځ مې ستونزه نوره هم درنه شوې وه، له ځان سره مې وویل:

"د تشویش او اندېښنې وړ خبره نه ده، د مرګ په یوه نوك په زرګونو غوټې خلاصېږي"...

دغه ډاډ مې زړه تکیه کړ او هوسا شوم، له ځان سره مې سوچ وکړ، که د لیدا له زندان څخه ناڅاپي وتښتم او هلن ته پناه یوسم؛ خو هغه پناه تر دې زندان راته وېروونکې وبرېښېده. داسې ښکارېدل لکه زه چې زړه او ساه پرېږدم او یوه مړه کالبوت ته پناه ورم!... فکر مې وکړ که په دنیا کې وګرځم او مادلن پیداکړم، پښو ته به یې ولوېږم... خو بیا مې ارمان راغی: هغه وجود ته، چې زړه یې له بل چا سره وي، ولې ستونزې وزېږوم.

چغه مې کړه:

"نه! هېڅکله هم نه! زما لپاره د لیدا وجود ښه پناه ده. د هغې ظلم او ستم په هېڅ قېمت نه پلورم. په دې هکله هېڅ فکر هم نه شم کولای چې زه دې ژوندی واوسم او لیدا دې زما نه وي، د نورو جنت زما زندان دی او د هغوی زندان زما جنت! زما لپاره هوښیاره او لېونۍ یوه ده، زه د هغه موزون اندام او ښکلي صوت پرستش کوم، آیا بتپرستان له خپلو بتانو څخه عقل او شعور غواړي."!

تږوله ورځ له انسان خورو خیالونو، لېونتوب، ناکامۍ، شك، وېرې او لالهاندۍ سره لاس وګرېوان وم، په لوږې، سترړیا او باران نه پوهېدم. تر دې چې بدن مې له حس څخه او مغز مې له فکر څخه پاتې شو. لکه حیوان چې خپل استوګنځي ته ځي، خپل کورته لاړم. د هغې وړې زمرۍ په اړه مې، چې په کور کې راته ناسته وه، هېڅ فکر ونه کړ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیدا په پراخه ټنډه زما هرکلی وکړ، پرته له دې چې زما د نشتوالي یادونه وکړي زه یې د ډوډۍ مېز ته بوتلم. کښېناستو، ومو ویل. ټوکې مو وکړې، وامو ورېدل، خو باور مې نه کېده چې زه دې ویښ واوسم، ګومان مې کاوه ویده یم او د طبیعت زړه رابانديې سوی دی، زما له ازاره یې لاس اخیستی، د لیدا له سره یې غلا کړی عقل بېرته ورکړی دی.

هیله من وم، لیدا مې ټینګه کړه او ومې ویل:

"ایا دا رښتیا ده، تا هغه بدګوماني او بېځایه خیالونه له سره لیرې کړل او وپوهېدې چې زه درسره مینه لرم؟ ته پوه شوې چې زما سترګې تر تا ښکلو ته نه ګوري او نه به وګوري. ایا"...

اوږده او له غوسې ډکه خندا یې وکړه:

"په ټولو وپوهېدمه او اوس مې تصمیم هم نیولی... خو ته به پوهېږې چې زه څه تکل لرم... ډېر ژر به پوه شې.. رښتیا راشه درته ووایم چې ما نن څه_ څه وکړل؟.

د هلن دوی کره لاړم، څومره ښه معصومه نجلۍ ده. هغه مې له اشتباه څخه وایسته، لکه څنګه چې یې، هغسې مې ورووپېژندلې، ستا د یوولسو معشوقو نومونه مې ورکړل، له سګرېټ خرخوونکې څخه نیولې تر هغې ډوډۍ پلورونکې سپین سرې پورې، ټول نومونه مې د پټو پولیسو د لست له مخې ورته ولوستل، دوولسم نوم د هلن و. ورته ومې ویل:

"ای بېچاره نجلۍ! د دې شهواني ناروغ په خبرو مه خطاوځه، هغه دروغجن دی، هغه وحشي حیوان دی، چې تر اوسه یې ډېر کسان داړلي دي، ته هغسې مه کېږه، له منګولو یې وتښته."!

ما ویل، هلن ژړل، زړه مې پرې وسو، ومې لیدل، هغه هم ستا د هغو نورو معشوقو غوندې دربانديې مینه وه. ورته ومې ویل:

"ای ناداني نجلۍ د دې یوه ساعت پر ځای باید ټول عمر وژاړې."

لږه سمه شوه، قول یې راکړ چې نور به تا هېروي، زما څخه یې هم قول واخیست، چې تا به نېکمرغه کوم"...

هغې له هلن سره د کتنې خبرې کولې زه د شرم، درد او ارمان له کبله ویلېدم او پر ځمکه تویېدم، د لیدا له څو شېبو چوپتیا څخه غلط پوه شوی وم... په زړه کې مې چغه کړه:

"ای مرګیه! ومې ژغوره."!

اوچت شوم او ومې ویل:

"غواړم تر خوب مخکې مجلې او ورځپاڼې ولولم."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويې ويل:

"ټول مې پر مېز ایښې دي. زه هم ځم چې ویده شمه، ځکه د کار لپاره باید ښه قوا ولرمه".

د مېز تر شا کښېناستم او یوه_ یوه ورځپاڼه مې اړوله، خو لکه ګردسره چې سواد نه لرم او نه شم کولای څه ولولم.

ګومان مې وکړ دغه ستونزه د حل یوه لاره لري، چې هغه مرګ دی. خو په دې وېرېدم چې، په دې دنیا کې دې ونه اوسم او لیدا دې ونه ګورم، د ځانوژنې فکر مې له سره لیرې کړ او ترې وتښتېدم .

په مجلو کې مې یو کاغذ ولید هغه مې پرانیست. مېچل لیکلي وو:

"زما بدمرغه ویلیامه! ترور دې همدا اوس زما له دفتر څخه ووته، راغلې وه چې ستا د بدمرغۍ او ستونزو یادونه راته وکړي، د ژوند پر ستونزو دې وپوهېدم، زړه مې دربانديې وسو، څه وکړو، روزګار د هر نعمت په پښو کې په سلګونو کړاوونه لیکلي دي. که ته ښکلی نه وای، نه دې شول کولای لیدا راڅخه بېله کړې، څرنګه چې تجربه دې نه درلوده، نو ګومان دې کاوه چې مېرمنې یوازې په ښایست راضي کېږي. په دې نه پوهېدې چې مېرمنې له پیسو او شتو پرته په بل څه نه قانع کېږي.

لیدا ته چې دا لېونتوب پیدا شوی، وجه یې دا ده چې هغه زما څخه د بېلتون له کبله ارمان کوي. ستا دغه بدمرغي هغه انتقام دی چې طبیعت یې زما لپاره له تا څخه اخلي. ځکه ما په دغو دوو کلونو کې زیاته هڅه وکړه، خو په زړه کې مې د لیدا د مینې اور مړ نه شو کړای. تر هغې لس ښکلې نجونې مې ترلاسه کړې، خو یوې هم د هغې ځای ونه نیو، زه له تا څخه کومه ګیله نه لرم، نړۍ د مبارزې ډګر دی، ما له تا څخه الیس واخیسته، تا هم زما څخه لیدا.

د تېرو پېښو یادونه کومه ګټه نه لري. غوره دا ده چې د دغو ستونزو د اوارې لپاره یوه غوره لار ومومو، یانې ستا د ژوند او زما د زړه ستونزې. د هغه اراواپوه او ستا د ترورې د څرګندونو له مخې د لیدا درملنه یوازې دا ده چې درڅخه بېله شي. البته ته د اراواپوه خبره منې، خو ګومان نه کوم چې وکړای شې د بېلتون غم ته اوږه ورکړې، تر هغه وخته چې رښتینی مین ونه اوسې او د معشوق لپاره هر ستونزه او هر درد ومنې.

خو رښتیا ووایم دا خبرې ټولې کتابي دي، رښتینی مین نه شي کولای یوه دقیقه هم له معشوق څخه بېل واوسي، په داسې حال کې باید یو بهرنی لاس له مین سره مرسته وکړي، چې خپله دنده تر سره کړي. اوس هغه بهرنی لاس زه یم چې تا په زوره له لیدا څخه بېلوم. سبا ته ستا د غوښتنې لپاره عرض کوم، څرنګه چې ته نه شې کولای زما پیسې بېرته راکړې، زندان ته به لاړ شې او زه به لیدا خپله کړم. په دې توګه به تا له دغې اندېښنې، لیدا له دې لېونتوب او ځان د ناکامۍ له درد څخه وژغورم.

کله چې لیدا زما شوه؛ تا له زندانه باسم او د زده کړې اسانتیاوې درته برابروم، که رښتیا هم لیدا دربانديې ګرانه ده، لاړښوونه ورته وکړه چې کله ته زندان ته ځې، له ځنډ پرته ځان ما ته راوسپاري ."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د اکا زوی او ستا دوست: مېچل

⊠⊠⊠

د مېچل دلیلونه ښه او منطقي وو. د هغه له غوښتنې سره سم باید زندان ته تللای، خو دوه نور مسئولیتونه مې هم درلودل چې له خپلې وینې پرته مې په بل څه نه شول تر سره کولای، یو د مادلن د ټول عمر هوسایي او بل مې د هلن برى له منځه وړي وو.

هو! غوڅ تصمیم ته د رسېدو او له هغه حالت څخه د خلاصون لپاره، دغو کسانو ته اړ وم، چې خپله غوښتنه راڅخه وکړي، په دې توګه به وکولای شم په ځانوژنې لاس پورې کړم، له دې پرته مې نور څه نه شوای کولای .

لیدا هم وویل چې غواړي کوم لوی کار وکړي؟ هغه لوی کار خو یوازې همدا کېدی شي چې ما پرېږدي او لاړه شي. له لیدا پرته زما بله پناه قبر او مرګ و...

⊠⊠⊠

ته وا مړ یم او د لیدا له شکنجو او زندان څخه ازاد شوی یم، هوسا د خوب کوټې ته لاړم چې ویده شم. لیدا پر کټ ناسته وه او دومره په فکرونو کې ډوبه وه چې زه یې نه لیدم. تندی یې ټینګ نیولی و، مخ یې سور اوښتی و، په څېره کې یې د کرکې، حیرانۍ او وېرې نخښې له ورایه ښکارېدې .

هېڅ مې ونه ویل، وغزېدم. خو نه مې غوښتل ویده شم. غوښتل مې لیدا ویده شي او رااوچت شم د وروستي ځل لپاره مې خپلې سترګې د هغې په جمال خړوبې کړم، هسې هم سبا ته د هغه سیند تر څنګ ځانوژنه کوم. د هغې څېره به مې په سترګو کې ژوندۍ وي.

یو ساعت وروسته اوچت شوم، څراغ مې بل کړ، خو ومې لیدل لیدا هماغسې ناسته وه!

ویې ویل:

"ولې نه ویده کېږې؟."

ومې ویل:

"غواړم تر خوب وړاندې، مخکې له دې چې سترګې مې سره ورشي، ستا صورت او اندام وګورم."

ویې خندل او ویې ویل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ښه راته وګوره، دا به وروستی ځل وي چې ګورې مې، سبا به ستا له دغو ښکلو سترګو څخه بېغمه یم."

د دې پر ځای چې د هغې ننداره وکړم، مخ مې واړاوه او په ژړا شوم، په ژړا کې خوب راغی، خوب مې لیده چې مړ یم او په هغه سیند کې ډوبېږم. لیدا او مېچل د سیند پر غاړه ولاړ دي او زما ننداره کوي.

په همدې خوب کې ډوب وم، چې ناڅاپه وسوځېدم! اور مې واخیست! له ځایه اوچت شوم، څراغ مې بل کړ. خو بل نه شو، په هغه تیاره کې مې چغې کړې:

"لیدا! مرسته راسګره وکړه."!

د لیدا چغې هم اوچتې شوې:

"ای وای! ای وای! آیا ما دا کار وکړ! ما دا جنایت وکړ؟! هوا! هوا! له ما پرته خو په کوټه کې بل څوك نه و. وای"...!

نور مې څه وانهورېدل. کله چې په سد شوم د کومې ښځې نری غږ مې واورېد:

"څه خورې؟."

ومې ویل:

"لیدا، ته لیدا یې؟ غږ دې ولې بدل دی؟."

"ــلیدا نه شته، زه د ډاکټر مرستیاله یم، دا روغتون دی."

"ــزه یې ولې دلته راوستلی یم؟ سترګې مې ولې څه نهویني؟"...!

د څواب پر ځای مې د ژړا او سلګیو اواز واورېد.

ومې ویل:

"ولې څه شوي، راباندې ورحمېږئ، راته ووایاست."

هغه ژړغونې غږ راته وویل:

"ستاسو سترګو ته زیان رسېدلی"...

" ــدرملنه به یې وشي؟."

" ــله بده مرغه ستاسو سترګې لیدل نه شي کولای."!!

چغه مې کړه:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"چا ړوند کړمه؟! اوه وپوهېدم.. لیدا... لیدا.. اوس چېرې ده، ولې مې پوښتنې ته نه ده راغلې؟."

ويې ویل:

"په زندان کې ده."

ناره مې کړه:

"دوی نه پوهېږي چې هغه لېونۍ ده! هر څه چې یې کړي، له ما سره یې کړي، زه یې بخښمه"...

بیا بېسده شوم. کله چې په سد شوم د یوه نارینه غږ مې واورېد چې زما پوښتنه یې کوله.

ويې ویل:

"زه ډاکټر یم. ستاسو پر حال ډېر تاسف راځي، خو زما لارښوونه درته دا ده، چې د دې ډول دردوونکې پېښې په وړاندې زړور واوسئ، خدای چې پر ړندو کوم مسئولیتونه ایښي، هغوی یې په نره، له کوم شکایت پرته ترسره کوي."

ومې ویل:

"زه د خپلې معشوقې په لاس ړوند شوی یم، زه کوم شکایت نه لرم، که زندان ته مې هم بوځئ، زه نه وېرېږم، خو تر هغه وخته چې لیدا په زندان کې ده، له ما څخه زړورتیا او زغم مه غواړئ."

ويې پوښتلم:

"ته ولې باید زندان ته لاړ شې؟."

"ــ د مېچل پور راباندې دی."

"ــمېچل څوك دی او څومره پور یې درباندې دی؟."

ټوله کیسه مې ورته وکړه، خو زما د کیسې لړۍ دومره اوږده شوه چې د ژوند پیل ته مې هم ورسېده، یو وخت مې پام شو چې ډاکټر ته مې د ژوند ټوله کیسه کړې ده.

تر لږې چوپتیا وروسته یې زیاته کړه:

"ایا امکان لري په دې موده کې چې دلته یاست، د خپل برخلیك کیسه بیا تکرار کړئ."

ومې پوښتل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"تاسې غواړئ ما بوخت کړئ چې خپګان راباندې برید ونه کړي، خو تر هغه وخته چې لیدا نه وي ازاده شوې، زه به هوسايي ونه لرم."

سبا ته يې ډاکټر شاغلی... چې ليکوال هم و، له ما سره معرفي کړ، د هغوی په غوښتنه مې د خپل ژوند ټول داستان بيان کړ، هغه ليکوال پر شا وټپولم او ويې ويل:

"خوشحاله واوسه، که څه هم دغه پېښه ستا د بدمرغۍ لامل شوه، خو کولای شي ستا بدمرغۍ کمې کړي، يانې ستاسو مادي ژوند به تر پايه سمبالېږي. زه دا کار کوم، زه ستاسو دغه برخليك ليکم، يو خپرندوی پيدا کوم چې درڅخه رايې نيسي."

بله ورځ د يوه کتابتون مشر راغی او له ما سره يې ژمنه وکړه، چې د هغه کتاب په بدل کې به زياتې پيسې راکوي او تر ټولو وړاندې به د مېچل پور چې د هغو پيسو په وړاندې ډېرې لږې شکارېدې، ورسپاري. د ليکوال او ډاکټر په لارښوونه مو وپتېيله چې د ليدا په محاکمه کې هم له هغو پيسو څخه کار واخلو.

☒☒☒

دا ده د ليدا د محاکمې پايله:

د ليدا مدافع وکيل ما ته راغی او هيله يې وکړه چې د ليدا په پلوي خبرې وکړم. کله چې پوه شو، حاضر يم د ليدا لپاره خپلې سترګې او ځان قربان کړم، خوښ شو، مننه يې وکړه او ويې ويل:

"ستاسو په مرسته دا ښځه ژغورل کېږي، ځکه د هغه عمل په وخت کې يې مغزو ټکان خوړلی و او د لېونتوب له حالته راوتلې ده، تاسې په محکمه کې ټولې پېښې ووایاست، همدا بس دي."

د محاکمې په ورځ يې چې محکمې ته بوتلم، نه پوهېدم چې کومې خوا ته وګورم، ليدا چيرې پيدا کړم، خو د هغې غږ مې واورېد، چې ويل يې:

"وای، وی خدايه."!

له هرې خوا څخه د ژړا او سلګيو اوازونه اوچت شول، ما هم اوښکې تويولې. د ليدا مدافع وکيل د ليدا اروايي ناروغۍ ته په اشارې سره دليلونه راوړل او ويې ويل:

"د دې خبرې د ثبوت لپاره د هغې د مېړه دعوه واورئ."

زه اوچت شوم، خو چوپ پاتې شوم، مدافع وکيل ووېل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"پوهېږم چې په کوم شك کې ګير يې، تاسې نه غواړئ چې د نورو خلکو په وړاندې د خپلې مېرمنې د ظلم او لېونتوب يادونه وکړئ، خو که د هغې له خلاصون سره مينه لرئ، بايد دا ستونزه وګالئ."!

بله چاره نه وه، د ليدا د بدګومانيو او بېځايه خيالونو په اړه مې څرګندونې وکړې، هغه دردوونکې صحنې مې هم بيان کړې چې ليدا به جوړولې. ليدا به زما د خبرو په منځ_ منځ کې ژړل:

"اې خدايه! دا زه ومه چې دومره جنايتونه مې کول!... ما دا کړاوونه درباندې تېل!... زما ګران ويليامه! ته پرښته يې... زه يوه بېرحمه بلا يمه"...

کله چې د هغې شپه کيسه خلاصه شوه، ليدا چغه کړه او بېسده ولوېده.

واك مې له ګوتو ووت، چغه مې کړه:

"اې ښاغلو! اې قضاوت او انصاف کوونکو ، زما د سترګو د جبران لپاره، چې روزګار راڅخه اخيستي، زما ليدا خوشې کړئ؛ که زما ژوند پايته ورسېد، پرېږدئ هغه خپل ژوند له سره پيل کړي. زه نه غواړم چې د زندان په کونج کې داسې ښکلی ګل مړاوی شي"...

کله چې يې ليدا په سد کړه. مدافع وکيل وويل:

"اوس د ليدا له مور څخه هيله کوم، د خپلې لور د ژغورنې لپاره، له شرم او پردې پرته، خپل کورني رازونه، هومره چې د ليدا په روزنې او ژوند پورې اړه لري ووايي، چې دلته ناست ښاغلي او آغلې وپوهېږي د دې لېونتوب وجه څه وه؟."!

د ليدا مور په ژړغوني غږ وويل:

"د دغو ټولو بدمرغيو وجه زه يمه، زه بايد ړنده شمه، ما بايد زندان ته واچوئ، نه پوهېږمه په ازل کې مې کومه ګناه کړې وه چې پاك خدای (ﷻ)ښکلا، چې د ټولو هيله ده، راوبخښله.

زه خپله مور نه ملامتومه، ټولې ګناوې مې منمه، د خپلې مور د روزنې په اړه هم څه نه وايمه. د ماشومتوب له وخته، هغه مهال چې يادېږي مې، د نورو د هڅونې او ستاينې له کبله مې خپل ښايست ته زيات پام و، نورو نعمتونو او صفاتو ته مې هېڅ توجه نه وه. ګومان مې کاوه د ښکلا په لرلو سره ټول نعمتونه زما دي، روزنې او نورو ځانګړنو ته ګردسره اړتيا نه لرمه! ګومان مې کاوه خپلوان او دوستان مې چې هر ځای ووينې، بايد زما تر ښکلا قربان شي. راسره مينه وکړي او زما هره خبره ومني، دنيا دې زما د ښکلا لپاره زما هره غوښتنه او هيله پوره کړي. زما تمه وه چې په راتلونکي کې به د دنيا تر ټولو ښکلی، زړور او شتمن ځوان زما پرستش ته راوړاندې شي او زه به هم په ټولو کې ښکلی ځوان د خپل خدمت لپاره ټاکمه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هوس له مخې مې زياتې مرکې او دوستان ځواب کړل. آخر مې البرت خوښ شو، که رښتيا ووايم بيا مې هم ځان هوسا نه ګاڼه، بلکې پښېمانه ومه، ځکه ګومان مې کاوه، دی پر ټولو ښېګڼو سربېره زما لپاره وړ مېړه نه دی.

دغه نه رضايت او پښېماني، زما د خاوند په وړاندې زما د بد چلند لامل شوه. کله چې عملي ژوند ته ننوتلمه، له خاوند څخه مې چې څه تمې درلودې، يوه هم پوره نه شوه. حيرانه شوم چې البرت ولې راته دندې ټاکي چې زه بايد هغه يا دغه کار وکړم! ولې د لومړيو ورځو غوندې زما هره خبره نه مني!

د نورو په سترګو مې ځان خوار ليده، ليدل مې چې تر البرت ډېر ښکلي شته، زما د ښکلا په قدر پوهېږي او غوړه مالي راته کوي، ژمنې راسره کوي، دوی د البرت غوندې نه دي چې ما ته دندې وټاکي، بلکې زما څخه بوازې زما ښکلا غواړي.

ما ته له مور څخه عفت په ميراث راپاتې دی، له هغې څخه مې زده کړي وو، هېڅکله مې هم ناوړو فکرونو ته په ذهن کې ځای نه و ورکړی. بيا هم البرت راته د زړه له کومې زيات ګران و.

زه بې تجربې او ناپوهه ومه، ګومان مې کاوه چې خاوند مې د نورو غوندې زما د ښکلا قدر نه کوي او زړه يې له بل چا سره تړلی دی. هره ورځ به ترې ناراضه ومه، خو بيا به هم د هرې ورځې په تېرېدو سره پرې مينېدمه. که له هر چا سره به يې خبرې کولې، يا به ورسره نڅېده، نو ګومان مې کاوه چې مقابل لوری زما رقيب دی، ځرنګه چې زما خاوند د تشخيص شعور نه لري، نو د هغه ښکلي رقيب له لاسه به زياته ځورېدمه.

د دې لپاره چې ځرګنده کړم ايا البرت رښتيا راسره مينه لري او که نه بل څوك ورباندې ګرانه ده، نو هره ورځ به مې ترې نوې_ نوې غوښتنه کوله، نوې نيوکه به مې پرې کوله، بد چلند به مې ورسره کاوه، چې وګورم، څومره زغم لري. حال دا چې د خاوند بېزاره کولو لپاره دغه وسيله زيات اغېز لري، دومره به مې پر خپل دې ناوړه چلند ټينګار کاوه، چې خوارکی البرت به زما له کوره بېزاره شو.

څومره چې يې کولای شول له کوره به يې بهر وخت تېراوه او ناوخته به راته، زه يوازې د خپل زړه په غوښتنو او ښکلا باندې بوخته وم، البرت راڅخه هېر و، ځکه ما ګومان کاوه چې هغه له بل چا سره په مينه اخته دی .

قهر، ګيله، شخړه او لانجه پيل شوه. د خپلې ښکلاپالنې، ناپوهۍ او غرور له کبله مې البرت دومره وځوراوه چې زه به يې پرېښودم او نورو ځايونو ته به يې سفرونه کول، آن يو ځل خو يې يو سفر څلور کاله وځنډېد. په هغه بېلتون او يوازېتوب کې مې يوازېنۍ همرازه ليدا وه، څه چې به مې په زړه وو، ليدا ته به مې ويل، خو دې ته مې پام نه و چې د هغې اروا او فکرونه په کومو زهرو لړم .

اټکل مې کاوه ليدا به په ښکلا کې تر ما مخکې وي، خو ګومان مې کاوه که په ماشومتوب کې يې د ښکلا په قدر وپوهومه، نو زما غوندې به يې خاوند له قدره بې خبره نه وي پاتې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره په خپل جمال خوشحاله ومه، چې په ظاهره به مې ليدا ته نصيحت کاوه، خو په حقيقت کې به مې د هغې په ذهن کې د بدګومانۍ، کينې، ناپوهۍ او حسادت زهر ورپېچکاري کول، ويل به مې:

"وپوهېږه، ټول نارينه بې شعوره دي، ښکلا او بدرنګي نه پېژني، نارينه که هر څومره توانېږي ځانونه ګران پلوري، تا ته بايد ډېر ځوانان راشي او بېرته لاړ شي، ته بايد په هغوی کې داسې کس وټاکې چې ستا د ښکلا قدر ورمعلوم وي.

دغې د زړه خوالې، له ځانپالنې او بې عقلۍ څخه سرچينه اخيسته، دغو خبرو د ليدا په ذهن کې ځای نيوه. کله_ کله به ما ته راتله او ويل به يې:

"مورجانې! وېرېږم چې زما د خوښې ځوان هم زما د ښکلا په قدر ونه پوهېږي، تر ما يوه بله بدرنګه غوره ونه ګڼي او راڅخه لاړ نه شي، بيا به څه کوم"...!

يوه شپه له خوبه اوچته شوه، چغه يې کړه:

"مورې! هغه ځوان چې ما خوښ کړی، يوه بدرنګه يې تر ما ښه وګڼله، مه پرېږده مېړه مې هغې ته ګوري، يوه توره پرده يې په سترګو واچوه... ړوند يې کړه"..

زه په ځانغوښتنې او لېونتوب اخته ومه، زه بايد د خپلې لور په خوب پوهېدای، چې هغه په يوه ډول لېونتوب اخته ده، همدغه بد فکر به يې بدمرغۍ ته ورکاږي. که زه لېونۍ نه وای، د خپلې ګرانې لور زړه او ذهن به مې په هغو خطرناکو او زيانرسوونکو خبرو نه زهرجن کولای، سالم فکر به مې ورکاوه. ما بايد ورته ويلای، تا چې څه خبرې اورېدلي، ټولې د ځانغوښتنې او پر ښکلا باندې د غرور او ناپوهۍ څرګندويي کوي، ټولې هېرې کړه او غوږ شه:

که له ښکلا سره مهرباني، نرم چلند او خوږه ژبه ملګرې نه وي، هغه انځور ته ورته ده، چې معنويت په کې لږ وي.

که ښکلی انسان ځانته متوجه وي او خپل ښايست يې هېر نه شي، پر خپل ښايست بيه کښېږدي، دا ځانپلورنه ده چې نن يا سبا يې بازار ماتېږي، که څوك ځانښود، ځانپاله، مغرور او بدګومانه وي، هغه ښکلی مار يا بل ځناور دی، چې پنجې اوغاښونه يې د زړونو په وينو لړلي دي، څومره وينې چې يې تويې کړې، هغه دغه وينه د روزګار له سترګو او زړه څخه بهوي...!

ما بايد ورته څرګندولای چې د نېکمرغۍ اصلي لامل مينه، ښه چلند او عقل دی، چې دغه شيان ښکلا زياتوي، خو که ښکلا د کور د خرابوالي لامل شي، بايد ليرې وغورځول شي.

هغه مور چې د خپل غرور او ناپوهۍ له کبله يې خپل کور وران کړی، پرته له دې چې د خپل اولاد ورځ په غم ولړي، بل څه نه شي کولای.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما بدمرغه ليدا، زموږ کره د غوسو، لانجو کرکو او بدبينيو شاهده ده، له ما څخه يې له ځان ستاينې او بدګومانۍ پرته بل درس نه دی زده کړی... په خدای هغه هېڅ ګناه نه لري، د خلکو ګناهونه بايد د هغوی په مشرانو پسې وليکل شي. که ما خپل ماشوم ته د مينې، ادب، ښه خوی او قربانۍ درس ورکولای، د دې پر ځای چې يوه بېشعوره نانځکه ترې جوړه کړمه، د فکر او زړه خاوند انسان غوندې به مې روزلای، د هغې په لاس مې څو کسان بدمرغه کړل.... هو! د دغو بدمرغيو اصلي لامل زه يمه. ما بايد زندان ته واچوئ...

ای ميندو! زما له بدمرغۍ څخه پند واخلئ. خپل ماشومان نېکمرغئ ته چمتو کړئ" ...

▯▯▯

د ليدا د دفاع وار راورسېد. په کمزوري او ژړغوني غږ يې وويل:

"ما بايد ابدي زندان ته واچوئ، بايد په دار مې وځړوئ. زما ګناه د بخښلو وړ نه ده، که ازاده مې کړئ زه خپل ځان وژنمه... يا دې ويليام ما د خپلې مزدورۍ په توګه ومنې، چې د خپل جنايت سزا ووينمه، په دې توګه به د خجالت، شرم او حسرت په اور کې وسوځمه"....

▯▯▯

زه اوچت شوم:

"ښاغلو او آغلو! ای هغو خلکو چې د ټولنې مشري کوئ او د زړو دردونه کراروئ! دا خو روزګار زما سترګې تيارې کړې، تاسې زما ليدا ما ته راکړئ او زما د زړه څراغ بل کړئ"...

▯▯▯

ګران لوستونکيه !

ليدا ازاده شوه، په ژړا او خوښۍ سره يې د ويليام لاس ونيو او خپل کور ته لاړل.

▯▯▯

دا و د ليدا د حال بيان:

اوس له ما څخه غواړئ چې د ځان په اړه درته څه وليکم. زه قلم نه لرم او ليکوال نه يم. که وای، که مې کولای شول د اروا په تياره کې د فکرونو وېروونکي صورت تاسو ته څرګند کړم. يا هم د حيرانۍ، پښېمانۍ او غم له کبله دغه سوز تاسو ته شرحه کړم، اوس به لاس په کار شوی وای.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور مې زما د لېونتوب علت ووايه، زه به څه ووايم. هغه نجلۍ چې د ځان پرستش وکړي، هغه وجود چې د ځان معبود وي، خامخا له نورو څخه هم غواړي چې پرستش يې وکړي. زما له ماشومتوبه همدا کار و چې وګورم نن ښکلې يم که پرون ښکلې ومه؟

دا جامې راسره ښې ښکاري که نورې، آيا کومې سترګې دغه ښېګڼې ويني، ايا کوم زړه په حسادت کې سوځي؟.

پر شعر او موسيقۍ مينه ومه، خو له ساز او اواز څخه به مې د خپل جمال ستاينه او د خپلو مينانو هيلې اورېدې، باور مې درلود، هغه ځوک چې پر ما مينېږي، د شعر او موسيقۍ په همدې ژبه به له ما څخه د واده هيله کوي. خو؛ له بده مرغه ليدل مې چې يو ځوان هم دغه ډول زوروره او مينه ناکه ژبه نه لري!

که کوم کتاب به مې لوست، نو ځان به مې د هغې مېرمنې پر ځای احساساوه چې بېوفايي ورسره شوې وي، يا له بلې وجې له خپل خاوند څخه ځورېدلې وي. ما ته د راتلونکي په اړه پر سترګو تورې پردې درېدې.

زما د مور دا نصيحتونه به مې په ذهن کې ګرځېدل:

"ټول نارينه بې شعوره دي، د ښکلا او بدرنګۍ توپير نه شي کولای"...

دغو خبرو د يوې سوزناکې سيمفوني غوندې ، چې پر يوه داستان څرخي، کله مستي زېږوي، کله شور، زما فکر پر خپلې ښکلا راګرځاوه. يوه شېبه به پر خپل ښايست، يوه ورځ به له خپلې ناکامۍ او کله به د خپلو ناڅرګندو رقيبانو له لاسه په جګړه او انديښنه کې ومه.

لکه يو ځاځکی ترخه چې ډېر خواږه ترخوي، د ناکامۍ له وېرې مې ټولو ښکلاګانو او خوښيو، بدبينۍ او وحشت ته ځای تش کړ، د مور غوندې مې له نارينه وو څخه وېرېدمه، خو بيا هم لکه يوه مرغۍ چې د افعي مار په خوله کې وي، له ناچارۍ مې د هغو په لومه کې ځان بنداوه، خو نه پوهېدمه چې ولې؟! زړه مې غوښتل له لويو خطرونو سره مخ شمه، د نارينه وو د بېوفايۍ او خيانت خوند وڅکم او له هغو سره په جګړه اخته شمه.

دوه درې واره مې کوژده وکړه، خو ټول مې د خپلې شکمنې اروا په مرسته وازمويل، زما ازموينه دا وه چې د هغوی د بېوفايۍ دليل پيدا کړم، ويې ځورومه چې راڅخه ونه تښتي.

کاشکې ويليام هم زما د لېونتوب له لومې څخه تښتېدلای، خو تقدير نه غوښتل، هغه بايد زما څخه د ژغورنې لپاره خپلې دواړې سترګې بايللای! کاشکې دغه پېښه سرچپه کېدای او ما خپلې سترګې له لاسه ورکولای...

له ميچل سره مې د کوژدې درې مياشتې تېرې شوې وې، خو مور مې راباندې ټينګار کاوه چې بايد له کوم شتمن کس سره واده وکړمه، خو ما ته مېچل بېوفا ښکارېده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه شپه چې مې ویلیام "د اروا جشن" نومي محفل کې ولید، نو باوري شوم چې دی تر مېچل زیات بېوفا او هوسناك دی، که نور ښکلي په مېچل پسې روانېدل، ویلیام په خپلې ښکلا او حُسن سره نور په ځان پسې راکښل. نو زه ولې مېچل ته ورتسلیم شوم؟ ولې! ویلیام څه ګناه کړې وه، چې زه یې باید په یوه دیدن کې وټاکم؟ یانې د خپل وجود زنځیر د هغه په غاړه کې واچوم او دومره یې بدمرغه کړم!!

اوس وپوهېدم، د جمال نعمت هغه ګناه ده چې سل ګناهونه ورسره تړلي دي.

هو! د ویلیام ګناه ښکلا وه... داسې قد، اندام او صورت یې درلود چې ما یې په خوب او خیال کې هیله کوله. مخکې له دې چې دی راسره د واده تړون وکړي، زه یې ډېره لېواله او مینه واله ومه، کله چې مو واده سره وکړ، نو ما داسې ګومان کاوه دی چې څومره ښکلی دی، هومره بېوفا هم دی، ما داسې انګېرل چې زه نه شم کولای له لاسه یې ورکړم.

ای خدایه! ما څه ګناه کړې وه چې د ښکلا انتقام مې له ویلیام څخه واخیست! هو! زما ګناه هم ښکلا ده... ما هم له ویلیام څخه د غچ اخیستلو لپاره ملا وتړله، خو هغه پر ما بریالی شو: که هغه بهرنۍ نړۍ تیاره ویني، زه د خپل تیاره زړه په ګوټ کې د پښېمانۍ او شرم له کبله وینې ژاړم.

هغه پاك، مظلوم او محبوب دی، خو زه ظالمه او ناوړه. هغه به د ټول عمر لپاره پر ما باندې حکومت او پاچایي کوي او زه به د شرم او ټیټوالي له کبله ټول عمر د هغه غلامه یمه. زه یې تر بلې هرې ورځې ښکلی وینم، خو هغه مې نه ویني، زما ښکلا به بېځایه ختمېږي.

مورې د مینې ازموینه ورکړه، څرګنده شوه چې زه بلا یمه، خو هغه پرښته. له مینې پرته بل داسې محك او ازموینه نه شته چې انساني خوی او فطرت دې څرګند کړي. هغه څوك چې د پرښتې خوی او جوهر لري، د مینې له بټۍ څخه پاك او روڼ راوځي، خو هغه څوك چې د دېو او بلا خصلت لري، حسود، بدګومانه، بدغوښتونکی او دېو ډوله کېږي.

اوه ما سم ونه ویل، ځکه که دېو هم د پرښتې په کچه له چا سره مینه وکړه، د دېوتوب خویونه پرېږدي، زه مینه نه ومه، زه ځانپرسته ومه او غوښتل مې چې خپل جمال د بل د جمال په بدل کې وپلورمه. غوښتل مې چې یو بل وجود د ځان د امر تابع کړم.

ما د هغه پر ښکلا، مهربانۍ، ښه خوی او سخاوت بسنه ونه کړه، ځکه ګومان مې کاوه چې زما د ښکلا په قدر پوهېږي، ما آن نه غوښتل چې سترګې یې بل چا ته واوړي.!!

که مینه، مورې د نېکۍ، عدل او انصاف جنت ته بیایي، شهوت او ځانپالنه مو لېونتوب، ستم او بدمرغۍ ته هڅوي.

زما مور په محکمه کې زما په اړه وویل چې زما په وجود کې یې د ځانپالنې څومره تخم کرلی دی. هغه تخم راشین شو او زه یې لېونۍ کړمه. که څه هم د بېوفایۍ او خیانت په نخښو پوهېدم، خو بیا به مې هم په وړه او نه خبره بدبینۍ، بدګومانۍ او شخړو ته لاس اچاوه...

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوب او خیالونه مې سره ګډ وو، په خوب او ویښتوب کې مې داسې ګومان کاوه چې ما ته یې طلاق راکړی او یوه سپین سرې یې خوښه کړې ده! ډېر ځل به له خوبه پاڅېدمه. کله به مې چې لیده په خپل کټ کې یوازې دی، بیا به مې هم باور نه راته، سترګې به مې بندې کړې او هغه سپین سرې به مې په ذهن کې انځوروله او د ځان پر ځای به مې احساسوله، ټول بدن به مې د حسرت او درد په منګولو کې ذرې_ ذرې شو. زړه مې غوښتل ځومره چې کولای شم، بېوفا او ګناهګار یې وګڼم او زیات یې وځوروم.

خو یوه شکنجه مې هم د هغه لپاره وړ نه ګڼله، هڅه مې کوله د ځورونې او کړاو یوه نوې وسیله ورته ولټومه. خو یوه مرموز نصیحت کوونکي مې په ذهن کې ویل:

"که په سترګو یې یوه توره پرده وغوړوې، د دومره رقیبانو له شره به خلاصه شې"...

د دې شیطاني خیال له کبله مې مخ په لاسونو پټاوه او چغه به مې کړه، لکه یو لوی- وېروونکی مار چې مې په غاړه کې تاو شوی وي او وایي: زه هغه رقیب یم، چې ویلیام به درڅخه اخلم، ته نه یې خبره چې هغه اوس تر ښکلو بدرنګې خوښوي او زما سره زیاته مینه لري! دا ګناه د هغه د سترګو ده چې ما ښکلیویني، دغه سترګې تیارې کړه چې توري بدرنګې ووینې...

هر فکر او بوختیا ته به مې چې پناه وړله، هغه مار به مې په غاړه کې تاو شو او ستونی به مې د کینې او ژړا په وجه ډک و، څو ځلې مې د ځانوژنې تکل هم وکړ، یا به مې غوښتل سفر وکړم، خو د بېلتون توان به مې نه درلود...

زه نه شم کولای هغه وېروونکې او هولناکه شپه تاسو ته انځور کړم... اوښکې تویومه... رېږدمه... قلم مې له ګوتو ولوېد...

کله چې مې هغه شپه، هغه منظره ولیده، لکه په خوب کې چې مې له کوم لوړ ځای څخه ځان راغورځولی وي، راویښه شومه.

پر خپل لېونتوب او ناوړه کار باندې پوهه شومه، ژر مې روغتون خبر کړ او ځان مې پولیسو ته وسپاره. نور نو تاسې هم پوهېږئ چې څه وشول...

☒☒☒

ای پرښته صفتې مادلن! ای ناکامې هلن! محکمې بېځایه ازاده کړمه. راشئ او له ما څخه غچ واخلئ، زما ګناه د بخښنې وړ نه ده، دا چې ژوندۍ یمه او له خپلو جنایتونو سره مخامخ یمه، هره ورځ به زر واره د شرم او پښېمانۍ له کبله مړه شمه، تر دې بله لویه ګناه شته؟ راشئ زه مو د زړه له کومې هرکلی کوم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړنی دوبی مو په "دماوند" نومي ښار کې تېر کړ، بڼ مو ډېر لوی و، اوچت ډېرين دېوالونه يې لره.

هره ورځ به د ليکنې په پلمه د مېز شا ته کښېناستم، کاغذ او قلم به مې راوړ، خو؛ له مخامخ کړکۍ څخه چې د سهېل (جنوب) خوا ته خلاصېږي د ساز او اواز زمزمه، له کومې ترې خندا، د ماشومانو له شور ماشور سره مل زما زړه وي.

کله به د شمال خوا ته له پرانيستل کېدونکې کړکۍ څخه د پېغلو او زلميانو چغې اورېدل کېدې، دوی به د سمندر او مازيګرني لمر سيل ته راتلل. دغو چغو او شور ماشور به زرګونو فکرونه رااچول کله به مې ليدل چې په دې شور ماشور او غالمغال کې کار نه شم کولای، نو د ختيځ د خوا کړکۍ به مې پرانيستله، چې له هغو اوازونو سره د چوغکو چغارې هم يو ځای کړم او په هغه موسيقي کې ډوبه شم.

پر هغو سازونو، شور ماشور، چغو او خبرو اترو ډېره لږه پوهېدمه. خو د چوغکو په غالمغال او چغارو هېڅ نه پوهېدمه. نه پوهېږمه دوی ولې له يو بل څخه تښتي، يا کله سره يو ځای راټولېږي.

ايا دوی کوم سياسي بحث لري او يا د خپلو شخصي غرضونو له مخې له يو بل سره جګړه کوي، موږ ولې د هغوی په ژبه او رمزونو نه پوهېږو؟ ايا دا ښه نه ده چې موږ ته د ټېټې مرحلې موجوداتو هر څه څرګند وي؟ خو نه! ماشوم د مشر د زړه په حال نه پوهېږي، نو مشر د ماشوم په حال خبر دی؟

کله چې به مازيګر شو، له شمالي بڼ څخه به ځوانان او له جنوبي بڼ څخه به سازغږوونکي راتلل، د ودانۍ په وړاندې به د حوض پر غاړه کښېناستل او هنګامه به يې جوړوله، سره ويل به يې، خندل به يې، زيات وخت به يې تر توندو خبرو- اترو وروسته له ما هيله کوله چې روغه يې وکړم. په هغو ځوانانو او پېغلو کې به ناصر او مينه زيات سره ورانېدل او شخړه به يې کوله، ناصر هوښيار او بااستعداده هنرمند دی، چې د هنرپوهنې په برخه کې به د هېواد وياړ وګرځي، مينه هم يوه هنرپوهه نجلۍ ده چې د هنر په باريکيو ښه پوهېږي. له ما سره يې زياته مرسته کړې ده.

هنرپوهنه تر هنرمندۍ کمه نه ده. ښايي هنرمند هنرپوه ته زياته اړتيا ولري، په دې شرط چې هنرمند وي.

نړۍ، طبيعت، ځمکه او اسمان له هنر څخه ډك دی. خو هلته چې هنر نه شته، څوك د هنرمند په کيسه کې نه وي.

خو زما پر روغې سربېره ناصر او مينه نه سره جوړېږي. تل زما قضاوت ناسم ګڼي او راڅخه خوابدي کېږي. بيا نو هغه نظر، چې د راڼه لمر غونډې ټول قانع کړي چېرې دی؟!

يوه ورځ چې موږ ټول چينې ته روان وو، لومړی بايد له يوې لويې ويالې څخه اوښتي وای، له ويالې څخه په اوښتلو کې به مشرانو له کشرانو سره مرسته کوله، ناصر د مينې لاس ونيو او دواړه واوښتل...

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



درې ورځې وروسته د ناصر مور و پلار ما ته راغلل، زما د خاله د لور (مينې) مرکې ته راغلي وو، زما يادېږي، هغه ورځ چې ناصر د مينې لاس ونيو او له ويالې څخه اوښتل، يو دوې ثانيې يې لاس د هغه په لاس کې پاتې شو...

هغوی په مرکه اخته وو، خو زه په دې فکر کې ومه، چې نه زه يوازې د چوغکو (مرغيو) په ژبه نه پوهېږمه، بلکې د ځوانانو او پېغلو په ژبه هم نه پوهېگږمه او نه ومه خبره چې هغو اختلافونو او لانجو څه مانا درلوده...!

زړه مې غوښتل چې يو داستان وليکم، دغه زلمي او پېغلې (ناصر او مينې) ته يې ډالۍ کړم، دغه دی دغه کتاب مې وليکه او هيله لرم چې د لوستونکو لپاره يو عبرتناك درس او د کورنيو په نېکمرغۍ، همدغه راز د ټولنې په سعادت کې مرسته وکړي.

په مينه

د ژباړې نېټه

1382/2/8ل. کال- کابل، خيرخانه مېنه

توره ورځ

پای

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**